سرليکونه

لومړی لوست: په کايناتو کې د الله ﷻ د وجود او وحدانيت دلايل(۱)..... ۱
دوېم لوست: په کايناتو کې د الله ﷻ د وجود او وحدانيت دلايل (۲)..... ۵
دريم لوست: په قرآن کريم کې د انسان د پيدايښت پراوونه ۱۰
څلورم لوست: د بني آدم وقار او درنښت ۱۶
پنځم لوست: آية‌الكرسي د قرآن لوړه څوکه ۲۱
شپږم لوست: ځمکه د انسان د ګټې لپاره ۲۶
اووم لوست: الله تعالى سره مينه د پېغمبر ﷺ په پيروۍ کې ده ۳۰
اتم لوست: اسلام بشپړ او هراړخيز دين دی..... ۳۵
نهم لوست: لمونځ تل پاتې اونه شلېدونکې فريضه ده..... ۴۰
لسم لوست: د ظلم د مخنيوي لپاره د جهاد اجازه..... ۴۵
يوولسم لوست: روژه او ګټې يې ۴۹
دولسم لوست: حج د مؤمنانو د نړيوال يووالي څرګندوی..... ۵۷
ديارلسم لوست: له خلکو سره نېکي او ښېګڼه ۶۲
څوارلسم لوست: حلاله روزي خوړل او له حرامو ډډه کول ۶۵
پنځلسم لوست: د الله ﷻ په لار کې انفاق (مال لګول)..... ۶۸
شپاړسم لوست: په قرآن کريم کې انساني مساوات ۷۳
اوولسم لوست: د الله ﷻ د خاصو بندګانو صفتونه..... ۷۷
اتلسم لوست: د ټولنې په تهذيب کې د مؤمنانو ونډه..... ۸۲
نولسم لوست: په اسلام کې د معيوبو اوفقيرو مؤمنانو مرتبه ۸۷
شلم لوست: د مؤمنانو يووالی ۹۲

لومړی لوست

په کايناتو کې د الله ﷻ د وجود او وحدانيت دلايل

قال الله تعالى: ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ [البقرة: ١٦٤]

د ځينو کلمو معناوې

خَلق: پرته له مخکينۍ نمونې نه د يو شي پيدا کول.

السَّمَاوَاتِ: د سماء جمع ده، اسمانونه اوهرهغه څه چې له ځمکې نه لوړ وي.

اللَّيْلِ: شپه، هغه تياره چې وروسته له روښنايي منځته راځي.

النَّهَارِ: ورځ، خوره روښنايي.

الْفُلْكِ: کښتی، لويې کښتی.

وَبَثَّ: او خواره يې کړل.

دَابَّةٍ: دځمکې پرمخ هر خوځيدونکی شی.

تَصْرِيفِ الرِّيَاحِ: د باد لګيدنه مختلفو اړخونوته.

السَّحَابِ: وريځ، په فضا کې حرکت کوونکې وريځ.

الْمُسَخَّرِ: په خدمت کې لګيدلی، تابع شوی.

ژباړه

بېشکه د اسمانونو او ځمکې په پيدابښت کې، د شپې او ورځې په تګ راتګ کې، په هغې کښتۍ کې چې د خلکو د ګټې لپاره په دريابونو کې ګرځي او په اوبو (باران) کې چې الله ﷻ له اسمانه را نازلې کړې دې او بيا يې ځمکه وروسته دهغې له مرګ نه په اوبو راژوندۍ (خړوبه) کړه او په هغې (ځمکه) کې يې هرډول ژوندي خوځيدونکي خواره کړل او (هر لوري ته) د بادونو په چلېدو کې او په وريځو کې چې د ځمکې او اسمان ترمنځ اېل کړای شوي دي، يقيناً په دې(ټولو) کې د عاقلانو لپاره(دالله تعالى پر وجود او وحدانيت) څرګند دلايل شته.

تفسير

پورتني مبارک آيت په کايناتو او د نړۍ په موجوداتو کې اته څرګند او روښانه دلايل بيان کړي دي، چې د الله ﷻ په وجود او يووالي دلالت کوي.

۱. د اسمانونو پيدايښت

دغه مبارک آيت د اسمانونو پيدايښت د الله ﷻ د قدرت له نښو نښانو څخه ګڼي چې هوښياران او د عقل خاوندان ددې نښو په ليدو بايد د الله ﷻ په وجود او يووالي ايمان راوړي.

په آيت کې د (السماوات) لفظ جمع ذکرشوی دی، ځکه اسمانونه ګڼې او بېلابېلې طبقې لري، لکه: څرنګه چې الله تعالى په بل ځای کې داسې مهرباني کوي﴿الله الذي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ﴾ [الطلاق:۱۲] **ژباړه:** الله ﷻ هغه ذات دی چې اووه اسمانونه يې پيدا کړي دي.

دا چې د اسمانونو پيدايښت د الله ﷻ په وجود، يو والي او قدرت دلالت کوي يوه نښه يې دا ده چې الله ﷻ اسمانونه سره له دومره پراخوالي او لويوالي پرته له ستنو درولي دي او هغه يې په ستورو، لمر او سپوږمۍ روښانه کړي، ترڅو له يوې خوا اسمان ته ښايست و ښېنې او له بلې خوا د شيطانانو ويشتونکي وي چې دا ټول ښايست او ټينګښت د واحد او قادر الله ﷻ په برلاسيتوب او لوی والي څرګند نښه دي.

۲. د ځمکې پيدايښت

د الله ﷻ د قدرت يوه بله روښانه نښه دا ده چې ځمکه يې پيدا کړې او هغه يې هواره کړې ده، ترڅو انسان پرې آرام او هوسا ژوند وکړي، هرلور ته يې تګ راتګ او حرکت وکړي، په هغې کې له پرتو زېرمو او پانګو څخه ګټه واخلي اود ځمکې پر مخ آبادي او پرمختګ وکړي.

ځمکه او اسمان د انسان لپاره د الله تعالى له لويو نعمتونو څخه ګڼل کيږي، لکه: چې الله تعالى دا لوی نعمت په انسانانو پيرزو کړی او دوی ته امرکوي: ﴿يَاأَيُّهَا الناس اعبدوا رَبَّكُمُ الذي خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ۞ اَلَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الأرض فِرَاشاً والسماء بِنَآءً وَأَنزَلَ مِنَ السمآء مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثمرات رِزْقاً لَّكُمْ... ﴾ [البقرة: ۲۱-۲۲]

ژباړه: ای خلکو د خپل رب بندګي غوره کړئ، چې ستاسو او له تاسو نه د مخکې تېرو شوو خلکو پيداکوونکی دی، ښايي چې تاسې پرهيزګاران شئ

الله ﷻ هغه ذات دی چې ستاسې لپاره يې ځمکه هواره کړه، اسمان يې چت جوړکړ او له آسمانه يې اوبه را واورولې او په هغو سره يې ستاسې د روزۍ لپاره هر ډول حاصلات را وايستل.

فعاليت

زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه د انسان لپاره د ځمکې او اسمان د ګټو په هکله خپل نظرونه څرګند کړي.

۳. د شپې او ورځې بدلون

په مبارک آيت کې د الله ﷻ د قدرت دريم دليل د شپې او ورځې منظم حرکت دی چې پر له پسې ګرځي او يو د بل ځای نيسي. د شپې او ورځې حرکت، د اوږدوالي او لنډوالي، توروالي اوسپينوالي، تيارې او رڼا د اختلاف سره، سره د انسان لپاره ډېرې ګټې رامنځته کوي. الله تعالی شپه د انسان د سکون او راحت لپاره، او ورځ يې د کسب اوکار او روزي حاصلولو لپاره پيداکړې ده. که چېرې شپه نه وای ، نو ډېرمخلوقات به له خوب او راحت څخه بې برخې وو، همدارنګه شپه د ستر او پردې لپاره يو ښه او مناسب وخت دی چې انسان ورڅخه په مختلفو حالاتوکې ګټه اخلي، لکه: څرنګه چې انسان له ورځې او د هغې له رڼا څخه د ډېرو کارونو په تر سره کولو کې ګټه اخلي، همدارنګه د شپې او ورځې د بدلون او توپير په نتيجه کې وختونه، ورځې، مياشتې اوفصلونو ټاکل کيږي چې دا ټول د انسان لپاره د الله ﷻ له لويونعمتونو اود قدرت له نښانو څخه دي.

٤. په سمندر کې روانې کښتۍ

په مبارک آيت کې د الله ﷻ د قدرت څلورمه نښه د لويو کښتيو حرکت دی چې له سوونو او زرونو ټنو وزن سره د سمندرونو د څپو په سر حرکت کوي او انسانان ور څخه ګټې اخلي. ځينو مفسرينو دا ويلي دي چې: په دې مبارک آيت کې الله ﷻ په سمندرونو کې د کښتيو د حرکت يادونه د شپې او ورځې له توپير نه وروسته کړې ده چې دا په يوې ځانګړې باريکۍ دلالت کوي اوهغه دا چې مسافرپه دريابونو او سمندرونو کې د شپې او ورځې څارنې ته ډېر اړ وي، ترڅو وختونه وپيژني اوخپل لوري وټاکي. له همدې کبله کښتۍ چلوونکي د نجوم علم او د شپې او ورځې پېژندلو ته ډېره اړتيالري.

همدغې موضوع ته په اشارې سره الله تعالی په بل آيت کې فرمايي: ﴿وَهُوَ الذي جَعَلَ لَكُمُ النجوم لِتَهْتَدُواْ بِهَا فِي ظُلُمَاتِ البَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ [الأنعام: ۹۷] **ژباړه:** او الله ﷻ هغه ذات دی چې ستاسې لپاره يې ستوري د وچې او سمندر په تيارو کې د لارې پېژندلو وسيله وګرځوله.

ددې آیتونو د نازلېدو په وخت کې ډېر لږ خلک د انسانانو په ژوند کې د کښتۍ په ارزښت او رول خبر وو، خو د وخت په تېریدو سره انسانان د بشریت په ژوند کې د کښتۍ په ارزښت وپوهېدل چې دا کار د قرآن‌کریم یو اعجاز او د الله تعالی د قدرت او وحدانیت ښکاره اوځرګند دلیل دی.

د لوست ګټې اولارښوونې

د دې مبارک آیت ځینې ګټې په لاندې ډول دي.

❖ په کایناتو کې د هستۍ نښې نښانې د الله تعالی د وحدانیت او وجود د اثبات لپاره روښانه دلایل دي.

❖ الله تعالی د نړۍ مخلوقات د انسان د خدمت او ګټې لپاره پیداکړي دي.

❖ د الله تعالی په مخلوقاتو کې د هغه د قدرت په نښو نښانو تفکر او تدبر، د ایمان د بشپړتیا اوقوت لامل ګرځي.

❖ د شپې او ورځې پرله پسې تلل راتلل د الله تعالی په قدرت او وحدانیت دلالت کوي.

❖ د شپې او ورځې بدلون انسان ته لارښوونه کوي چې خپل وختونه منظم کړي او له هغو څخه د خپل پالونکي په اطاعت او پیروۍ کې مناسبه ګټه ترلاسه کړي.

پوښتنې

۱. ذکرشوی مبارک آیت په لوړ آواز تلاوت کړئ.

۲. په دې مبارک آیت کې د الله تعالی پر قدرت او وحدانیت څو دلیلونه ذکرشوي دي؟ بیان یې کړئ.

۳. په دې مبارک آیت کې د (السماوات) لفظ په څه دلالت کوي؟ د خپلې وینا د اثبات لپاره په قرآني آیت استدلال وکړئ.

٤. د انسان لپاره د ځمکې څلور ګټې بیان کړئ.

٥. د شپې او ورځې له ګرځېدنې څخه د وختونو په ټاکنه کې څرنګه استفاده کوو؟

٦. د شپې او ورځې څلور فایدې بیان کړئ.

۷. په سمندرونوکې د کښتیو ګرځېدنه انسانانو ته څه ګټه رسولی شي؟

دويم لوست

په کايناتو کې د الله ﷻ د وجود او وحدانيت دلايل (۲)

قال الله تعالى: ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ [البقرة: ١٦٤]

۵. له آسمانه د باران اوريدل

د الله ﷻ د قدرت له نښو نښانو څخه بل دليل له اسمانه څخه باران د اوبو وربـدل دي چې د هغو په واسطه وچې او مړې ځمکې راژونـدی کـوي او د ځمکې پـه مـخ ډول، ډول بوټي، واښه او ژوي راپيداکوي اوپه خوځښت يې راولي. په دې ذکرشـوي مبـارک آيـت کې له اسمان څخه مراد هغه لوړ لوری دی چې د ځمکې د پاسه دی. پـه بـاوري توګـه د باران وربدل له وربځو څخه د الله ﷻ د قـدرت لـه نـښو او د هغـه د وحـدانيت دلـيل دی، ځکه يوازې الله ﷻ دی چې دا اوبه له وربځو څخه را وروي.

٦. د ځمکې ژوندي کول

د ځمکې له ژوندي کيدو څخه مراد دا دی چې الله تعالی د باران د اوبو په را ورولو سـره د ځمکـې د ودې او رشـد طاقتونـه- چـې د وچـوالي او مـرګ پـه حالـت کـې وي- پـه خوځښت اوحرکت راولي چې له امله يې په ځمکه کـې پـټ شـيان څرګنـدوي. هـر ډول بوټي، ګلونه، مېوې اوداسې نور راشنه کيږي اوسمسورېږي.

د ځمکې ژوندي کېدل او د ځمکې پر مخ د ډول، ډول نباتاتو اوحيوانـاتو خوربدنـه د الله تعالی د قدرت له لويو نښانو څخه دي.

لکه: څرنګه چې قرآن‌کريم په بل ځای کې دا موضوع په ځـانګړي بنايـست سـره داسـې انځور کړې ده.

قال الله تعالى:﴿وَتَرَى الأرض هَامِدَةً فَإِذَا أَنزَلْنَا عَلَيْهَا المآء اهتزت وَرَبَتْ وَأَنبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ﴾ [الحج: ٥] **ژباړه:** اوته وچه مړه ځمکه وينې، کله چې مورِ پرهغې باران ووراوه په ناڅاپي ډول وخوځيده، ډډه شوه اوهرراز ښايسته ښېرازه نباتات يې راوټوکول.

٧. د بادونو لګيدل

د الله تعالى د قدرت او وحدانيت بل دليل دا دی چې هغه په خپل لوړ قدرت سره بادونه او هوا پيداکړې ده، په خپلې ارادې سره يې په حرکت راولي او په خپل حکمت سره يې له يوه لوري نه بل لوري ته اړوي.

د بادونو لګيدنه مختلف ډولونه اوشکلونه لري چې قرآن کريم هريو په جلا، جلا نومونو ياد کړي دي. بادونه کله له ختيځ نه لوېديځ لور ته، کله له لوېديځ نه ختيځ لور ته، کله له شمال نه سويل ته اوکله هم له سويل څخه شمال لور ته حرکت کوي. همدارنګه بادونه ځانته ډول، ډول حالتونه غوره کوي: طوفاني يا ملايم، ګرم يا يخ او تند يا نرم حالت چې په دې توګه بادونه يا دالله ﷻ د رحمت نښې او يا د هغه د عذاب ښکلګې وي. د بادونوقوت او چټکتيا په داسې اندازه سخته اوځواکمنه وي چې کله نا کله په ډېرو هېوادونو کې د هيبتناکې ورانۍ او تباهۍ لامل ګرځي.

ځينو مفسرينو فرمايلي دي: د دې جملې يادونه ﴿وَتَصْرِيفِ الرياح والسحاب المسخر بَيْنَ السمآء والأرض﴾ د باران د اوبو په واسطه د ځمکې د را ژوندي کيدو او د ځمکې پرمخ د ساکښانو له خوځښت نه وروسته، په دې دلالت کوي چې د بادونو او هوا په وسيله د ځمکې پر مخ نباتاتو، حيواناتو اوټولو خوځېدونکو ته ژوند حاصليږي، که چيرې الله تعالى بادونه له لګيدو څخه منع کړي ، نو په ډېره لږه موده کې به هېڅ ژوی د ځمکې پر مخ پاتې نشي.

٨ په فضا کې ځوړندې وريځې

د الله ﷻ د قدرت له روښانو دلايلو څخه د اسمان په مخ ځوړندې او ولاړې وريځې دي چې د الله ﷻ د خوښۍ او ارادې تابع او امر منونکې دي. ظاهرا که چېرې دغه وربځې سپکې وي، نو بايد فضا ته پورته شې او ورکې شي او که درنې وي، نو بايد ځمکې ته راکوزې شي، خو الله تعالى په خپل قدرت او ارادې سره دغه وربځې په فضا کې خوړې کړې او ساتنه يې کوي، ترڅو د باران اوبه ورڅخه راواوروي.

د﴿السَّحَابِ﴾ د کلمې راوړل د﴿الرِّيَاحِ﴾ څخه وروسته د دې لپاره دي چې بادونه وريځې په حرکت راولي او له يوه ځايه يې بل ځای ته ليږدوي. د بادونو دا حرکت سره له دې چې د ليدو وړ نه دی، خو په خپل ذات کې داسې قوت او ځواک لري چې ونې له ريښو سره راباسي اوآبادۍ نړوي. وربځې هم ډېرې درنې اوبه له ځان سره پورته کوي. کله چې د باران په بڼه ځمکې ته راتوښيږي له هغو څخه د ځمکې پر مخ وېروونکي سيلاوونه را منځته کيږي چې درې او ناوونه ډکوي او لوی لوی دريابونه جوړوي.

يوازې دعقل او پوهې څښتنان پوهيږي

په دې مبارک آيت کې چې کومې لويې نښې اونښانې ذکرشوې دي، پردې دلالت کوي چې نړۍ اوکاينات سره له ټولې پراخې او لويې يوحکيم پيداکوونکی او تدبيروونکی لري چې هغه د ټولومخلوقاتو معبود اوپالونکی دی. دا ستر دلايل اوخرګندې نښې يوازې دعقل او پوهې څښتنان درک کولی شي ځوک چې د الله تعالی د ځواک اوعظمت په وړاندې د تسليمۍ سرټيټوي.

امام فخرالدين رازي (رح) د الله ﷻ نعمتونه په دوه ډولو - دنيوي او اخروي - باندې تقسيم کړي دي او وايي: هغه اته شيان چې الله تعالی په دې آيت کې بيان کړي دي، ظاهرا دنيوي نعمتونه دي اوکله چې د عقل خاوندان په هغو کې فکر وکړي ، نو د دې نعمتونو د پيداکوونکي پېژندنې ته لارمومي او په اخروي نعمتونو بدليږي، خو له دغونعمتونو څخه د دنيوي نعمتونو په توګه ګټه اخيستل يوازې د سليم عقل اومعنوي بصيرت د څښتنانو لپاره حاصليدای شي. له دې کبله الله تعالی د آيت په پای کې فرمايي، په دې ټولو شيانو کې ښکاره دلايل دي چې د عقل او پوهې خاوندان پرې ښه پوهيږي[1]، نوځکه دعلماوو او پوهانو دنده او مسؤوليت دی چې د الله ﷻ په کاياناتو اومخلوقاتو کې فکر وکړي.

امام آلوسي د دې آيت په تفسير کې ليکي: ابن ابی الدنيا او ابن مردويه له ام المؤمنين حضرت عايشې (رضی الله عنها) څخه روايت کړی دی چې د الله ﷻ پېغمبر ﷺ دا آيت ولوست او ويې فرمايل: ﴿ويل لمن قرأها ولم يتفكر فيها﴾ يعنې هلاکت او عذاب دې وي د هغه چا لپاره چې دا آيت ولولي او په هغه کې فکر ونه کړي.

۱-تفسیر کبیر ج۴/ص۲۲۵ دارالفکر ۱۹۸۱م

په طبيعت او کايناتو کې فکر کول د ايمان لور ته لاره پرانيزي

په پورتني آيت کې الله تعالى په کايناتو کې ځينومهمو او ارزښتناکو حقايقو ته اشاره کړې ده چې هر انسان يې ليدلى او درک کولى شي. په دغو حقايقو کې فکر کول د دې لامل ګرځي، ترڅو عاقل او هوښيار انسان له خپلو سترګو نه د غفلت پټې لرې کړي، د کايناتو د خلقت په اسرارو کې ځير شي او په پايله کې دکايناتو پرخالق ايمان راوړي او د زړه له کومې د هغه عبادت او بندګي وکړي.

سره له دې چې انسان په دغه آيت کې ياد شوي حقايق هره ورځ او هر مهال په خپلوسترګو ګوري، خو بيا، بيا ليدل، نسيان او هيرول د دې لامل ګرځي چې انسان په دغو حقايقوکې له تدبر او تفکر نه غفلت وکړي. له همدې امله لايزال خالق هوښيار او عاقل انسان د کايناتو د خلقت په بېلګو کې فکر کولو ته رابولي او همدا سبب دى چې د قرآن کريم ډېر آياتونه په ﴿لعلكم تعقلون، لعلكم تتفكرون، أفلا تعقلون﴾ او داسې نورو جملو سره پاى ته رسيږي.

د دغو حقايقو له جملې څخه ترټولو ستر او لوړى حقيقت دا دى چې د آسمانونو او ځمکې وجود ازلي نه دى او نه هم هغه په خپله پيدا شوي دي، بلکې د قادر او حکيم ذات له مخلوقاتو څخه دي.

دويم حقيقت چې په دې آيت کې يې بيان راغلى دى هغه د ځمکې او آسمانونو د خلقت په نتيجه کې د شپې او ورځې رامنځته کېدل او بدلون دى چې د شمسي منظومې او افلاکو په پرله پسې او دايمي حرکت، پراخ، منظم او خلل نه منوونکي دقيق نظام او قانون دلالت کوي. دغه منظم او هر اړخيزه دقيق نظام د عليم، خبير او قدير ذات په وحدانيت او يو والي شاهد دى چې په خپل مطلق او بې ساري علم او قدرت سره يې ځمکې، آسمانونه شپه او ورځ پيداکړي دي.

همدارنګه په دغه آيت کې ډېر نور حقايق هم ذکر شوي دي، لکه: د سمندر د اوبو د څپو پر سر دکښتيو حرکت کول، د باران اوريدل، د وريځو رامنځته کېدل او حرکت کول، د باد لګيدل، له ځمکې نه د وښو او نباتاتو ټوکېدل، رنګ په رنګ حاصلات او مېوې، د ژويو او ساکښانوپيداکېدل او داسې نور چې دا ټول له الهي سننو او دقيقو قوانينو سره سم په هستۍ او کايناتو کې رامنځته کېږي او په کايناتو کې د تفکر لپاره ښه زمينه

برابروي او انسان ته پر خپل خالق او پالونکې د ایمان او د هغه د عبادت او بندګۍ لارښوونه کوي.

د دنیا په موجوداتوکې تفکر او تدبر د علم او ساینس په حقایقو کې څېړنه او پلټنه او د علمي اکتشافاتو په اسرارو پوهېدل دا ټول د الله تعالی د معرفت او پر هغه باندې د ایمان راوړلو او د هغه علیم او قدیر ذات د عبادت کولو تر ټولو لنډه او آسانه لاره ده.

پوښتنې

۱. له اسمانه څخه د باران د اوبو اوریدل د الله تعالی د یووالي او قدرت دلیل دی. په دې هکله څرنګه استدلال کولای شئ؟

۲. د باران د اوبو په وسیله د ځمکې له ژوندي کېدو څخه مطلب څه دی؟

۳. د بادونو لګېدنه د وربڼو په جوړښت، د باران په وربدو او د نباتاتو او حیواناتو په ژوندانه څه اغېزه لري؟

٤. وریځې د الله تعالی د قدرت له نښو نښانو څخه بیان شوي دي. په دې هکله توضیحات ورکړئ.

٥. د مبارک آیت وروستۍ برخې څوک د کایناتو په هکله په فکر کولو مکلف کړي دي؟ په دې هکله د آیت وروستۍ برخه شرحه کړئ.

٦. د مبارک آیت په باره کې هغه نبوي حدیث بیان او شرحه کړئ چې د الله ﷻ په کایناتو او مخلوقاتو کې په فکر کولو ټینګارکوي.

کورنۍ دنده

ګرانو زده کوونکو!

په ژوندانه کې د اوبو د ارزښت په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له پنځلسو کرښو څخه کمه نه وي.

دريم لوست

په قرآن کريم کې د انسان د پيدايښت پراوونه

قال الله تعالى: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِنْ طِينٍ ۞ ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَكِينٍ۞ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾ [المؤمنون: ١٢-١٤]

د ځينو کلمو معناوې

سُلَالَةٍ: خلاصه، نتيجه، سوچه او ثمره.

نُطْفَةً: لږې اوحقيرې اوبه (مني).

قَرَارٍ مَكِينٍ: خوندي ځای (د مور رحم).

عَلَقَةً: تړلې او جامده وينه، د مور د رحم په ديوال نښتې وينه.

مُضْغَةً: د ژوول شوې مړۍ په اندازه د غوښې يوه وړه ټوټه.

خَلْقًا آخَرَ: بل مخلوق، د روح له پوکښدو وروسته کامل انسان.

ژباړه

مور انسان له سوچه خټې څخه جوړکړ. بيا موهغه په محفوظ ځای کې د اوبو يو څاڅکی وګرځاوه. بيا مو هغه څاڅکي ته د وينې د يوې ټوټې بڼه ورکړه. بيا مو د وينې ټوټه بوټی غوښه وګرځوله. بيا مو له بوټی غوښې څخه هډوکی جوړ کړ. بيا مو هډوکو ته غوښه ور واغوستله. بيا مو هغه يوبل مخلوق جوړ کړ، الله د ډېر لوړ شان څښتن دی او له ټولوپيداکوونکو نه ښه پيدا کوونکی دی.

تفسير

الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې خپل د قدرت او عظمت دلايل د انسان په خلقت، د هغه د جوړښت د پراوونو ، د هغه د ژوند او مرګ او دويم ځلي راژوندي کېدو په ترڅ کې بيان کړي دي، په داسې توګه چې د انسان د پيدايښت مرحله له خاورو څخه پيلېږي او د انسان په بشپړ بدن پای ته رسيږي.

قرآن‌کريم په دې مبارک آيت او نورو آيتونو کې فرمايلي دي چې انسان لومړی له خاورې څخه پيدا شوی دی. د انسان پيدايښت له خاورې څخه پيليږي او د پراوونو له تېرولو وروسته د ښه او

ښايسته صورت لرونکی انسان ورځخه جوړيږي. له خاورې څخه د انسان د پيدايښت مراد دا دی چې الله تعالی د لومړي ځل لپاره آدمعليه السلام له خاورې څخه پيدا کړ، بيايې بي بي حوا له آدمعليه السلام څخه پيدا کړه، او بيا د انسانانو خلقت او پيدايښت له حضرت آدم او بي بي حوا څخه د نکاح او تناسل په ډول پيل شو. د انسانانو اصل له خاورې څخه دی، لکه: څرنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِنْ طِينٍ﴾.

د انسان د پيدايښت دويمه مرحله له نطفې څخه ده، الله تعالی فرمايي:﴿ ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَكِينٍ﴾ دلته له نطفې نه مراد د نر او ښځې يوځای شوې اوبه (مني) دي.

د انسان د پيدايښت دريمه مرحله علقه ده، لکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً﴾ علقه يوه ټوټه وينه ده چې له نطفې څخه يې بدلون موندلی دی. د جنين پېژندنې طبي پوهان وايي: د جنين حجم د علقې په مرحله کې د يوه غټ ميږي په اندازه وي چې د ۱۲- ۱۴ ملي مترو ترمنځ اوږدوالی لري او د رحم په ديوال پورې نښتی وي. د وينې دا ټرلې وړه ټوټه وده کوي او په يوې ژوول شوې ټوټې غوښې بدليږي چې قرآن ورته د مضغې نوم ورکړی دی. جنين د مضغې په مرحله کې د دريو سانتي مترو په کچه اوږدوالی لري چې د مخ او پزې نښې په هغه کې د ډبرو نريو خطونو په بڼه جوړيږي.

دا ټوټه غوښه (مضغه) د الله ﷻ په قدرت اومشيت خپل پرمختګ اوبدلون ته دوام ورکوي، ترڅو د هډوکو د هيکل مرحلې ته رسيږي، په دې هکله قرآن کريم فرمايي:﴿ فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا﴾ اوبيا دا د هډوکو هيکل په غوښو ياعضلي جهاز پوښل کيږي، لکه: چې مبارک آيت يې بيانوي: ﴿فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا﴾ يعنې بيامو هغه هډوکي په غوښه وپوښل.

دلته قرآنی آيت هغه حقيقت ته اشاره کوي چې د ۲۱ پيړۍ انسان حيرانوي او هغه دا چې هډوکي او د هډوکوهيکل په جنين کې له عضلي جهاز څخه مخکې منځ ته راځي. کوم حقيقت چې د جنين پېژندنې علم په وروستيو کې کشف کړی هغه دا دی چې په بنسټيزه توګه د هډوکو سلولونه له عضلي سلولونو څخه توپيرلري او د هډوکو سلولونه له عضلي سلولونو څخه مخکې رامنځته کيږي. اوهېڅ عضلي سلول نه دی ليدل شوی چې د هډوکو د سلولونو له بشپړېدو مخکې جوړشوی وي. دا حقيقت قرآني نص ۱۴۰۰ کاله دمخه ثابت اوتاييد کړی دی، لکه: څرنګه چې الله تعالی فرمايي ﴿فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا﴾ اوبيا مو د غوښې ټوټه په هډوکو بدله کړه او هډوکي مو په غوښه وپوښل.

وروسته بيا په جنين کې روح پوکول کيږي او د هغه غړي وده او پرمختګ کوي او په بشپړ او کامل انسان بدليږي، چې قرآني نص ورته داسې اشاره کړې ده:

﴿ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾. وروسته له هغه مو د هغه يو بل پيدايښت وکړ (چې هماغه کامل انسان دی)، نو پاک او مبارک دی هغه ذات چې تر ټولو غوره پيداکوونکی دی.

په دې آيتونوکې د قرآن کريم علمي (ساينسي) اعجاز

پورتني متبرکه آيتونه د قرآن عظيم الشأن د علمي اعجاز له روښانو دلايلو څخه ګڼل کيږي، ځکه چې د قرآن عظيم الشأن ويناوې په دې آيتونو او نورو آياتو کې د انسان د خلقت او د هغه د مختلفو مرحلو په اړه داسې دقيقې او حيرانوونکې دي چې د الله تعالى له خوا له وحې پرته بل کوم مصدر او منبع نشي لرلی. هغه څه چې د طب علم او جنين پېژندنې په شلمې او يوويشتمې پيړۍ کې له ډېرو ځيرنو او د پرمختللو وسايلو له کارولو نه وروسته کشف کړل، قرآن عظيم الشأن پنځلس پيړۍ دمخه په ډېر دقت او څرګند ډول دا موضوع بيان کړې ده.

پورتنيو آياتونو د انسان د خلقت او مرحلو ته اشاره کړې ده. دغه پراوونه په اوسني عصر کې د طب د علم له مهمو ځيرنيزو موضوعاتو څخه شمېرل کيږي.

نوې علمي ځيرنې، سره له دې چې د انسان دخلقت د مرحلو په هکله د قرآن عظيم الشأن دې ويناو چې پنځلس سوه کاله پخوا يې کړيدي پخلی کوي. د قرآن عظيم الشأن له خوا په ډېر دقت سره د هرې مرحلې نومول او د جنين د رشد، ودې او د هرې مرحلې لپاره د نويو او حيرانوونکو کلماتو کارول او هغه په داسې اوصافو يادول، لکه: **نطفه، قرارمکين، علقة، مضغة**، د هډوکو د هيکل جوړيدل، په غوښو او عضلو د هډوکو پوښيدل او د داسې نورو چارو تاييد کوي.[1]

د طب د علم د معاصرو پوهانو له ډلې څخه يوعالم داسې وايي: (د قرآن عظيم الشأن د آيتونو له مجموعې څخه چې د انسان د خلقت په هکله دي لاندينې مراحل څرګندېږي:

(د نطفې مرحله – د علقې مرحله – د مخلقه او غير مخلقه مضغې مرحله – د هډوکو مرحله – په غوښو د هډوکو د پوښېدلو مرحله – د شکل او صورت د بشپړيدلو مرحله (د کامل انسان مرحله) – د روح د پوکولو مرحله).

د نطفې اطلاق پر درې شېانو کيږي: د سړي نطفه يعنې منوي حيوانات، د ښځې نطفه يعنې بويضه يا هګۍ، مختلطه يا يوځای شوې نطفه چې د نارينه او ښځينه نطفو د يوځای کېدونه توليدېږي او په قرآن عظيم الشأن کې ورته د امشاج نطفه ويل شوې ده. ﴿إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ﴾ [الإنسان: ٢] يعنې بېشکه موږ انسان له ګډې شوې نطفې څخه پيداکړی.

دا پراو په خپلو دقيقو بدلونونو سره يوه اونۍ نيسي او وروسته له هغه بيا دويمه مرحله يعنې د علقې مرحله پيل کيږي.

١- مباحث في اعجازالقرآن للدكتورمصطفى مسلم،ص ٢٣٢ دارالمسلم – رياض ١٩٩٦م

د علقې مرحله دوه اوونۍ دوام کوي اوجنين په دغه پړاوو کې ځان ته د ټرلې وينې بڼه غوره کوي او حجم يې يو ملي میټر وي. د رحم په ديوا ل پورې نښتي وي او قرآن عظيم الشأن ورته په ډېردقت سره دعلقې نوم ورکړی دی.

له دې وروسته د مضغې مرحله ده . په دې پړاو کې جنين ديوې بدني کتلې په بڼه څرګندېږي.

د جنين شکل په دې پړاو کې د يوې چوټې ژوول شوې غوښې په څېروي چې له خولې نه بهر اچول شوې وي، د مضغې کلمه هم همدا معنا ورکوي او قرآن‌کريم ورته مناسب او دقيق نوم ورکړی دی.

څلورمه مرحله د هډوکو او غوښو د تکوين او جوړښت مرحله ده چې د جنين د عمر په پنځمه،شپږمه او اومه اوونۍ کې بشپړېږي او په ترڅ کې يې د وجود لاندينی او پاسنی غضروفي هيکل جوړېږي. د جنين په اندامونو د عضلاتو لومړنۍ نښې د جنين دعمر په اوومه اونۍ کې څرګندېږي چې دا پرعضلاتو د هډوکو د جوړښت په تقدم اومخکې والي دلالت کوي... وروسته بيا هډوکي په عضلاتو پوښول کېږي، لکه: څرنګه چې قرآن عظيم الشأن يې په هکله فرمايي: ﴿فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا﴾.

وروستۍ پړاو د جنين د صورت د بشپړيدو او د روح د پوکولو پړاو دی چې په آيت کې ورته د ﴿خلقا آخر﴾ يا بل مخلوق نوم ورکړ شوی دی. الله تعالی د قرآن عظيم الشأن په بل آيت کې د دې پړاو په هکله داسې فرمايي: ﴿هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ﴾ [آل عمران: ۶] يعنې الله هغه ذات دی چې د ميندو په رحمونو کې تاسې ته د خپلې خوښې صورتونه درکوي.

﴿يَا أَيُّهَا الْإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ۞ الَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ۞ فِي أَيِّ صُورَةٍ مَا شَاءَ رَكَّبَكَ﴾ [الإنفطار: ۶-۸] يعنې ای انسانه! ته څه شي په خپل مهربان او عزتمن رب تېر ايستلې، هغه رب چې ته يې پيدا کړې، نوسم يې کړې ته او ستا هرڅه يې برابر کړل اوپه کومه څېره چې د هغه خوښه وه ته يې ونښلولې.

په دې مرحله کې د جنين د غړو د جوړښت عمليه دوام لري هره ورځ او هر ساعت په هغه کې بدلون راځي او په دقيقه اومنظمه توګه وده کوي.[1]

څرنګه چې د پېغمبرﷺ احاديث د قرآن عظيم الشأن دآيتونو تفسير کوي ، نو په ځينو احاديثو کې د انسان د خلقت مراحل داسې شرحه شوي دي.

۱- په اختصار سره له – خلق الانسان بين الطب والقرآن – ص--۳٦٥ -۳۷۹

په هغه حديث کې چې امام مسلم (رحمه الله) روايت کړی دی په هغه کې رسول الله ﷺ داسې فرمايي «إِذَا مَرَّ بِالنُّطْفَةِ ثِنْتَانِ وَأَرْبَعُونَ لَيْلَةً بَعَثَ اللَّهُ إِلَيْهَا مَلَكًا فَصَوَّرَهَا , وَخَلَقَ سَمْعَهَا وَبَصَرَهَا وَجِلْدَهَا وَلَحْمَهَا وَعِظَامَهَا , ثُمَّ قَالَ: يَا رَبِّ , أَذَكَرٌ أَمْ أُنْثَى ؟ فَيَقْضِي رَبُّكَ مَا شَاءَ وَيَكْتُبُ الْمَلَكُ»[1] **ژباړه:** کله چې د نطفې له عمرځخه ۴۲ شپې تېرې شي، الله تعالی ورته پرښته ورلېږي، ترڅو د هغه صورت بشپړکړي او د هغه غوږونه، سترګې، پوستکی، غوښه او هډوکي جوړکړي. وروسته بيا پرښته له الله ﷻ څخه پوښتنه کوي: دا جنين هلک دی که نجلی؟ نو الله ﷻ هغه پرېکړه کوي چې څه يې غوښتي وي او پرښته يې ليکي.

د قرآن عظيم الشأن د آيتونو له مجموعې او د نبوي احاديثو نه دا څرګندېږي چې د جنين د اعضاوو جوړښت او د جنس تعيين يې د تناسلي غدوې تشخيص سره په څلوېښتو ورځو کې ترسره کيږي.

په دې ترتيب مونږ ګورو چې د جنين د وېش مراحل چې د علمي څېړنو او اکتشافاتو پر بنسټ حاصل شوي. يوازې دا نه چې له قرآن سره مطابقت لري، بلکې په دې لړ کې د قرآن عظيم الشأن تعبيرات او اصطلاحات له ډېر دقت نه برخمن دي.

هغه څه چې مو د قرآن عظيم الشأن په آيتونو کې د انسان د خلقت د مراحلو په هکله ولوستل که له يوې خوا د الله تعالی په وجود او وحدانيت شاهدي ورکوي له بلې خوا د ټول بشريت لپاره د الله تعالی له لوري د آخري پېغمبر په توګه د حضرت محمد ﷺ د رسالت او نبوت په ريښتينولي او د الله تعالی له لوري د بشريت د هدايت او لارښوونې لپاره د هغه د ريښتيني کتاب قرآن مجيد په حقانيت دلالت کوي.

له نن څخه پنځلس سوه کاله پخوا په ډېر دقت او تفصيل سره د انسان د خلقت د مراحلو په اړه داسې نوې او حيرانوونکې خبرې يوازې او يوازې د الهي وحي له لارې ممکنې وې. هغه مهال نه په مکه، نه په مدينه او نه هم د هغه وخت پرمختلفو ښارونوکې د انسان د خلقت د اسرارو په اړه د طبي زده کړو او څېړنو کوم مرکز شتون درلود. نه داسې وسايل وو چې د هغو په کارولو سره د جنين د ودې، رشد او خلقت پټ اسرار کشف کړای شي نه هم هغه څوک چې قرآن کريم پرې نازل شوی و، يعنې حضرت محمد ﷺ د طب او جنين پېژندنې کوم سبق ويلی و. الله تعالی په دې اړه څه ښه او رښتيا فرمايلي دي:﴿ إن في ذلك لآيات لقوم يتفكرون﴾ [الرعد:۳] **ژباړه:** بېشکه په دې ټولو کې د هغو خلکو لپاره پوره دلايل دي چې له غور او فکر څخه کار اخلي.

۱- رواه مسلم – كتاب القدر،ج۸/ص۴۵

د لوست ګټې اولارښوونې

له ذکرشویو آیتونو څخه ځینې لارښوونې دا دي.

❖ په دې مبارکو آیتونو کې د الله ﷻ د قدرت، علم او حکمت دلیلونه او نښانې بیان شوي دي.

❖ قرآن‌کریم د انسان د پیدایښت مراحل بیان کړي دي.

❖ د انسان پیدایښت تصادفي او بې ګټې نه دی. له لومړي جوړښت نه وروسته د پیدایښت تر مهاله د الله تعالی تر بشپړ رعایت او توجه لاندې دی.

❖ قرآن‌کریم د انسان خلقت او جوړښت په دقیقه توګه بیان کړی. په داسی حال کې چې د طب علم په خپلو پرمخ تللو وسایلو سره په دې وروستیو وختونو کې دې حقیقتونو ته لار موندلې ده.

❖ قرآن‌کریم جنین د پیدایښت په مختلفو مراحلو کې په داسې نومونو ستایلی چې د جنین له واقعي حالت سره کامل او بشپړ سمون لري. حال دا چې طبي څېړنو د قرآن‌کریم له نازلېدو څخه په پیړیو وروسته دا حقایق کشف کړي او یوازې د هغه مرحلې یې ذکر کړي دي.

❖ په یادو شویو اوصافو باندې د انسان د جوړښت او خلقت پراوونه د قرآن عظیم الشأن په اعجاز او د الله ﷻ په قدرت او وحدانیت دلالت کوي.

پوښتنې

۱. د جنین د جوړښت د مرحلو نومونه په هغه ترتیب واخلئ چې په ذکر شویو آیتونو کې راغلې دي.

۲. د جنین د جوړښت د هغو مرحلو معنا چې قرآن‌کریم بیان کړې ده څرګنده کړئ.

۳. د قرآن‌کریم علمي اعجاز په ﴿فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا﴾ آیت کې د طبي علومو د اکتشافاتو او د نوي عصر د جنین پېژندنې په اړوند تشریح کړئ.

٤. قرآن‌کریم په ذکر شویو مبارکو آیتونو کې د انسان خلقت او جوړښت په څو مرحلو کې بیان کړی؟ څرګند یې کړئ.

۵. د جنین د جوړښت، ودې او بشپړتیا په اړه مو چې د بیالوژۍ په مضمون کې څه لوستلي دي د قرآن عظیم الشأن د هغو آیتونوپه رڼا کې سره پرتله کړئ چې د انسان د خلقت او پیدایښت په هکله دي.

کورنۍ دنده

د قرآن عظیم الشأن د آیتونو په رڼا کې او د تازه علمي اکتشافاتو نه په استفادې سره د انسان د خلقت په اړه یوه مقاله وليکئ چې له شلوکرښو څخه کمه نه وي.

د بني آدم وقار او درنښت

قـــال الله تعـــالى: ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا﴾ [الإسراء: ٧٠]

ژباړه

او بېشکه موږ بني آدم ته عزت ورکړ اوهغوته موپه وچه او لمده کې سپرلی ورکړې او هغو تـه مولـه پاکو شیانو څخه روزي ور په برخه کړه او پر خپلو زیاترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتیا وروښنله.

تفسیر

الله تعالی په ذکر شوي مبارک آیت کې پر ټولو مخلوقـاتو بانـدې د بنـي آدم فـضیلت او غـوره والی بیان کړی دی او د خپلو ځینو نعمتونو چې پر انسان یې پیرزو کړي دي یادونه کوي.

الله تعالی انسان ته په نطق، بیان، عقل، علـم، تـوازن او د بـدن او صـورت پـه ښـکلا د ځمکـې د سرپر نورو مخلوقاتو لکه: پیریان او حیواناتو برتري او غوره والی ورکړی دی.[1] ځینـې مفـسرین د انسانانو د هدایت او لارښوونې لپاره د پېغمبرانو ﷺ رالیږل د انسان د عزت او تکـریم مثـال او نمونه بولي.[2] په ځینو تفاسیرو کې د انسان د لیک او لوست قوت د انـسانانو د تکـریم او عـزت نښه ګڼل شوې ده.[3] هغه څه چې مفسرینو د انسانانو د فضیلت او غوره والي په هکله یـاد کـړي دي یوازې د مثال او نمونې په ډول دي، ځکه د انسان د عزت او تکریم انـواع او بېلګـې دومـره زیاتې دي چې له شمیره وتلي دي.[4]

باید وپوهیږو چې د الله ﷻ له لوري د انسان تکریم اوعزت د انسانانو بني نـوعې تـه شـاملیږي،[5] او یوازې یوې ډلې او یا خلکو ته ځانګړی نـه دی، ځکـه پـه دې آیـت کـې د (بنـي آدم) لفـظ مطلق ذکر شوی دی او د ټولو انسانانو (نارینه او ښځینه) جنس ته شاملیږي.

په دې مبارک آیت او د قرآن عظیم الشأن او نبوي سننو په نورو نصوصو کې د انسان او انـساني حقوقو په اړه لیدل کیږي چې د اسلام دیـن د الهـي اخـري دایمـي او شـامل دیـن او قـانون پـه حیث، په یو مناسب وخت او زمان کې د انسان د تکریم او عزت اعـلان وکـړ او د هغـه حقـوق

---

١ - ایسر التفاسیر – د ابوبکر الجزایري تالیف، ص٣٥٧

٢- التفسیر المیسر- ص٦٤

٣ - تفسیر البحر المحیط- ج٦- ص٨٥

٤ -- تفسیر البحر المحیط- ج٦- ص٨٥

٥- تفسیر ابن عجیبه- ص٣٤٩

يې هغه وخت له تېري او تعرض څخه وژغورل او خوندي يې کړل. کله چې بيوزلی انسان د ظلمونو، تېريو اوبندګۍ ښکار و او ډېرځله له هغه سره د څارويو په څېر او يا تر هغې هم بده او ناوړه معامله ترسره کېدله، په داسې حال کې چې د بشر د حقوقو او د هغې د نړيوالې اعلاميې کوم پته نه و او نه هم د بشر د حقوقو د ساتنې لپاره کوم قانون او يا اداري شتون درلود.

د انسان د عزت او کرامت ځينې نمونې په لاندينيو مثالونو کې په تفصيل سره بيان شوې دي.

۱. توازن او د شکل او صورت ښکلا

الله تعالی انسان ته د عزت، کرامت او فضيلت په نعمت سره په خپلو نورو مخلوقاتو لوړتيا او غوره والی وربښلی دی.

د انسان د عزتمندۍ او غوره والي نمونې د نورو مخلوقاتو او څارويو په پرتله زياتې دي چې ځينو ته يې اشاره کوو. د انسان عزتمندي په دې معنا چې هغه يې په ښايسته او مناسب شکل او بڼه پېدا کړی، دی. لکه: څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الإنسان فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾ [التين: ٤] يعنې مور انسان په ډېره ښه بڼه پېدا کړ.

پرته له شکه توازن او د شکل او صورت ښکلا د الله ﷻ له لوري د انسان د تکريم اوعزت څرګنده نښه ده.

د انسان په پېدايښت کې د عزت او غوره والي بله نښه دا ده چې نور حيوانات پاکي او نظافت نه پېژني، د ځان په پټولو نه پوهېږي، د خوب، استراحت او د خوراک اوڅښاک کړنلاره نه پېژني، ګټې نشي لاس ته راوړلی او د ضرر او تاوان مخنيوی نشي کولای، ټول حيوانات له عقلي او فکري ځانګړتياوو، پوهې، پرمختګ او تمدن څخه محروم دي. يوازې انسان دی چې له ټولو امتيازاتو څخه برخمن دی. عبدالله ابن عباس(رضي الله عنهما) د انسان د عزتمندۍ او غوره والي ډېر ښايسته تمثيل کړی دی او داسې فرمايي: د حيواناتو په خلاف انسان خپله خوله د ډوډۍ خوړلو لپاره ځمکې ته نه ښکته کوي، بلکې په خپلو ګوتو خوراک پورته کوي. همدارنګه د څښلو لپاره خپله خوله اوبو ته نه ښکته کوي، بلکې د ګيلاس يا لوښي په واسطه اوبه را اخلي او څښي يې.[1]

۲. د وچې تسخيرول

د انسان دعزت او لوړتيا له نښو څخه بله نښه دا ده چې الله تعالی د طبيعت قوتونه او هغه څه چې په ځمکه کې دي د انسان تابع ګرځولي دي. همدارنګه په ستورو او افلاکو کې يې دهستۍ قوتونه د انسان د خدمت او هوسايني لپاره پيداکړي دي. په دې آيت کې الله تعالی پر انسانانو احسان او پيرزوينه کړې ده او دی يې په وچه کې پر مختلفو حيواناتو برلاسی کړی

۱-تفسيرالتحرير والتنوير- لابن عاشور- ج،۸- ص ۳۴۹

دی. ده ته یې ټول تابع کړي دي چې له هغوڅخه د خپلې ګټې اوښیګنې لپاره کار واخلي. همدارنګه انسان ته یې قدرت وربښلی چې د تګ راتګ اوانتقال له وسایلو څخه په فضا، وچه او سمندر کې، لکه: ځاروي، موټر، اورګاډي، کښتۍ او الوتکو څخه د خپلې ګټې او هوساینې لپاره کار واخلي. الله تعالی فرمایي: ﴿اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ ۞ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۞ وَآتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ﴾ [الإبراهيم: ٣٢-٣٤]

ژباړه: الله هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړل او له اسمان څخه یې اوبه راواورولې، بیایې د هغو په وسیله تاسې ته د روزۍ لپاره ډول ډول مېوې پیدا کړې، او بېړۍ یې ستاسو لپاره تابع او ایل کړې چې په سمندر کې د الله په حکم روانې شي او سیندونه یې ستاسې لپاره جاري کړل او ګټور یې وګرځاوه ستاسې لپاره لمر او سپوږمۍ چې د دنیا تر پایه په نه ستړي کیدونکې توګه چلیږي او شپه او ورځ یې ستاسې لپاره په کار اچولې ده.

هغه څه چې تاسو غوښتل هغه یې درکړل، که تاسې وغواړئ چې د الله ﷻ نعمتونه وشمېرئ، نوشمیرلی یې نشئ. حقیقت دا دی چې انسان ډېر بې انصافه او ناشکره دی.

۳. له سمندرونو څخه ګټه اخیستل

د الله ﷻ له لوري انسان ته د عزت ورکولو بله نښه دا ده چې په سمندرونو باندې یې ورته د تسخیر قدرت ورکړی دی. الله تعالی انسان ته د بېړۍ جوړولو وس اوتوان ورکړی چې د هغې په واسطه خپلې اړتیاوې پوره کړي او ډول ډول ګټې ورڅخه واخلي، سمندر د انسان لپاره یوه بله نړۍ ده چې د وخت په تېریدو سره په هغه کې نوي رازونه برسیره کیږي، له سمندر څخه اوس مها ل په ډول ډول طریقو ګټه اخیستل کیږي چې په پخوا زمانو کې د انسان علم له هغونه عاجز وه.

فعالیت

زده کوونکي دې له سمندرونو څخه د ګټې اخیستلو صورتونه تر بحث او څېړنې لاندې ونیسي او بیا دې څو تنه په دې هکله د ټولګیوالو په وړاندې خبرې وکړي.

٤. پاکه او حلاله روزي

انسان ته د الله تعالی د عزت ورکولو بله نښه دا ده چې ده ته یې الهام کړی له هغو حلالو شیانو څخه چې یې غوښتي وي خپل خوراک لاس ته راوړي. انسان د الهي نعمتونو سره د عادت له امله کله، کله دغه نعمتونه هېروي اوهغه وخت یې په ارزښت پوه شي چې ورڅخه محروم شي. کله چې انسان په غېږدلو ستړګو او ویښ زړه وګوري ، نو د الله ﷻ نعمتونه په ټولو ځایونو او په ټولو شیانو کې کتلی شي. لمر، هوا، اوبه، روغتیا، د ګرځېدو وړتیا، حواس،

عقل، او د خوړلو او څښلو ډېر شيان، دا ټول الهي نعمتونـه دي چې انـسان تـه يـې ور پـه برخـه کړي دي. الله تعالى انسان ته د خوړلو او څښلو بې شمېره ډول، ډول نعمتونه ورکـړي دي. کـوم شيان چې انسان ورڅخه د خوړلو او څښلو لپاره ګټه اخلي هغه په څو، څو برابره له هغـه څـه نـه چې نـور حيوانـات ورڅخـه ګټـه تراسـه کـوي ، ډېـردي. لـه همـدې کبلـه الله تعـالى د پـاکې اوحلالې روزي احسان پر انسان باندې کړی دی اوفرمـايي:﴿ وَرَزَقْنَاهُمْ مِّنَ الطيبات﴾. کـوم پـاک او مزه دار خواړه چې الله تعالى پر انسانانو پيرزو کړي دي. هغه ډېر زيات دي چې هېڅکلـه يـې شميرلای نشو او هر ډول ګټه اخيستلوته شامليدلی شي. الله تعالى دغه نعمتونـه پـه ځـانګړي ډول خپلو مخلصو او مؤمنو بندګانو لپاره خـاص کـړي دي، خـو دا يـې پـرې لازم کـړي دي چـې د دغو نعمتونـو پـه وړانـدې د الله ﷻ شـکر ادا کـړي او لـه اسـراف او د الله تعـالى پـه وړانـدې لـه سرغړونې څخه ځان وژغوري.

۵. پر نورو مخلوقاتو دانسان فضيلت او غوره والى

انسان ته د الله ﷻ د عزت ورکولو بله بېلګه دا ده چې هغه ته يې د عقل، فکر او پـوهې لـه املـه پر نورو مخلوقاتو فضيلت او لوړتيا ورکړې ده. د انسان تر ټولـو لـوی فـضليت او غـوره والـی د ځمکې پر مخ د هغه خليفه ګرځول دي چې هغه يې په وړتياوو او ځانګړتيـاوو سـمبال کـړی او پر نورو مخلوقاتو يې غوره ګرځولی دی. ټول مسلمان علمـاء او پوهـان پـه دې آنـد او نظـر دي چې بني آدم په مطلقه توګه له پيريانو او نورو مخلوقاتو څخـه لـوړ او ډېـر غـوره دی. ځـانګړي بني آدمان له پرښتو څخه غوره دي، خو په عامه توګه پرښتې له عامو انسانانو څخـه غـوره ګڼـل کيږي.

امام رازی(رح) د تکريم او تفضيل ترمنځ د تـوپير پـه هکلـه چـې پـه تکـريم سـره دا مبـارک آيت شروع شوی او په تفضيل پای ته رسيدلی داسې وايـي: انـسان تـه پـر نـورو حيوانـاتو غـوره والی اوعزت د طبيعي او ذاتي امورو، لکه: عقل، نطق، بڼه، ښه قد او قامت لـه مخـې بـښل شـوې دي، خو د رښتينو عقايدو او غوره اخلاقو حاصلول انسان ته فضيلت وربښي.[1]

د لوست ګټې اولارښوونې

❖ پرټولو ځمکنيو مخلوقاتو باندې د انسان د کرامت اوغوره والي اعلان.

❖ الله تعالى پر انسان احسان کړی، پر هغه يې د خپلو نعمتونـو پيرزوينـه کـړې ده او هغـه يـې د عزت او تکريم په لوړو مرتبو نازولی دی.

(۱) تفسير مفاتيح الغيب - لفخرالدين الرازی ج ۲۱/ ص۱۷.

❖الله تعالی انسان په وچه او سمندرکې د طبیعت پر ځواکونو مسلط ګرځولی، ترڅو له هغو څخه ګټه ترلاسه کړي.

❖الله تعالی د طبیعت قوتونه په کایناتو کې د انسان د خدمت او ګټې لپاره تابع کړي دي.

❖الله تعالی د انسان لپاره تر ټولو غوره او سپیڅلي خواړه برابر کړي دي او د ده خوراک او څښاک تر ټولو حیواناتو، مرغانو او خزندګانو غوره دی.

❖ځرنګه چې انسان د الله تعالی معزز او مکرم مخلوق دی ، نو په هغه لازمه ده، ترڅو خپل دغه عزت او منزلت ته متوجه وي او داسې عمل ونه کړي چې د هغه د انساني کرامت او عزت خلاف وي.

❖د الله تعالی له اوامرو نه سرغړونه، لکه: کفر اختیارول، له الله ﷻ سره شریک نیول او ګناه کول د انسان له مقام سره چې د ځمکې پرمخ د الله تعالی غوره مخلوق دی، مناسب کار نه دی.

❖د انسان کرامت او د هغه شرعي اوبشري حقوق له تېري نه محفوظ دي او هیڅوک دا حق نه لري چې د هغه پر ځان، مال، وقار او عزت تېری وکړي.

❖د انسان د حقوقو رعایت او د هغو ساتنه د هر مسلمان وجیبه او شرعي مسؤولیت دی. په اسلامي ټولنه کې وګړي، کورنۍ، ټولنه او دولت د بشری حقونو د ساتنې او مراعاتولو دیني مکلفیت لري.

پوښتنې

۱. په تېر شوي مبارک آیت کې د انسان لپاره د پنځو عزتونو او فضیلتونو یادونه شوې ده، هغه بیان کړئ.

۲. د انسان لپاره په وچه کې د الهي نعمتونو نمونې په لنډه توګه څرګندې کړئ.

۳. د انسان او نورو ژویو او ساکښو د رزق او روزي ترمنځ توپیر څه دی؟

٤. انسان د دې ټولو عزتونو او نعمتونو په وړاندې، چې الله ﷻ ور په برخه کړي دي، څه مکلفیت لري؟

٥. (د بني آدم له ځانګړتیاوې دا دي چې حتا له ملایکو څخه هم غوره والی لري) دا مطلب شرحه کړئ.

٦. د انسان د تکریم او فضیلت ترمنځ توپیر څه دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د قرآني آیتونو او نبوي احادیثو نه په استفادې سره د انساني کرامت او بشري حقونو د ساتنې او پر هغې د تېري نه کولو په اړه یوه مقاله وليکي چې له شلو کرښو څخه کمه نه وي.

آيةالكرسي د قرآن لوړه څوکه

قــال الله تعــالى: ﴿اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾ [البقرة: ٢٥٥]

د كلمو معناوې

الْحَيُّ: تل ژوندی.

الْقَيُّومُ: په خپل ذات ولاړ، د نورو ساتونکی او سمبالوونکی.

سِنَةٌ: پرکالي، پريشاني.

وَلَا يَئُودُهُ: هغه نه ستړی کوي، پرهغه دروندوالی نه راولي.

ژباړه

الله ﷻ يو ذات دی، له هغه ژوندي ابدي ذات څخه پرته چې ټول کاينات يې سمبال کړي دي، بل هيڅ اله (معبود) نشته، هغه نه ويده کېږي اونه پرکالي پرې راځي. په اسمانونو او ځمکه کې چې هر څه دي، د هغه دي. څوک دی چې د هغه په وړاندې د هغه له اجازې پرته سپارښت و کړای شي؟ څه چې د بندګانو په وړاندې دي پر هغو هم خبر دی او څه چې له هغوی نه پټ او د هغوی ترشا دي پر هغو هم خبردی او د الله ﷻ له معلوماتو څخه هيڅ شی د هغوی (بندګانو) په ادراک کې نشی ايساريدای مګر دا چې د کوم شي علم ورکول هغه په خپله وغواړي. د هغه د کرسی پراختيا له اسمانونو او ځمکې نه لويه ده او د هغو (اسمانونو او ځمکې) ساتنه د هغه لپاره کوم ستومانوونکی کار نه دی. يوازې هماغه، يو، لوی او لوړ ذات دی.

تفسير

د قرآن لوړه څوکه

آية الكرسي په لسو مستقلو او خپلواکو جملو مشتمله ده چې هره جمله يې د الله ﷻ له يووالي او ښايسته او جليله صفتونو څخه بحث کوي.[1] په دې آيت کې اتلس څله د الله ﷻ نومونه د

١ – دابن كثير دتفسير مختصر ج١/ص ٢٣٠

ظاهر اسم او يا د ضمير په بڼه ذكر شوي دي. د غه مبارك آيت د قرآن‌كريم له ډېرو لويو آيتونو څخه دی چې‌د فضيلت په هكله يې ډېر احاديث نقل شوي دي. په يو صحيح حديث كې د الله ﷻ له پېغمبر ﷺ څخه نقل شوي چې فرمايي: آية الكرسی د قرآن له لويو آيتونو څخه گڼل كيږي[1]. په بل حديث كې راغلي دي: د الله تعالی اسم اعظم په همدې آيت كې دی[2]. په يو بل حديث كې راغلي دي: د هر شي لپاره لوړه څوكه وي او د قرآن لوړه څوكه د بقرې سورت دی. په هغه كې يو داسې آيت دی چې د قرآن امام او لارښود دی او هغه آية الكرسي ده.

آية الكرسي د الله ﷻ د وحدانيت په صفت سره پيل شوې ده: ﴿ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ﴾، نو الله ﷻ هغه يوازينی ذات دی چې د عبادت او لمانځنې وړدی او د الله ﷻ دا صفت د دين بنسټ دی. انسان يوازې د الله ﷻ بنده دی او له هغه پرته د بل چا عبادت نه كوي اونه هم پرته له الله ﷻ څخه بل چاته مخ اړوي او نه هم له چا نه مرسته غواړي.

بل صفت چې په آية الكرسي كې ذكر شوی هغه د الله ﷻ د **حيات** او **قيوميت** صفت دی: ﴿**الحي القيوم**﴾. د حيات(ژوند) صفت چې الله ﷻ ته ثابت شوی، تل او هميشنی ذاتي ژوند دی چې فنا او زوال نه لري دا حيات د هغه ژوند په څېر نه دی چې بشر يې پيژني.

د الله ﷻ د قيوميت صفت: الله تعالی هغه ذات دی چې د ټولو كارونو د تل لپاره تدبير كوونكی او اداره كوونكی دی. الله ﷻ په خپل ذات قايم دی، خو د الله ﷻ نه پرته هر څه چې دي د الله ﷻ په ارادې قايم دي.

په **آية الكرسي** كې د الله تعالی لپاره بل ذكر شوی صفت دا دی چې په الله تعالی خوب او پريشاني نه راځي او له هر ډول خوب څخه پې پروا او بې حاجته دی: ﴿ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ﴾، او الله ﷻ له دې ټولو اړتياوو څخه پاك او سپيځلی دی.

الله تعالی د آسمانونو او ځمكې يوازينی مالك او متصرف دی او هر څه چې په اسمانونو او ځمكه كې دي ټول د الله ﷻ په واك او اختيار كې دي. هر چاته يې چې وغواړي وربښي يې او چاته يې چې ونه غواړي له هغه نه يې منع كوي. ﴿ لَهُ مَا فِي السماوات وَمَا فِي الأرض﴾. دا مبارك آيت مطلق ملكيت د الله ﷻ لپاره ثابتوي. او د الله ﷻ ريښتيني بندگان پردې ټينګ ايمان لري چې ټول شيان د الله ﷻ په واك كې دي او د الله ﷻ په اراده منځ ته راځي د همدې ايمان له مخې د رضايت احساس كوي او خپل ژوند په قناعت سره تېروي.

۱-المعجم الكبيرللطبراني – ۸۵۳۵ حديث .

۲-د امام احمد بن حنبل مسند۴۶۱/۶

د الله تعالى بل صفت: په مبارک آیت کې د الوهیت او معبودیت د مقام تثبیت او توضیح ده په دې ډول چې الله تعالى یوازینی برحق معبود او ټول مخلوقات د هغه بندګان دي چې د ده له عبودیت څخه نشي وتلی.﴿ مَن ذَا الذي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ﴾. یعنې هېڅوک د الله له اجازې پرته شفاعت نشي کولای. په دې مبارک آیت کې له بتانو او نورو ناحقو معبودانو څخه هر ډول مرسته او شفاعت، چې مشرکان او کفار د هغو دعوی لري، رد شوی دی. د﴿يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ﴾ مبارک آیت د الله تعالى د علم صفت او بشپړ حاکمیت تثبیتوي. د الله تعالى علم مطلق دی چې تېرې، موجودې او راتلونکې زمانې ته شاملیږي، همدارنګه هغه په ظاهر، باطن، پټ، ښکاره او د دنیا او آخرت په ټولو چارو خبر دی.

انسان په خپل لږ علم او پوهې سره په لږو شیانو پوهېدلی شي ﴿وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَآءَ﴾. الله تعالى د خپل علم یوه ډېره لږه برخه خپلو بندګانو ته ظاهروي چې د هغه په واسطه څه شیان پېژندلی او کشفولی شي. په دې مبارکه جمله کې د الله بشپړ علم او د مخلوق د علم او پوهې نیمګړتیا او کمی ثابتیږی. الله تعالى انسان ته د لږ علم په ورکولو څه شیان ښکاره کوي: ﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾[فصلت: ٥٣].

ژباړه: ډېر ژر به موږ دوی ته خپلې نښانې په آفاقو (کایناتو) کې او هم د دوی په نفسونو کې وښیو، تردې پورې چې دوی ته دا خبره څرګنده شي چې دغه قرآن په رښتیا سره په حقه دی، آیا دا خبره کافي نه ده چې ستا رب پر هر څه شاهد دی.

خو انسان پر خپل لږعلم مغروریږي او دي حقیقي علم څښتن هېروي. بیا مبارک آیت د الله تعالى عظمت او د ملک پراخي بیانوي او فرمایي: ﴿وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ﴾. د کرسۍ په تفسیرکې د علماو او مفسرینودوه مشهور قولونه دي: یو د سلف او د امت د متقدمینو علماوو نظر، چې هغوی د دې مبارک آیت د ظاهر نص پر بنا الله تعالى ته د کرسۍ په وجود معترف دي، خو وایي چې موږ د هغې په حقیقت نه پوهیږو، ځکه په هغې پوهېدنه او د هغې درک زموږ د توان او قدرت څخه بهر دی، خو په دې بشپړ ایمان لرو چې د الله تعالى کرسۍ پر اسمانونو او ځمکې احاطه لري. دمفسرینو دویم نظر د امت د متاخرو علماؤ نظر دی چې هغوی کرسۍ په علم، قدرت او د الله تعالى په سلطې او غلبې سره تفسیر کړې ده او هغه پر کایناتو د الله تعالى د بې ساري علم او حاکمیت نه کنایه ده. ځینې مفسرین له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کوي، فرمایي: (د الله ﷻ د کرسۍ نه مطلب د هغه علم دی) چې په ټولو شیانو احاطه لري. [1]

(١) تفسير الوسيط للسيد طنطاوی، ج١، ص٤٧١

کله چې قرآن کریم ویلي دي چې د الله ﷻ کرسۍ اسمانونه او ځمکه راګیروي، معنا یې دا ده چې د الله ﷻ کرسۍ د اسمانونو او ځمکې په پرتله لویه ده، لکه: له ابوذر غفاري ﷺ څخه روایت شوی چې فرمایلي یې دي: له نبي کریم ﷺ څخه مې د کرسۍ په هکله پوښتنه وکړه. ویې فرمایل: ای ابوذره! اووه اسمانونه او اووه طبقې ځمکه د کرسۍ په پرتله، په بیدیا کې د یوې لویدلې حلقې څخه زیات نه دي، بیا د الله ﷻ د عرش حیثیت د کرسۍ په پرتله داسې دی، لکه: په بیدیا کې د هغې حلقې وړوکوالی د بیدیا په پرتله [۲].

اوس بشریت سره له ټولو علمي پرمختګونو یوازې سپوږمۍ ته چې د ځمکې له اقمارو څخه ده او یوازې څو نورې ثانیې له ځمکې څخه فاصله لري، رسیدلی دی. همدارنګه لمر له ځمکې څخه په ۹۳ ملیونه میله فاصلې او واټن سره یوازې اته(۸) نُورې دقیقې او څو ثانیې وخت نیسي. په داسې حال کې چې ستوري، افلاک او کهکشان چې د الهي کاینات په منځ کې ځای لري په سلګونه نوري کلونه واټن لري. دا چې نور په یوه ثانیه کې درې سوه زره کیلومتره فاصله وهي. دا ټول کشفیات یوازې د دنیا په اسمان کې رامنځته شوي. د الله ﷻ د نورو اسمانونو او ملکوتو په هکله به څه وویلی شو؟!

بل صفت چې مبارک آیت د قادر الله ﷻ لپاره ذکر کړی، دا دی چې دا ټول اسمانونه او ځمکه او اسماني ملکوت د الله ﷻ تر ارادې، تدبیر او اداري لاندې دي چې ساتنه یې د الله ﷻ لپاره هېڅ ډول درونده والی، ستړیا او ستونزه نه رامنځته کوي او یوازې الله تعالی دی چې دا ټول کاینات او نړۍ یې په خپل مشیت او قیومیت سره ساتلې ده.

دغه مبارک آیت په ﴿وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾ سره پای مومي چې د لویي او عظمت صفتونه یوازې د الله ﷻ لپاره ثابتوي او دا یو منطقي اوښایسته پای دی، ځکه کوم صفتونه چې د الله تعالی لپاره په **آیة الکرسي** کې بیان شوي او اسمانونه او ځمکه سره له دې پراخې او لوی والي، پر دې روښانه او څرګند دلیل دی چې پیداکوونکی، تدبیروونکی او ساتونکی یې باید هغه ذات وي چې ټول د عظمت او لویي صفتونه د هغه ځانګړتیا وي. که څوک د داسې لویي دعوه وکړي الله تعالی یې هلاکوي، لکه: څرنګه چې فرعون یې هلاک او تباه کړ.

فعالیت

زده کوونکي دې په خپلو کې په دې اړه خبرې اوځېړنه وکړي چې انسانانو سره له علمي پرمختګونو او اکتشافاتو بیا هم د الله تعالی ډېر لږ مخلوقات پیژندلي دي.

(۲) صحیح ابن حبان، ج۲، ص۷٦

د لوست ګټې اولارښوونې

له دې لوست څخه لاندې ګټې تر لاسه کولای شو.

❖ آیت الکرسي د الهي کتاب تر ټولو عظیم آیت دی چې د الله تعالی په اتلسو نومونو مشتمل دی. ټولې کلمې یې پنځوس او په لسو جملو کې خلاصه شوی دی.

❖ آیت الکرسي ټوله بندګي او عبودیت الله تعالی لره ځانګړی کوي او حاکمیت یوازې د الله ﷻ له شان سره مناسب ګڼي.

❖ د کایناتو او مخلوقاتو د چارو تدبیر او اداره د الله تعالی په لاس کې ده او د هغه علم په ټوله هستۍ او موجوداتو احاطه کوي. په انسان لازمه ده، ترڅو الله تعالی په ټولو وختونو او کارونو کې خپل ځارونکی وګڼي.

❖ عظمت او لویي د الله تعالی ځانګړتیا ده. په هره اندازه چې انسان په ځمکه کې لویي وکړي، ستنیدنه یې الله تعالی ته ده، هغه به یې ذلیل کړي او سزا به ورکړي.

❖ د آیة الکرسي لوستل وروسته له فرضي لمونځونو او د ویده کېدو پرمهال ډېر زیات اجر او ثواب لري او په کورونو کې یې لوستل، له کورونو څخه د شیطانانو د شړلو او رټلو لامل ګرځي.

پوښتنې

۱. د لاندېنیو کلماتو معنا واضحه کړئ.

﴿الحي، القيوم، سنة، ولا ينوده﴾

۲. د ﴿الحي القيوم﴾ جملې مفهوم واضح کړئ؟

۳. د الله تعالی په دې وینا کې ﴿لَهُ مَا فِي السماوات وَمَا فِي الأرض﴾ د جار او مجرور تقدیم په څه دلالت کوي؟

٤. د دې الهي وینا ﴿يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ﴾ مقصد څه دی؟

٥. له کرسۍ څخه په دې الهي وینا کې ﴿وسّع كرسيّه السموات والأرض﴾ څه مراد دی؟

کورنۍ دنده

د آیة الکرسي د فضیلت او مرتبې په هکله لس کرښې مقاله ولیکئ او په نبوي حدیث یې استدلال وکړئ.

ځمکه د انسان د ګټې لپاره

قال الله تعالى: ﴿هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ ۞ أَأَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ أَنْ يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ۞ أَمْ أَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ أَنْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ﴾ [الملک: ۱۵-۱۷]

د ځینو کلمو معناوې

ذَلُولاً: تابع شوی، آسان شوی، ایل شوی.

مَنَاكِبِهَا: مناکب د منکب جمع ده چې د اوږو په معنا ده، خو دلته ترې د ځمکې اړخونه مراد دي.

الخسف: ښخېدل، پرمخې کېدل، ظاهر په باطن کې او باطن په ظاهر کې ننوتل.

تَمُورُ: په لړزه راځي.

حَاصِبًا: شدید باد چې شګې او چتوي.

ژباړه

الله ﷻ هغه ذات دی چې ستاسو لپاره یې ځمکه ایل(تابع) کړې ده، نو وګرځئ د هغې په اړخونو کې او د الله ﷻ له روزۍ وخورئ اوبیرته مو د هغه حضورته ورتګ دی. آیا تاسې له دې نه ډاډه یئ چې هغه ذات چې په اسمان کې دی تاسې په ځمکه کې ننباسي او دغه ځمکه په ناڅاپي ډول ولړزېږي.

ایا تاسې له دې څخه بې غمه یئ، هغه ذات چې په اسمان کې دی، پر تاسې تیږې اوروونکی طوفان والوزوي، بیا به تاسې ته څرګنده شي چې زما ډارول څرنګه وي؟

تفسیر

د الله ﷻ د فضل او انعام یوه نمونه پر خپلو بندګانو دا ده چې ځمکه یې هغوی ته غوړولې او نرمه کړې ده، ترڅو د ځمکې دپاسه حرکت وکړي او دګرځېدنې او حرکت له لارې، د آبادیو او ودانیو او یا د کښت او زراعت له لارې ورڅخه ګټه واخلي او د ځمکې له حاصلاتو او زېرمو څخه روزي ترلاسه کړي. له همدې کبله الله تعالی په دغه مبارک آیت کې مسلمانانو ته امرکوي چې په آرامه مه کینۍ د ځمکې په شا او خوا کې وګرځئ او د ځمکې له خزانو څخه د ژوندانه په چارو کې، لکه د خوراک، پوښاک او نورو اړتیاوو پوره کولو په شمول استفاده وکړئ، ترڅو نورو ته اړ ونه اوسې. په هره اندازه چې مسلمان له الهي نعمتونو

څخه د ګټې اخیستلو او له ځمکې څخه د پیداوارو او حاصلاتو په لاس ته راوړلو کې سستي او ناراستي وکړي، په همغه کچه به نورو ته اړ او محتاج وي چې دا کار د ذکر شوي آیت نه په څرګند مخالفت دلالت کوي.

د مبارک آیت ځینې علمي دلالتونه

علماوو او مسلمانو لیکوالانو د دې آیت ﴿هُوَ الذي جَعَلَ لَكُمُ الأرض ذَلُولاً...﴾ په هکله مفصلې خبرې کړي دي، چې د قرآن علمي اعجاز ثابتوي. مورږ دلته د دې نظریاتو لنډیز د ګرانو زده‌کوونکو د لازیاتې ګټې لپاره بیانوو:

قرآن کریم په ښایسته تعبیر د انسان ذهن د الله تعالی قدرت او د هغه زیاتو نعمتونو ته متوجه کوي.

په مبارک آیت کې د﴿ذلولاً﴾ صفت یعنې رام او تابع شوی د ځمکې لپاره ذکر شوی، حال دا چې اصلاً دا کلمه د سرکش حیوان لپاره استعمالیږي چې انسان هغه رام کوي، ترڅو د خپلو ګټو په لاس ته راوړلو کې له هغه څخه کار واخلي. علماوو ویلي چې دلته د دې لفظ اطلاق د ځمکې لپاره مقصود دی څکه همدا ځمکه چې مورږ غوړیدلې او آرامه وینو په حقیقت کې د یوه داسې سرکش حیوان په څېرده چې په ډول، ډول هیبتناکو او حیرانوونکو حرکاتو سره په حرکت کې ده. علمي نظریات او فضایې اکتشافات وایي د ځمکې کُره چې مورږ په هغې کې په آرامي اوهوساینې سره ژوند کوو او د هغې له پریمانه نعمتونو څخه ګټه اخلو، په خپل وضعي حرکت سره خپل محور کې د یو ساعت په ترڅ کې د ۱۶۶کیلومتر په تیزوالي څرخیږي. همدارنګه په خپل انتقالي حرکت سره په یوه دقیقه کې تقریباً د ۱۸۰۰ کیلو مترو په تیزۍ د لمر په محور څرخېږي، خو سره له دې ټولو حرکتونو او هیبتناکو خوزښتونو او لړزېدو، انسان په هغې کې پرته له دې چې د نا کرارۍ او پرېشانۍ احساس وکړي خپل کارونه سرته رسوي.

د ځمکې د حرکتونو ګټې او رازونه

البته دا ډول، ډول حرکتونه د انسان او د ځمکې په مخ د ژوند کولو لپاره ډېر حکمتونه او ګټې لري. چې په ځینو یې پوهیږو او د ځینو نورو له درک او فهم څخه عاجز یو، مورږ پوهیږو چې د ځمکې د خپل محور په شاو خوا له حرکت څخه شپه او ورځ پیدا کیږي، د لمر په شاو خوا د ځمکې له حرکت څخه د کال څلور فصلونه منځ ته راځي چې دا ټول د انسان لپاره الله تعالی د قدرتونو او نعمتونو نښې دي، څکه که دنیا د تل لپاره شپه وای نوټول شیان به د یخنې له امله کنګل کېدل او که دنیا د همیش لپاره ورځ وای بیا به ټول شیان د سختې ګرمۍ له امله سوځېدل.

په همدې ترتیب که چېرې د لمر په شاو خوا کې د ځمکې انتقالي حرکت نه وای او کال یوازې یو فصل درلودلی، نو د ځمکې پر مخ به ژوند په اوسنۍ بڼه ناممکن و، خو د ځمکې د دریم حرکت او د لمر او لمریز نظام د حکمت په هکله لا تر اوسه علم او علمي اکتشافات په څه نه پوهیږي.

د ځمکې په نسبت د ذلول د کلمې ځینې دلالتونه

د ځمکې په کُرې د (ذلول) د کلمې اطلاق ډېر دلالتونه لري چې الله تعالی هغه د انسان لپاره تابع او نرمه ګرځولې ده. د انسان لپاره د ځمکې رام کېدل او د هغې ګټې مختلف اړخونه لري چې دا لوست یې د تفصیل جوګه نه دی، مثلاً د انسان لپاره د ځمکې مناسبوالی او د ځمکې د جاذبې قوې له حیثه د هغې پرمخ ژوند تېرول... او د خاورینې کرې هوارې سطحې د جوړښت او ترکیب له حیثه... او د جوي (فضایي) پوښ، د هوا د کثافت، پر ځمکه د ژوند لپاره د دمحیطې هوا د دقیق ترکیب (۲۱٪ اکسیجن، ۷۸٪ نایتروجن، ۱٪ څو نورو عنصرونو) له حیثه... د ځمکې د حجم او له لمر او سپوږمۍ نه د هغې د واټن له حیثه... ځمکې ته د لمر د تودوخې درجې د رسیدو له حیثه... د ځمکې په ترکیب کې د اوبو او وچې د نسبت له حیثه... او ځمکې ته د سپوږمۍ د فاصلې او د سمندرونو د مد اوجذر د توازن له حیثه... او په سلګونو نور داسې توافقات چې دا کره یې د انسان د ژوند لپاره چمتو کړې ده، ترڅو انسان پرې ژوند وکړي او د هغې د مختلفو ظاهري او باطني زېرمو او پانګو څخه ګټه ترلاسه کړي، خو دا هوسایي او له ډول، ډول نعمتونو څخه استفاده به د تل لپاره نه وي، بلکې دا به د یوې ټاکلې او معینې مودې لپاره وي چې د دې مودې له تېرېدو وروسته انسان ارومرو د خپل خالق او منعم په لوري راګرځي، (و الیه النشور) نو پر انسان لازمه ده چې د دې لویو نعمتونو په وړاندې د الله ﷻ شکر ادا کړي. انسان لره دا نه ښایي چې د خپل منعم پالونکي په لور له ستنېدو او د هغه له محاسبې څخه غافل او بې پروا واوسي.

د تابع شوې ځمکې سرکشي او اضطراب

بیا الله تعالی انسان ته خبر ورکوي، دغه ځمکه چې تاسې وربانديې په آرامۍ او ډاډینې ژوند تېروئ، آیا نه پوهیږئ کله چې دا د الله تعالی په مشیت ولړزیږي او تاسې په خپله خټه کې دننه کړي، نو هغه وخت به وپوهیږئ چې زما ویرول څرنګه وي!

بشر چې د دې اېل شوې خاورینې کُرې پرمخ ژوند تېروي او د هغې له زیرمو او خزانو څخه ګټه اخلي، ښه پوهیږي چې کله د زلزلو، اورغورځیدنې، طوفانونو او نورو طبیعي پېښو په اثر ځمکه یوازې د یوې ثانیې اویا د محدودو دقیقو لپاره په خوزیدو او اضطراب شي او سرکشي غوره کړي، نو ټول شیان ړنګوي او هغه څه چې انسانانو پرې جوړ کړي له خاورو سره یوشان کوي او انسان سره له ټول کبر، غرور، ځواک او ټکنالوژۍ بې وسه او ناتوانه او حیران پاتې کیږي. همدا وجه ده چې قرآن‌کریم هغه انسان ته، چې د ځمکې پرمخ ژوند تېروي او د هغې

د نعمتونو په وړاندې غفلت او بې پروايي کوي، اخطار ورکوي چې د دې لويو نعمتونو په وړاندې په خپل خالق او پالونکي ايمان راوړي او د دې ټولو نعمتونو په وړاندې شکر ادا کړي، ترڅو د عذاب وړ ونه ګرځي.

د لوست ګټې او لارښوونې

د ذکر شويو آيتونو څخه لاندې ګټې لاس ته راځي.

۱- الله تعالی ځمکه او څه چې په ځمکه کې دي د انسانانو د ګټې لپاره پيداکړي دي.

۲- که چېرې انسانان د الهی نعمتونو شکرانه پرځای نه کړي، دوی به په دردناک عذاب اخته شي.

۳- انسانانو ته جواز لري چې خپل عقل او فکر د ځمکې د هغو پټو او څرګندو نعمتونو په برسېره کولو کې وکاروي چې د ځمکې په تل کې دي او خپل ژوند پرې نيکمرغه او سوکاله کړي.

پوښتنې

۱. لاندې کلمې معنا کړئ:

﴿ذَلُولاً، مَنَاكِبِهَا، الخسف، تَمُورُ﴾

۲. د«ذلول» کلمه اصلا د څه شي لپاره استعمالېږي او په مبارک آيت کې د ځمکې لپاره يې استعمال څه مناسبت لري؟ توضيح يې کړئ.

۳. د ځمکې درې ګوني حرکات د هريوه د تيزوالي سره په لنډه توګه شرحه کړئ؟

٤. د انسان د ژوندانه او هوساينې لپاره د ځمکې د کُرې د مناسبوالي پنځه صفتونه د«ذلول» د مبارکې قرآني کلمې په رڼا کې شرحه کړئ.

٥. د دې الهي وينا ﴿فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ﴾ په وړاندې مسلمانان څه مکلفيت لري؟ په لنډه توګه يې واضح کړئ.

٦. په دې مبارک آيت کې د ځمکې کُره د اضطراب او خوځښت په حالت کې د«ذلول» (رام- اېل شوي) د وصف پر عکس څرنګه ستايل شوې ده؟ د«ذلول» مقابله کلمه واضحه کړئ.

کورنۍ دنده

د مبارکو آيتونود تفسير په رڼا کې او د جغرافيې او بيالوژي د علم نه په استفادې سره د ځمکې د حرکتونو او د هغې د ګټو په اړه يوه مقاله وليکئ چې له شلوکښو څخه کمه نه وي.

اووم لوست

الله تعالی سره مینه د پېغمبر ﷺ په پیروۍ کې ده

قال الله تعالى: ﴿قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ۞ قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ﴾

[آل عمران: ۳۱-۳۲]

ژباړه

ای پېغمبره! خلکوته ووایه: که چېرې تاسې په رښتیا له الله ﷻ سره مینه لرئ، نو زما د پیروۍ لاره غوره کړئ، الله ﷻ به له تاسې سره مینه وکړي او ستاسې ګناهونه به تاسو ته وبښي، هغه ډېر بښونکی او مهربان دی.

ای پېغمبره! هغو ته ووایه چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ اطاعت وکړئ، بیا که هغوی ستا بلنه ونه منله، نو بیشکه الله له کافرانو سره (چې د هغه او د هغه د رسول ﷺ له پیروۍ څخه انکار کوي) مینه نه کوي.

د نازلېدلو سبب

ابن المنذر له حسن بصري رحمه الله څخه روایت کړی، فرمایي: د پېغمبر ﷺ په زمانه کې داسې خلک وو چې ویل به یې: ای محمده ! په الله ﷻ سوګند دی چې موږ خپل پروردګار سره مینه لرو، نو دا الهي وینا نازله شوه: ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللهَ فَاتَّبِعُونِي﴾. همدارنګه محمد بن اسحاق له محمد بن جعفر بن الزبیر څخه روایت کړی چې د نجران د نصاراوو استازیو وویل: موږ د الله ﷻ د دوستۍ په خاطر د عیسی بن مریم او د هغه د مور علیهما السلام تعظیم او عبادت کوو، نو الله ﷻ د دې آیتونو په نزول سره خپل آخري پېغمبر ﷺ ته وویل، چې دوی ته ووایه: که چېرې تاسې له الله ﷻ سره مینه لرئ او غواړئ چې الله ﷻ له تاسو سره مینه وکړي، نو زما پیروي وکړئ او د الله ﷻ سره شریک مه نیسئ. په دې ترتیب یې د دوی دعوه چې د حضرت عیسی علیه السلام تعظیم او تقدیس د الله ﷻ د مینې په خاطر کوي، رد او باطله وګرځوله.[1]

۱- تفسیرالجامع لاحکام القرآن- ج /۵ص۹۲.

تفسير

په دې دوه آيتونو کې الله تعالى خپل پېغمبرﷺ ته امر کړى چې خلکو ته له الله ﷻ سره د دوستۍ سمه او صحيحه لاره وښيي، ترڅو ټولو انسانانو ته روښانه شي چې کوم خلک د الله ﷻ د دوستۍ او مينې دعوه کوي. بايد د دې لارې او کړنې په مطابقت عمل وکړي، ترڅو دوی الله ﷻ ته گران شي او الله ﷻ له دوی سره مينه ولري.

امام ابن کثير د دې مبارک آيت په تفسير کې ويلي دي «دا مبارک آيت حکم کوي چې که هرڅوک د الله ﷻ د محبت او مينې دعوه کوي، خو د محمدي لارې پابند نه وي، هغه په خپله دعوه کې دروغجن دی او د هغه دعوه د قبول وړ نه ده، تر هغه چې د محمدي شريعت او نبوي دين د ټولو ويناوو او کړنو پيروي او اطاعت ونه کړي»[1] د الله ﷻ او د هغه د رسول د مينې او محبت دعوه د هغوی د اوامرو نه د سر غړونې په صورت کې د قبول وړ نه شي گرځېدلی، لکه: څرنگه چې رسول اللهﷺ په صحيح حديث کې فرمايلي دي: «مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ»[2] يعنې که څوک داسې عمل ترسره کړي چې زما د امر (زما د دين) پر بنسټ ولاړ نه وي، هغه مردود دی.

په دی هکله په يو عربي شعر کې څومره ښايسته ويل شوي دي:

تَعصِي الإِلهَ وَأَنْتَ تُظهِرُ حُبَّهُ هَذَا لَعَمْرِيْ فِي الْقِيَاسَ بَدِيْعُ

لَوْ كَانَ حُبُّكَ صَادِقاً لَأَطَعْتَهُ إِنَّ الْمُحِبَّ لِمَنْ يُحِبُّ مُطِيْعُ

يعنې: د الله د محبت او مينې دعوه کوې، په داسې حال کې چې ته د هغه په معصيت او گناه اخته يې ! قسم دی چې دا کار د عقل او قياس خلاف دی. که ستا دوستي رښتينې وای نو د هغه اطاعت به دې کولای، ځکه دوست د خپل دوست او محبوب اطاعت کوي.

أزهري د دې آيت په تفسيرکې وايي: د الله ﷻ او د هغه د رسول سره د بنده مينه د هغوی داوامرو اطاعت او فرمانبرداري ده او د خدای تعالى مينه له بنده سره، بنده ته د الله تعالى مغفرت او بښنه ده.[3]

د الله ﷻ د مينې نښې

په دې مبارک آيت کې ليدل کيږي چې د الله ﷻ سره د بنده د مينې او محبت لومړنۍ نښه د د الله د رسولﷺ پيروي او د هغه د امر منل دي چې د الله ﷻ د مينې او د گناهونو د بښنې

۱- دابن کثيرتفسير- ج۳/ص/۴۶.

۲-متفق عليه- البخاري – ۲۵۷۱ المسلم- ۳۳۲۸

۳- د قرطبي تفسيرج- ۵ - ص - ۹۲

لامل ګرځي. الله تعالی ډېر ښونکی او پرهغه چا ډېرمهربانه دی چې د پېغمبرﷺ د پیروی او اوامرو د منلې له لارې الله تعالی ته نژدېوالی غواړي.

بیا هم الله تعالی پر خپل پېغمبرﷺ د امر په صیغه ټینګار کوي چې خلک د الله ﷻ او د هغه د درسولﷺ پیروی او د امرمنلې ته وهڅوي ﴿قُلْ أَطِيعُواْ اللهَ وَالرَّسُولَ﴾، ترڅو په ټولو حالاتو، اوامرو او نواهیو کې د الله ﷻ او د هغه د رسولﷺ پیروي او اطاعت وکړي. که څوک د الله ﷻ د مینې او دوستۍ دعوه کوي او بیا د خدای ﷻ د رسولﷺ پیروي نه کوي، په حقیقت کې هغه دروغجن دی. مفسرین وایي: د الله ﷻ او د هغه د رسولﷺ اطاعت یوازې یو اطاعت دی او هیڅکله جدایي نه مني. د پېغمبرﷺ پیروي د الله ﷻ پیروي ده، لکه: چې الله تعالی په ټل آیت کې فرمایي: ﴿مَنْ يُطِعِ الرسول فَقَدْ أَطَاعَ الله﴾ [النساء: ٨٠] یعنې: څوک چې د الله د رسول محمدﷺ پیروي کوي، په حقیقت کې یې د الله ﷻ پیروي کړې ده.

سهل بن عبدالله فرمایي: له الله تعالی سره د مینې نښه د قرآن سره مینه ده، د قرآن سره د مینې نښه د پېغمبرﷺ سره مینه ده، دپېغمبرﷺ سره د مینې نښه د هغه د طریقو او سنتوپیروي ده او د دپېغمبرﷺ د سنتوسره مینه د آخرت سره مینه ده...[1]

لکه څرنګه چې د قرآن او سنتو له نصوصو نه څرګندیږي د الله ﷻ او د هغه د رسولﷺ سره مینه کول د ایمان د غوښتنو او اساساتو څخه ګڼل کېږي، د الله ﷻ او د هغه د رسولﷺ سره مینه د نیکو اعمالو د ترسره کولو باعث ګرځي او انسان دې ته هڅوي، ترڅو د الله ﷻ رضا د حاصلولو لپاره نیک، غوره او وړ اعمال ترسره کړي.

له دې مبارک آیت څخه په څرګند ډول جوتیږي چې له الله ﷻ سره د مینې لرلو له شروطو څخه د پېغمبرﷺ متابعت او د هغه پیروي ده. د پېغمبرﷺ پیروي په دې کې ده چې مسلمان د هغهﷺ د سنتو او طریقو متابعت او فرمانبرداري وکړي. د پېغمبرﷺ سنت د هغه د قول فعل اخلاقو او د ژوند د طریقو څخه عبارت دي. په دې اساس که څوک غواړي چې د الله ﷻ سره مینه او محبت ولري او الله ﷻ له ده سره مینه ولري، نو باید د پېغمبرﷺ او د هغه د سنتو اطاعت او فرمانبرداري وکړي. په یوه حدیث شریف کې له رسولﷺ نه روایت دی چې فرمایي:

١- تفسیرالقرطبي ج٥ ص ٩٢

«عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ مِنْ بَعْدِي»[1] يعنې پرتاسو لازمه ده چې زما د سنت او له ما وروسته د راتلونکو هدايت شويو راشدينو خلفاوو د سنت او طريقو متابعت وکړئ.

بايد و پوهيږو چې د قرآن له نظره د الله ﷻ اود هغه د پېغمبر ﷺ د محبت دعوا يوازې شعار او ژبنی دعوه نه ده، بلکې د ژوند په فردي او ټولنيزو چارو کې د پېغمبر ﷺ د تګلارې، منهج او نظام خپلول او عملي کول دي.

د پېغمبر ﷺ له اطاعته د نافرمانی پايلې

الله تعالی د دويم آيت پای کې په ډېر تند خطاب سره په رسول الله ﷺ باندې د ايمان دسرغړوونکو او د هغه له اطاعت او پيروي څخه د مخ اړوونکو د پای اوعاقبت په هکله داسې فرمايي:﴿ فإن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّ الله لاَ يُحِبُّ الكافرين﴾ يعنې: که چيرې هغوی مخ واړوي، نو الله تعالی کافران نه خوښوي.

امام قرطبي ددې آيت په تفسير کې داسې فرمايي: د ﴿فإن تَوَلَّوْاْ﴾ شرطيه جمله ده او د دې جملې موقعيت ته په کتو سره دهغې معنا داسې ده:که چېرې هغوی د کفر په حالت کې سرغړونه وکړي او د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ له پيروي نه اعراض وکړي ﴿فَإِنَّ الله لاَ يُحِبُّ الكافرين﴾؛ نو الله کافران نه خوښوي، يعنې الله تعالی د هغوی له کړنو څخه ناراضه وي او هغوی ته ښېنه نه کوي.

دغو مبارکو آيتونو په خپلو لوړو او ځلاندو لارښوونو سره د مسلمان د ژوند منهج او کړنلاره بيان کړي ده چې پر هغو باندې دعمل کولو پايلې، په اخلاص سره د الله ﷻ عبادت، له عذاب څخه خلاصون د اجر او ثواب حاصلول د نيکو اعمالو د ترسره کولو لپاره هڅه او هاند او د الله تعالی د رضا اومحبت حاصلول دي.

د لوست ګټې او لارښوونې

د ذکر شويو آيتونو ځينې ګټې او لارښوونې دا دي:

❖له الله تعالی سره مينه او محبت واجب او د ايمان له لوازمو او مقتضياتو څخه ګڼل کيږي. لکه: څرنګه چې د الله پېغمبر ﷺ فرمايلي دي: "لا يؤمن أحدكم حتى يكون الله ورسوله

١-الأوسط لإبن المنذر، حديث ١٢٨، والسنة للمروزی ، حديث٥٧، وشرح معاني الآثار للطحاوی ،حديث ٣١١

أحب إليه مما سواهما" يعني: هيڅ يو له تاسو نه مؤمن نه دی، ترڅو الله او پېغمبرﷺ يې له نورو ټولو نه ورته ګران نه وي.

❖ د الله ﷻ مينه د بنده لپاره هغه اصلي موخه اوهدف دی چې د علم او پوهې څښتنان په ژوندانه کې د هغه لپاره هلې ځلې کوي.

❖ د مؤمن بنده لپاره د الله ﷻ د مينې او محبت ترلاسه کولو لاره د الله ﷻ په رسول حضرت محمدﷺ باندې ايمان راوړل او په آسانۍ او سختۍ کې د هغه د شريعت منل او پيروي ده.

❖ د الله ﷻ او د هغه د رسول د مينې او محبت دعوه کول په داسې حال کې چې دعوه کوونکی د الله ﷻ او د هغه د رسول له اوامرو او نواهيو څخه مخالفت او سرغړونه کوي، باطله ده او د دې دعوې څښتن به يقينا له زيان او تاوان سره مخ وي.

❖ د الله تعالى او د هغه د رسولﷺ د ريښتينې مينې او محبت غوره نمونه دا ده چې د اسلام سپيڅلي دين په کامله بڼه نافذ شي، يعني د قرآن او سنتو احکام او ارزښتونه د خلکو د ژوند په ټولو فردي او ټولنيزو اړخونوکې په عملي توګه پلي شي.

پوښتنې

١. دغه مبارک آيت د نصاراوو دعوه د حضرت عيسىعليه السلام د تعظيم او لمانځنې په باره کې څرنګه رد کړې ده؟ واضح يې کړئ.

٢. ابن کثير رحمه الله د دې آيت ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللهَ فاتبعوني﴾ په تفسير کې څه فرمايلي دي؟ په لنډه توګه يې شرحه کړئ.

٣. د الله ﷻ د مينې او محبت د دعوه تر ټولو غوره نښه په څه کې ده؟

٤. ددې مبارکې جملې ﴿فاتبعوني﴾، په رڼاکې د پېغمبرﷺ له محبته څه مراد دی؟ واضح يې کړئ.

٥. ددې لوست مبارک آيتونه مسلمانان کومو لارښوونو او آدابو ته متوجه کوي؟

کورنۍ دنده

د لوست د موضوع په رڼا کې د الله ﷻ سره د مينې او د پېغمبرﷺ د پيروۍ په هکله دوه مخه مقاله وليکئ.

اتم لوست

اسلام بشپړ او هراړخیز دین دی

قال الله تعالى: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا ۞ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى مَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنْكَ صُدُودًا﴾ [النساء: ۶۰-۶۱]

د ځینو کلمو معناوې

يَزْعُمُونَ: ګومان کوي، دروغجنه دعوه کوي.

الطَّاغُوتِ: هر هغه څه چې پرته له الله تعالى پې عبادت او لمانځنه کیږي او حَکم وتاکلی شي.

يَصُدُّونَ: مخ اړوي، او نور منع کوي.

ژباړه

ای پېغمبره! آیا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې ګمان کوي چې مونږ ایمان راوړی دی په هغه کتاب چې تاته راغلی دی او په هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي دي. هغوی غواړي چې خپلې چارې د فیصلې لپاره د طاغوت لوري ته یوسي. حال دا دی چې هغو ته له طاغوت نه د منکریدو حکم شوی ؤ، شیطان غواړي چې هغو ګمراه کړي او د سمې لارې نه پې ډېر لرې وباسي اوکله چې هغوی ته وویل شي چې د الله ﷻ نازل شوي کلام او رسول ﷺ ته راشئ، نو ته وینې چې منافقان له تا څخه مخ اړوي په مخ اړولو سره.

د نازلېدلو سبب

مفسرینو ددې مبارک آیت ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الذين يَزْعُمُونَ...﴾ د نزول په هکله مشابه روایتونه نقل کړي چې یو سبب پې دا دی: ثعلبي او ابن ابو حاتم له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کړی د بشر په نامه یو تن منافق له یوه یهودي سره دعوه درلوده. یهودي وغوښتل چې پېغمبر ﷺ ته د فیصلې لپاره مراجعه وکړي، خو منافق ټینګار کاوه چې کعب بن اشرف ته چې د یهودیانو مشر ؤ، د پرېکړې لپاره ولاړشي. په پایله کې د الله پېغمبر ﷺ ته ورغلل او د الله پېغمبر ﷺ د جنجالي قضیې له اوربدلو وروسته د یهودی په ګټه حکم وکړ، خو (منافق بشر) د

الله د پېغمبرﷺ پربکړه ونه منله او له یهودي سره د حضرت عمرﷺ حضور ته ولاړل، ترڅو هغه د دوی ترمنځ حکم وکړي. عمر بن الخطابﷺ د موضوع له اوریدلو وروسته دوی ته وویل، تاسو دلته ایسار شئ. زه ستاسو ترمنځ فیصله کوم. حضرت عمر بن الخطابﷺ کور ته ننووت، خپله توره یې راواخیسته راووت او د منافق سر یې غوڅ او اعلان یې وکړ، دا ده زما فیصله، د هغه چا په هکله چې د اللهﷻ او د هغه د پېغمبرﷺ په حکم او فیصله نه راضي کېږي. دا مبارک آیت په همدې وخت کې په همدې اړوند نازل شو. پېغمبرﷺ حضرت عمر بن الخطابﷺ ته «فاروق» یعنې د حق او باطل بیلوونکي لقب ورکړ.

په بل روایت کې د دې مبارک آیت په شان نزول کې داسې راغلي چې دا متبرکه آیت د منافقینو د یو ټولي په باره کې نازل شوی دی چې هغوی به خپلې فیصلې د جاهلیت د رسمونو پر بنسټ کولې.[1]

د آیت د نزول سبب چې هرڅه وي مګر د قاعدې پر بنسټ (العبرة بعموم اللفظ لا بخصوص السبب) یعنې د قرآن عام لفظ معتبر دی نه د آیت د نزول ځانګړی سبب، د دې آیت نص د هغو کسانو عمل ردوي چې په خپلو فیصلو کې د اسلام له احکاموڅخه تېرې کوي او خپلې قضیې او شخړې د شیطان یا باطلو او غیر اسلامي قوانینو پر بنسټ کوي.

تفسیر

امام ابن کثیر رحمه الله د ذکر شوي آیت په تفسیر کې ویلي دي، الله تعالی پر هغه چا چې په الله او پېغمبرﷺ او په پخوانیو انبیاوو د ایمان دعوه کوي، خو د دعوو او جګړو حل او فصل د الله د کتاب او د رسولﷺ له سنتو پرته د نورو په فیصلې او قضا باندې راضي کېږي او هغوته مخه کوي، شدیداً رد کړی، هغه یې باطل او د طاغوت فیصله بللې ده.

په دې مبارک آیت کې د منافقانو له نښو څخه یوه لویه او څرګنده نښه ذکر شوې، ترڅو یې مؤمنان وپېژني او له هغې څخه ډډه وکړي. د منافقانو دا لویه نښه ده چې هغوی په اسلام او په هغه څه چې پر پېغمبرﷺ باندې نازل شوي دي، د ایمان دعوه کوي، خو هر کله چې د اللهﷻ او رسولﷺ حکم او فیصلې ته وغوښتل شي، مخ اړوي او سرغړونه کوي او په دې توګه خپل منافقت او دروغ ښکاره کوي.

فعالیت

ولې یهودي ونه غوښتل چې د فیصلې لپاره کعب بن اشرف یهودي ته ولاړشي، بلکې د الله د رسول حکمیت یې غوره وباله؟ زده کوونکي دې د خپل ښاغلي ښوونکي په لار ښوونه په دې هکله بحث او څېړنه وکړي.

۱- تفسیر ابن کثیر ج ۱۳۸/۴

د الله او د رسول حاکمیت

حاکمیت او فیصله یوازې اللهﷻ لره ده او د الله او پېغمبر د حکمونو منل د ایمان او اسلام شرط دی، لکه: څرنګه چې اللهﷻ تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾ [النساء: ۵۹] یعنې: ای مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د رسول اطاعت وکړئ او د هغو کسانو پیروي وکړئ چې پر تاسې آمران دي. که ستاسې ترمنځ په کومه چاره کې شخړه پېښه شي، نو هغه د اللهﷻ او رسولﷺ لوري ته محوله کړئ، که تاسې په رښتیا سره پراللهﷻ او د آخرت په ورځ ایمان لرئ.

د الله او پېغمبرﷺ اطاعت او د امر منله واجب او قطعي ده، نو کوم کسان چې د ایمان دعوه کوي باید په خپلو ټولو چاروکې د اللهﷻ د حکم او د اللهﷻ د پېغمبرﷺ د حکم پیروي وکړي، ځکه نه یوازې دا چې د الله د حکم او د پېغمبرﷺ د حکم پیروي واجبه ده، بلکې که کوم مؤمن د اللهﷻ د رسولﷺ په فیصله د زړه له کومې راضي او خوشحاله نشي او په بشپړه توګه ورته غاړه کښېږدي، د ایمان په دعوه کې ریښتنی نه دی، لکه: چې قرآن‌کریم په څرګنده توګه په دې هکله فرمایي: ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾ [النساء: ۶۵] یعنې: نه ده داسې ای محمده، ستا په رب قسم چې دوی هېڅکله مؤمنان کیدای نشي، ترڅو چې تا په خپل منځي شخړو کې حَکم او فیصله کوونکی ونه مني بیا چې ته څه فیصله وکړې پر هغې باندې په خپلو زړونوکې څه تنګي هم احساس نه کړې، بلکې سر تر پایه یې ومني.

اسلام تجزیه نه مني

د پورتني مبارک آیت او د قرآن او سنتو د نورو نصوصو پربنسټ، فیصله باید د الهي احکامو پر بنسټ وي. دا حکم ټولو قضیو او شخړو ته کې وړې وي او کې غټې شاملیږي او هېڅکله تجزیه او استثنا نه قبلوي.

اسلام د اللهﷻ کامل او پوره دین او د ټولو ادیانو بشپړوونکی دی. الله تعالی د اسلام دین د وروستني دین په توګه د بشریت لپاره غوره کړی دی. هرڅوک چې له اسلام څخه پرته بل دین قبلوي هېڅکله به ورڅخه ونه منل شي، لکه: څرنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ﴾ [آل عمران: ۱۹]: د الله په وړاندې دین همدا اسلام دی.

په بل آيت کې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾ [آل عمران: ۸۵]

يعنې: له اسلام پرته چې هر څوک کوم بل دين غوره کړي هيڅکله به ورڅخه قبول نه شي او په آخرت کې به هغه ناکام او زيانمن وي.

اسلام داسې دين دی چې ثابت او ښکاره بنسټونه او قواعد لري. بايد په بشپړه او کامله توګه عملي شي، ټولې لارښوونې او احکام يې ومنل شي، په ټولنه کې تطبيق او مثبتې او ګټورې پايلې يې معلومې شي. هيڅوک حق نه لري چې اسلام تجزيه کړي يا په بله وينا يو حکم يې ومني او بل يې پرير دي. الله تعالى فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً﴾ [البقرة: ۲۰۸] يعنې ای مؤمنانو! تاسې په بشپړ ډول په اسلام کې ننو ځئ او په بل آيت کې الله تعالى د هغو کسانو مذمت او بدي بيانوي څوک چې ځينې احکام قبلوي او د ځينو نورو له مننې نه سرغړونه کوي، داسې فرمايي: ﴿أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ...﴾ [البقرة: ۸۵] يعنې: آيا تاسې ځينې کتاب منئ او له ځينې نورو څخه بيا انکار کوئ ؟ نو د هغو خلکو جزا چې دا رنګه کارونه کوي پرته له دي بل څه نه ده چې په دنياوي ژوند کې به له رسوايئ سره مخ وي او د قيامت په ورځ به د خورا سخت عذاب په لور وروستل شي.

د اسلام د سپيڅلي دين د احکامو تجزيه او د هغه د ارزښتونو او تعليماتو نيمګړی تطبيق په فردي او ټولنيز ژوند کې مطلوبې او ټول اړخيزې پايلې نه ورکوي او د اسلام د کامل، شامل او هر اړخيزه دين له طبيعت سره په تضاد کې دی، ځکه اسلامي احکام او ارزښتونه د يو ماشين او يا لويې کارخانې د پرزو په څېر يو تربله تړاو لري. که چېرې هدف دا وي چې دغه نظام په سمه توګه کار وکړي او د بشر د دنيوي او اخروي نيکمرغيو مطلوبه نتايج ورڅخه ترلاسه شي لازمه ده چې دغه نظام د ژوند په ټولو اړخونو، لکه: د اعتقاداتو، عباداتو، معاملاتو، اخلاقو، قضا، سياست، اقتصاد او نورو برخو کې فعال او عملي شي.

د لوست ګټې او لارښوونې

د لوست ځينې ګټې او لارښوونې په لاندې ډول دي.

❖ حکميت او فيصله د الله ﷻ له کتاب او د رسول الله ﷺ له سنتو پرته حرامه ده او جواز نه‌لري.

❖مسلمان مکلف دی، ترڅو د طاغوت په وړاندې چې تر هر نوم او نښان لاندې وي، تسلیم نشي او هغه رد کړي.

❖پر مسلمان لازمه ده چې د شخړو او دعوو د حل لپاره د الله ﷻ کتاب او د رسول ﷺ سنتوته مراجعه وکړي او د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ له حکم څخه د زړه له کومې رضایت څرګندکړي.

❖اسلام هر اړخیز دین دی، تجزیه نه مني. د اسلام احکام اوقوانین باید په هر اړخیزه توګه د مسلمانانو په فردي او ټولنیز ژوندانه کې عملي شي، ترڅو هغه پایلې چې الله تعالی یې د بشریت د اصلاح او نیکمرغۍ لپاره اراده کړې، ترلاسه شي.

❖د اسلام د ځینو احکامو منل او د ځینو پرښودل په خپل ذات کې له اسلام سره دښمني او مخالفت دی، لکه چې حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د مسلمانانو لومړني خلیفه د لمانځه او زکات ترمنځ د توپیر کوونکو پر ضد د جنګ اعلان وکړ چې د ردت د جنګونو په نامه یادیږي.

پوښتنې

۱. د«طاغوت» معنا او مفهوم بیان کړئ.

۲. ولې هغه یهودي ونه غوښتل د فیصلې لپاره کعب بن اشرف ته، چې د یهودیانو لوی مشر و، مراجعه وکړي؟

۳. د الله ﷻ او د الله د پیغمبر ﷺ له حکم پرته د بل چا د حکم منلوته څه ویل کیږي او څه حکم لري؟

٤. مبارکو آیتونو د منافقانو یو اساسي او بنسټیز صفت بیان کړی، دا اساسي صفت کوم دی؟ واضح یې کړئ.

٥. څوک چې یوازې د الله ﷻ حکم قبول کړي او د پیغمبر ﷺ په حکم عمل نه کوي څه حکم لري؟ په قرآني آیتونو او احادیثو استدلال وکړئ.

٦. که څوک د اسلام په ځینو احکامو عمل وکړي او ځینې نور قصداً پرېږدي، څه حکم لري؟

کورنۍ دنده

د قرآن اونبوي احادیثو په رڼا کې د اسلامي احکامو د تجزیې د منفي نتایجو په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له شلوکرښو څخه کمه نه وي.

لمونځ تل پاتې اونه شليدونکې فريضه ده

قال الله تعالى: ﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُبِينًا ۞ وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَاةَ فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِنْ وَرَائِكُمْ وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ أُخْرَى لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُمْ مَيْلَةً وَاحِدَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ كَانَ بِكُمْ أَذًى مِنْ مَطَرٍ أَوْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَنْ تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُهِينًا ۞ فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِكُمْ فَإِذَا اطْمَأْنَنْتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا ۞ وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ إِنْ تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ وَتَرْجُونَ مِنَ اللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾ [النساء: ١٠١-١٠٤]

د ځينو کلمو معناوې

إِذَا ضَرَبْتُمْ: کله چې مو سفر وکړ.

جُنَاحٌ: ګناه، وبال

أَن يَفْتِنَكُمُ: که چېرې تاسوته ضرر او آزار ورسوي.

كِتَابًا مَوْقُوتًا: د وخت په پابندۍ فرض شوی دی.

وَلَا تَهِنُوا: سستي او اتنبلي مه کوئ.

يَأْلَمُونَ: دردمن کيږي، غم وررسيږي (کړاو ګالي)

ژباړه

او کله چې تاسو په سفر ووتلئ، نو څه باک نشته که په لمانځه کې لنډوالی وکړئ(په تېره بيا) کله چې له تاسې سره دا ډار وي چې کافران به مو وځوروي، بې له شکه چې کافران ستاسې ښکاره دښمنان دي.

او ای پېغمبره! کله چې ته د مسلمانانو په منځ کې يې او (د جنګ په حالت کې) له هغو سره په لمانځه ولاړ يې نو (په کار ده چې) له هغو څخه يوه ډله دې له تاسره ودرېږي او وسله دې په لاس کې واخلي، بيا چې کله هغوی سجده وکړه، نو وروسته دې شي او هغه بله ډله دې

راشي، چې (لا تراوسه يې) لمونځ نه دی کړی اوله تاسره دې لمونځ وکړي او هغه دې هم تیار او په وسله سنباله اوسي، ځکه کافران د دې (ځارنه کوي) چې که تاسې له خپلو وسلو او خپلو تجهیزاتو نه لږ شان غافله شئ هغوی به پرتاسې یو نا څاپي یرغل وکړي. البته که وو پر تاسې ضرر له باران څخه یا ناروغان اوسئ، نو په وسلې اېښودلو کې څه باک نشته، خو بیا هم ځارنه وکړئ، بې له شکه الله ﷻ کافرانو ته رسوا کوونکی عذاب تیار کړی دی.

بیا کله چې له لمانځه څخه وزګار شئ، نو په ولاړې او ناستې او ملاستې په هر حالت کې الله ﷻ یادوئ. او کله چې ډاډه شئ، نو عادي لمونځ اداء کړئ، بې شکه چې لمونځ پرمؤمنانو په ټاکلو وختونو کې فرض کړای شوی دی.

د دښمن د دلو په تعقیبولو کې سستي مه کوئ، که تاسو کړاو ګالئ، نو ستاسو په شان هغوی هم کړاو ګالي، خو تاسې له الله ﷻ نه د هغه څه هیله من یاست چې هغوي یې هیله من نه دي. الله ﷻ پرهر څه پوهیږي او الله ﷻ د پوهې او حکمت خاوند دی.

تفسیر

په اسلام کې د لمانځه مقام او منزلت

لمونځ (صلاة) د دعا په معنا دی اوپه شریعت کې د الله تعالی په دربار کې هغه ځانګړی عبادت دی چې په قیام، رکوع، سجده او مخصوصو دعاګانومشتمل دی. لمونځ د اسلام دویم رکن دی. الله تعالی په خپلې دې وینا سره چې فرمایي: ﴿الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ...﴾ [البقرة: ٣] د لمونځ ادا کول وروسته له ایمان بالغیب څخه د متقي او پرهیزګارو بندګانو دویم صفت ښودلی دی او د هغوی مدحه او ستاینه یې کړې ده. لمونځ هغه فریضه ده چې د مؤمن اړیکې له الله تعالی سره په ورځ کې پنځه ځله ټینګوي. په قرآن او حدیث کې د لمانځه د اداکولو یادونه د اقامت په تعبیر سره د دغې فریضې په دوام او ثبات دلالت کوي، په دې معنا چې دغه فریضه باید هېڅکله هم ترک نه شي.

له دې امله قرآن عظیم الشأن حتی د جنګ او جګړې پر مهال هم د دې فریضې په اداکولو ټینګار کړی دی او د وېرې د لمانځه د اداکولو طریقه یې بیان کړې ده، ځکه چې لمونځ د مؤمن لپاره د جګړې پر مهال د ارزښتناکې وسلې په څېر دی، ځکه به د پېغمبر ﷺ ملګري او ریښتني مؤمنان په دغې وسلې سمبال د جګړې ډګر ته ننوتل او پر خپلو دښمنانو به بریالي کېدل.

په دې مبارکو آیتونو کې د سفر احکام، د لمانځه د لنډوالي مشروعیت، د ډار او خطر په وخت کې د لمانځه د ادا کولو څرنګوالی، د لمانځه د وختونو فرضیت او نور احکام بیان شوي دي چې په دغو ټولو حالاتو کې د الله ﷻ په عبادت د مؤمنانو پابندي، د لمانځه ادا کول، وخت پېژندنه، له وخت څخه بنه ګټه اخیستنه او په کارونو کې د مسلمانانو د زیار او جدیت څرګندونه کوي.

کوم احکام چې علماوو له دې آیتونو څخه را ایستلي هغه دا دي.

۱. جمهور علماء په دې آند دي چې مبارک آیت په سفر کې د لمانځه د لنډون(قصر) مشروعیت ثابت کړی دی او له لنډون څخه مراد د رکعتونو په کمیت او عدد کې دی، یعنې څلور رکعتي فرض لمونځ دوه رکعته ادا کیږي، توپیر نه کوي چې د ډار او خطر سفر وي او که مسافر د امن او آرامۍ په حالت کې وي.

۲. د قصر د لمانځه د مودې په هکله علماء مختلفې ویناوې لري، د حنفي مذهب مطابق دا موده د درې ورځو او درې شپو عادي پلی تګ ټاکل شوی دی.

۳. دسفر د ډولونو په هکله هم د علماوو رایې مختلفې دي. په داسې حال کې چې ټول علماء د جهاد، حج، عمرې او نیکو مقصدونو او د صله رحمۍ او خپلوۍ پاللو په سفرونو کې متفق دي. جمهور علماء په دې نظر دي چې په مباح سفر، لکه: تجارت او داسې نورو کې د لمانځه لنډون جواز لري، خو د معصیت او ګناه په سفر، لکه: بغاوت، لارې شکول او داسې نورو کې جواز نه لري.

٤. د اقامت او اوسیدنې د مودې په هکله له پنځلسو ورځو څخه د زیاتو اوسیدلو نیت اقامت ګڼل کیږي، نو لمونځ به پوره کوي خو د پنځلسو ورځو څخه کم د قصر موجب دی.

٥. په دې مبارک آیت ﴿إِنَّ الصلاة كَانَتْ عَلَى المؤمنين كِتَاباً مَّوْقُوتاً﴾ کې د لمانځه فرضیت په بلاغي او بیاني ډېرو تاکیداتو سره راغلی، ترڅو مسلمانان په هر راز حالاتو او شرطونو کې د دې فریضې له ادا کولو څخه غفلت او تنبلي ونه کړي. د لمانځه ادا کول پر مسلمانانو په ټاکلو وختونو کې فرض شوي چې باید د اقامت، سفر، امن، خطر او په هرحالت کې ادا شي.

٦. په مبارکو آیتونوکې راغلي دي چې مؤمنانو ته نه ښایي د خپلو دښمنانو په وړاندې سستی او بیوسي ښکاره کړي، ځکه دښمنان یې تل د زیان او له منځه وړلو په تکل کې دي، ځکه د عقل په حکم او د سنتو مطابق د حق او باطل ترمنځ مقابله او مدافعه، لکه: څرنګه چې مؤمنان د ستونزو، رنځونو او دردونو سره مخ کیږي، دښمنان یې هم د دې رنځونو او دردونو

څخه خلاصون نه لري، بلکې د مومنانو په څېر دوی هم له زیاتو ستونزو، رنځونو او دردونو سره مخ کېږي، خو د دې کړاوونو په وړاندې مومنان د الله ﷻ رضا، د دین لوړوالی او اخروي اجر حاصلوي، په داسې حال کې چې دښمنان یې پرته له دې چې د نفس او شیطاني غوښتنې یې تر سره شي او د آخرت له زیان او نقصان سره مخامخ شي، بل څه نه شي حاصلولی.

د وېرې(خوف) لمونځ او د ادا کولو کیفیت یې

په ذکر شویو مبارکو آیتونو کې د وېرې د لمانځه مشروعیت او کیفیت په داسې توګه بیان شوی دی چې هرکله مسلمانان د جنګ یا خطر په حالت کې وي، نو الله تعالی خپل پېغمبر ته امر کړی چې صحابه په دوو ډلو وویشي. لومړۍ ډله له وسلې سره د اسلام له پېغمبر ﷺ سره د جماعت لمونځ پیل او دویمه ډله دې د حفاظت لپاره د دښمن په وړاندې څارنه او نظارت وکړي. کله چې یو رکعت لمونځ ادا شو، لمونځ کوونکې ډله به د ساتونکې ډلې ځای ته ولاړه شي او ساتونکې ډله به د الله په پېغمبر(د جماعت کوونکو امام) پسې له خپلې وسلې سره ودرېږي او دویم رکعت به ادا کړي د امام له سلام ګرځولو څخه وروسته به دا ډله پرته له سلام ګرځولو د ساتنې او حفاظت ځای ته ولاړه شي او لومړۍ ډله به راشي، پاتې یو رکعت به د لاحق په توګه ادا کړي بیا دویمه ډله به راوګرځي او پاتې یو رکعت به د مسبوق په توګه له قرائت سره ادا کړي او د تشهد او درود له ویلو څخه وروسته به سلام وګرځوي. البته دا ذکر شوې طریقه د احنافو له مذهب سره سمون لري او نورو مذهبونو په لږ توپیر سره د وېرې د لمانځه ترتیب بیان کړی دی چې تفصیل یې د فقهې په کتابونو کې ذکر شوی.

فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي تر لارښوونې لاندې د وېرې د لمانځه د ادا کولو طریقه د ځینو نورو مذهبونو له نظره وڅېړي.

د لوست ګټې او لارښوونې

دا مبارک آیتونه ډېرې لارښوونې لري چې ځینې یې په دې ډول دي:

❖ الله تعالی مسلمانانو ته د جماعت د لمانځه په ادا کولو امر کړی آن تردې چې که هغوی له دښمن سره د جګړې د تیارۍ په حالت کې هم وي.

❖لمونځ د بنده او الله ﷻ ترمنځ اړیکه ده. له همدې امله اسلام خپل پیروان د جنګ په میدان کې هم د لمانځه په ادا کولو ملزم کړي دي، ځکه هرکله چې د مجاهد او الله ﷻ ترمنځ رابطه او اړیکې ټینګې شي، الله ﷻ له هغه سره مرسته کوي او بری وربښي.

❖په داسې حال کې چې د اسلام مقدس دین د بنده او پروردګار ترمنځ د اړیکو په ساتلو امر کړی، په عین حال کې یې د خوف د لمانځه پر مهال په ځارنه، هر ډول وسله اخیستنه، پاملرنه، احتیاط او چمتو والي هم ټینګار کړی دی.

❖اسلام خپل پیروان په روحي، عقلي او جسمي روزنه پالي، که هغوی د دې پالنې پربنسټ عمل وکړي، نو په دنیا کې به کامیابي، برلاسي او نیکمرغي او په آخرت کې لوړې درجې تر لاسه کړي.

❖لمونځ په ټولو ارکانو، شروطو او آدابو کې د سپیڅلتیا، نظم، وخت پیژندنې، پابندۍ او جدیت مظهر دی.

پوښتنې

۱. د لاندینیو کلمو معناوې واضحې کړئ:

(إِذَا ضَرَبْتُمْ– أَن يَفْتِنَكُمُ– كِتَابًا مَوْقُوتًا– وَلَا تَهِنُوا– يَأْلَمُونَ)

۲. د سفر هغه موده چې د لمانځه د لنډ ادا کولو موجب ګرځي د احنافو د مذهب له نظره څومره ده؟

۳. د لمانځه په لنډ ادا کولو او په سفر کې د روژې خوړلو حکمت د اسلام د مقدس دین له نظره څه شی دی؟

٤. په کومو حالاتو کې مسلمانان د وېرې د لمانځه په ادا کولو مکلفیږي؟

۵. د ویرې د لمانځه ادا کول د اسلامي شریعت له مخې په څه دلالت کوي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د آیتونو او احادیثو نه په استفادې سره د لمانځه د ګټو په اړه یوه مقاله وليکي چې له پنځلسو کرښو څخه کمه نه وي.

لسم لوست

د ظلم د مخنيوي لپاره د جهاد اجازه

قال الله تعالى: ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ۝ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَنْ يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝ الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ﴾ [الحج: ٣٩-٤١]

د ځينو كلمو معناوې

بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا: په سبب د دې چې دوی د ظلم مورد وګرځېدل.

بِغَيْرِ حَقٍّ: په ناحقه، په ناروا.

صَوَامِعُ: د صومعه جمع ده، د راهبانو ځانګړي عبادت ځايونه.

بِيَعٌ: د بيعه جمع- د نصاراوو كليساوې.

صَلَوَاتٌ: د يهوديانو عبادت ځايونه.

مَسَاجِدُ: د مسلمانانو عبادت ځايونه.

لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ: برلاسی او غالب دی.

إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ: كه چېرې دوی بريالي كړو او قدرت وروبښو په ځمكه كې.

ژباړه

هغو كسانوته (د جهاد) اجازه ورکړل شوه (چې د هغوی پرخلاف په تېري او جګړه لاس پورې كېږي) ځكه، هغوی مظلومان دي او الله ﷻ په يقيني ډول د هغو د ملاتړ وس او توان لري.

دا هغه كسان دي چې له خپلو كورونو څخه په ناحقه وايستل شول، يوازې په دې جرم چې هغوی وايي زمونږ رب الله ﷻ دی. كه الله ﷻ خلك يو دبل په واسطه دفع نه كړي او مخه يې ونه نيسي، نو د راهبانو خانقاوې، د عيسويانو كليساګانې او د يهوديانو د عبادت ځايونه او جوماتونه چې په هغو كې د الله ﷻ نوم ډېر زيات اخيستل كېږي، دا ټول به نړول شوی وای.

الله ﷻ به هرومرو د هغو کسانو ملا تړي وي څوک چې د هغه د دين ملا تړې وي، الله ﷻ ډېر زورور او بر لاسی دی.

دا هغه کسان دي چې که موږ دوی ته په ځمکه کې وس او واک ورکړو، نو لمونځ به قايم کړي، زکات به ورکړي، په ښو چارو به امر وکړي او د بديو مخه به نيسي او د ټولو چارو پای د الله ﷻ په لاس کې دی

تفسير

په اسلام کې د جهاد مشروعيت

مفسرينو ويلي دي ذکر شوي آيتونه هغه لومړني آيتونه دي چې د جهاد د مشروعيت او روا والي په اړه نازل شوي دي. کله چې د اسلام پېغمبر ﷺ په مکه کې و، مشرکانو د مسلمانانو کوچنۍ ډله ډېره ځوروله، د پېغمبر ﷺ ياران او ملګري به وهل شوي او ټپي شوي د ده حضورته راتلل او خپل مظلوميت به يې د الله ﷻ رسول ته وړاندې کاوه، خو پېغمبر ﷺ به دوی ته ويل: د صبر او زغم څخه کار واخلئ، ځکه چې زه په جنګ نه يم مامور شوی، تر دې چې پېغمبر ﷺ هجرت وکړ او دغه آيت نازل شو.

په دې مبارک آيت کې د مسلمانانو لپاره د جنګ د اجازې علت د دوی مظلوميت بيان شوی، نوځکه الله ﷻ دوی ته امر وکړ چې د خپلې عقيدې، ځان، مال او وطن د دفاع لپاره جهاد وکړي، نو الله ﷻ جهاد په خپل مناسب وخت کې فرض کړ. که چېرې مؤمنان په مکه مکرمه کې په جنګ مأمور شوي وای او دا هغه وخت و چې مشرکان له ډېرښت او قوت نه برخمن وو، نو د مسلمانانو لپاره جهاد يو ستونزمن کار و. کله چې مسلمانان په مدينه منوره کې ځای پر ځای شول او يو مرکز يې جوړ کړ، نو الله تعالى د جهاد حکم نازل کړ. مومنانو ته يې اجازه ورکړه چې له خپلو ځانونو څخه د فاع وکړي او دوی ته يې د بريالیتوب او برلاسی وعده هم ورکړه.

د ځمکې پر مخ د فساد مخه نيول

بيا الله ﷻ مؤمنان جهاد ته ترغيب او وهڅول او دا يې ورته وښوده چې د ظالمانو په وړاندې جهاد، مقابله او له ځانه دفاع داسې الهي سنت او طريقه ده چې د نړۍ نظام اومصلحت يې غوښتنه کوي، ځکه که چېرې پر مظلومانو باندې د ظالمانو لاسونه له ظلم او تېری څخه لنډ نشي، د ځمکې پر مخ فساد خپريږي. نو که مؤمنان د مشرکانود ظلم او تېري په وړاندې جهاد

ونه کړي مشرکان نورهم سرکشۍ او فساد ته مخه کوي، د عبادت، خیر او ښیګڼې ځایونه نړوي، نو د ظالمانو په وړاندې جنګ او جهاد د نړېوال نظام د ورانیدو او د ځمکې پر مخ د فساد مخه نیسي.

په ذکر شوي مبارک آیت کې د جهاد مشروعیت د ټولو انسانانو او ټولو ادیانو له حقوقو څخه د دفاع لپاره ذکر شوی. الله تعالی د نورو ادیانو د عبادت ځایونه د مسلمانانو په عبادت ځایونو مقدم کړي، ترڅو څرګنده شي چې جهاد په اسلام کې یوازې د مسلمانانو د حفاظت لپاره نه دی بلکې د ټولو مظلومو انسانانو د دفاع لپاره او د نورو ادیانو د معنوي او دیني حقوقو د حفاظت لپاره هم دی.

د ټولنې د اصلاح بنسټونه

ذکر شویو مبارکو آیتونو د اسلامي ټولنې د اصلاح او قوت تر ټولو غوره بنسټونه بیان کړي دي او هغه دا چې د الله ﷻ مومن او ریښتیني بندګان هغه څوک دي چې د الله ﷻ عبادت کوي او د ظلم او تېري په صورت کې هغوی ته دا حق ورکړ شوی دی چې د ظلم او تېري پرخلاف پاڅون وکړي او د خپل ځان او مقدساتو نه دفاع وکړي. د دې آیت او د قرآن عظیم الشأن او د نبوي سنتو د نورو نصوصو پر اساس د مسلمانانوجګړې او جنګونه د شخصي ګټو او غوښتنو د لاسته راوړلو لپاره نه دي بلکې د دې ټولو ترشا لوړ او ستر اهداف او موخې، لکه: د حق او عدالت له ارزښتونو نه دفاع، د مستضعفو او بې وزلو مظلومانو مرسته، د قوت برابرول او پرنورو د تېري او زیاتي مخنیوی او داسې نور شتون لري. کله چې مسلمانان د الله ﷻ په مرسته او توفیق پر یوې ځمکې حاکم او برلاسیتوب پرې حاصل کړي، نو په ټولنه کې د اصلاح د بنسټونو د عملي کولو او تطبیقولو مسؤولیت په اوږو اخلي، ترڅو ټولنه د خیر او کامیابۍ په لور روانه کړي. الله تعالی په دې آیتونو کې مؤمنان خپلو اصلاحي مسؤولیتونو ته متوجه کوي او فرمایي: کوم مؤمنان چې د الله ﷻ د دین مرسته کوي، الله ﷻ له هغوی سره مرسته کوي. کله چې هغوی پرخپلو دښمنانو برلاسي شي او پر ځمکه حاکم وګرځي، د الله ﷻ شکر ادا کوي او د خپلې عقیدې او اخلاص څرګندونه کوي، لمونځونه کوي، محتاجو او مسکینانوته د خپلو مالونو زکات ورکوي، خلک نیکیو او ښیګڼوته رابولي او له بدو او ناوړو کارونو څخه یې ژغوري، د ټولو ستنبدنه او رجوع یوازې الله ﷻ ته ده او الله تعالی به هرچا ته د خپلې وړتیا مطابق بدله ورکړي.

د لوست ګټې او لارښوونې

له ذکر شویو آیتونو څخه لاندې مطالب ترلاسه کیږي:

❖ د جنګ او جهاد مشروعیت د اللهس د دین د سرلوړۍ لپاره دی، ترڅو انسانان یوازې د واحد الله ﷻ عبادت وکړي او د الله ﷻ مؤمن بندګان او دوستان د ظلم او تېري ښکار ونه ګرځي.

❖ الله تعالی په دې مبارکو آیتونوکې رښتینو مؤمنانو ته د کامیابۍ او برلاسۍ وعده ورکړې ده.

❖ الله تعالی دکافرانو، خیانتګرو او ظالمانو سره د ناکامۍ وعده کړې ده او دوی یې د خپل عذاب او غوسې وړ بللي دي.

❖ جهاد له مظلومانو څخه د دفاع او ملاتړ په خاطر فرض شوی دی، ترڅو انسانان د خپلې عقیدې او عبادت له امله ونه ځورول شي.

❖ د اسلامي حکومت مسؤولیت دی چې په ټولنه کې اسلامي بنسټونه تطبیق کړي. چې د دې دندو په سرکې؛ د لمانځه ادا کول، د زکات ورکول، په نیکیو امر او له بدیو څخه منع کول دي.

پوښتنې

۱. لاندې کلمې معنا کړئ.

(بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا – صَوَامِعُ – بِيَعٌ– صَلَوَاتٌ– مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ)

۲. د جهاد د مشروعیت(روا والي) دلیل د مسلمانانو لپاره د مبارکو آیتونو په رڼا کې واضح کړئ.

۳. د مسلمانانو او غیر مسلمانانو د آزادۍ د دفاع لپاره د جهاد ارزښت څه دی؟ د دې لوست د آیتونو په اساس یې شرحه کړئ.

٤. د اسلامي حکومت دندې او مسؤولیتونه د ټولنې په اصلاح کې څه دي؟ په ذکر شویو آیتونو سره یې استدلال وکړئ.

۵. د امربالمعروف اونهي عن المنکر فریضه د ټولنې په اصلاح کې څه رول لوبوي؟ واضحه یې کړئ.

کورنۍ دنده

د ټولنې په اصلاح کې د امر بالمعروف اونهي عن المنکر د رول په هکله دوه مخه مقاله ولیکئ.

روژه او ګټې يې

قال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ۞ أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ۞ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۞ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾ [البقرة: ١٨٣-١٨٦]

د ځينو کلمو معناوې

كُتِبَ: حکم وشو، فرض کړی شوه.

الصِّيَامُ: روژه.

أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ: ټاکلې ورځې.

الْيُسْرَ: آسانتيا.

الْعُسْرَ: سختي.

أُجِيبُ: قبلوم.

يَرْشُدُونَ: سمه لاره وموميِ.

ژباړه

ای مؤمنانو! پرتاسې روژه فرض کړای شوې، لکه: چې له تاسې نه د مخکې پېغمبرانو پر پيروانو فرض کړای شوې وه، د دې لپاره چې په تاسو کې د پرهيزګاری صفت پيدا شي.

د څو ټاکلو ورځو روژې دي، که له تاسو څخه څوک ناروغ وي يا مسافر وي، نو په نورو ورځوکې دې هماغومره شمېر پوره کړي او کوم خلک چې په تکليف سره د روژې نيولو وس لري(او ويې نه نيسي) ، نو هغوی دې فديه ورکړي، د يوې روژې فديه يو مسکين ته

دوه وخته خواړه ورکول دي. څوک چې په خپله خوښه څه زياته نيکي وکړي نو دا د هغه لپاره غوره ده، خو که تاسې پوهيږئ ، نو ستاسې لپاره ښه همدا ده چې روژه ونيسئ.

رمضان هغه مياشت ده چې په هغې کې قرآن نازل کړای شو چې د انسانانو لپاره له سره ترپايه هدايت دی او داسې څرګندې لارښوونې پکې دي چې د سمې لارې ښوونکې او د حق او باطل يو له بله په ډاګه بېلوونکې دي. له دې کبله څوک چې دا مياشت ومومي پرهغه لازمه ده چې دا ټوله مياشت روژه ونيسي او که څوک ناروغ يا مسافر وي، نوهغه دې په نورو ورځو کې د روژو شمېر پوره کړي. الله ﷻ پرتاسې آسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل درباندې نه غواړي. له دې امله تاسې ته دا طريقه ښودله کېږي چې تاسې د خوښلو روژو شمېر پوره کړای شئ او په کوم هدايت سره يې چې تاسې سر لوړي کړي يئ په هغه سره د الله ﷻ لويي وستايئ او شکر کوونکي اوسئ.

کله چې زما بندګان له تا (محمد) نه زما په باب پوښتنه وکړي ، نوهغوی ته ووايه چې زه ورته ډېر نژدې يم. بلونکی چې کله ما وبولي، زه دهغه بلنه اورم او ځواب يې ورکوم، نو هغوی ته ښايي چې زما بلنې ته لبيک ووايي او پر ما ايمان راوړي. ته دا خبره هغوی ته واوروه. کېدای شي چې هغوی سمه لاره وموميِ.

تفسير

د روژې فرضيت

روژه د شرعې په اصطلاح کې له ځانګړو شيانو څخه، په ټاکلي وخت او ځانګړې طريقې او صفاتو امساک او ځان ساتنې ته روژه ويل کيږي.

روژې د يوه عبادتي رکن او د نفس د تزکيې لپاره د تربيتي طريقې په توګه په ټولو پخوانيو الهي اديانو کې په مختلفو کيفيتونو شتون درلود، مثلا کله په مطلقه توګه له خوراک څخه د ډډې کولو په بڼه او يا له ټاکلو خوراکونو څخه د ځان ژغورنې په توګه، لکه: د نصاراوو روژه يا په نورو بڼو چې په تفصيل يې موږ نه پوهيږو. ځکه په صحيحو نصوصو کې د تېر شويو امتونو د روژو په اړه تفصيلات نه دي بيان شوي. د شرايطو او آدابو په رعايت د رمضان د مياشتې روژه نيول د اسلام په مقدس دين کې له هر حيثه د روژې تر ټولو کامل شکل دی چې الله تعالی پرې د وروستي پېغمبر امت غوره ګرځولی دی. الله تعالی موږ ته په پخوانيو اديانو او امتونو کې د روژې له شتون او فرضيت څخه خبر راکړی دی، ترڅو د وروستي پېغمبر امت د اخري اوغوره امت په توګه د دې الهي حکم په ادا کولوکې په قوي عزم او ارادې عمل وکړي او د خدای ﷻ څخه د وېرې او تقوی په غوره کولو سره عالي درجې او د الله ﷻ رضا حاصله کړي.

مفسرينو ويلي دي: روژه د نورو ډېرو اسلامي احکامو په څېر په تدريج فرض شوې ده. د اسلام ګران پېغمبرﷺ په پيل کې مسلمانانو ته لارښوونه وکړه، ترڅو په هره مياشت کې درې ورځې روژه ونيسي، دا روژه فرضي نه وه، بيا د هجرت په دويم کال د روژې د فرضيت په هکله ذکر شوي مبارک آيتونه نازل شول، خو په هغو کسانو چې روژه سخته تمامېده، د هغوی رعايت پکې وشو او دوی کولای شول د هرې روژې پر ځای يو فقير ته خواړه ورکړي. بيا د روژې نيولو قطعي حکم نازل شو، ترڅو ټول مسلمانان د رمضان د مبارکې مياشتې روژه ونيسي، خو په دين کې د آسانۍ پر بنسټ يې ناروغانو، مسافرو، اميدوارو او شېدې ورکوونکو ښځو او نورو عذر لرونکو ته د روژې نه نيولو اجازه ورکړې چې په نورو ورځو کې به يې قضا راوړي.

روژه د اسلام له ارکانو څخه يو رکن دی. رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «بني الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله، وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة، وحج البيت، وصوم رمضان»[1].

ژباړه: د اسلام دين پنځه بناوې لري: په دې ګواهي ورکول چې له الله ﷻ پرته بل هېڅ برحق معبود نشته او محمدﷺ د هغه رسول او پېغمبر دی، لمونځ قايمول، زکات ورکول، د بيت الله حج ته تلل او د رمضان د مياشتې روژه نيول.

په مبارکو آيتونو کې د قرآن کريم د نزول د مياشتې په توګه د روژې د مياشتې په فضيلت ټينګار شوی. بيا الله پاک د خپل رحمت له مخې او پر مومنانو د اسانۍ په بنسټ ناروغانو او مسافرو ته د روژې خوړلو اجازه ورکړې چې تفصيلي احکام يې د فقهې په کتابونو کې بيان شوي دي. په دې مبارکو آيتونو کې ټول مسلمانان د روژې په نيولو مکلف شوي دي او پرته له شرعي او معقول عذر څخه د روژې له نيولو غفلت او سترګې پټول د دنيا او آخرت د زيان او تباهۍ موجب ګرځي.

لکه: څرنګه چې په يوه حديث شريف کې د ابوهريرهﷺ په روايت نبي کريمﷺ فرمايلي دي: «من أفطر يوماً من رمضان من غير رخصة ولا مرض لم يقضه صوم الدهر كله وإن صامه»[2]. يعنې: څوک چې له رخصت يا ناروغۍ پرته د رمضان يوه روژه وخوري، که ټوله زمانه هم روژه ونيسي د هغې ورځې اجر او ثواب به ونه مومي.

د اسلامي شريعت په حکمونو کې آسانتيا

په مبارک آيت کې داسې تصريح شوې: ﴿يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ يعنې الله پاک پر تاسې آسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل درباندې نه غواړي.

١- صحيح البخاری،كتاب الإيمان ، حديث ٨.

٢- صحيح ابن خزيمه، كتاب الصيام، حديث١٨٥٤.

په دې مبارکو آیتونو کې مهربان خدایﷻ ناروغ، مسافر او عمر خوړلو کسانو ته د روژې په احکامو کې آسانتیا راوستې، ناروغ او مسافر ته یې اجازه ورکړې چې د ناروغۍ او د سفر د سختیو له امله روژه وخوري او وروسته یې قضایي راوړي. همدا راز هغو زړو او عمرخوړلو کسانو ته یې هم د روژې خوړلو اجازه ورکړې چې د زوړوالي له امله روژې نه شي نیولای، دا کسان به د هرې روژې په مقابل کې فدیه (یو فقیر ته خواړه) ورکوي.

دا ډول احکام چې مکلفینو ته په کې آسانتیا راغلې وي په شریعت کې د رخصت په نامه یادیږي او د دې په مقابل کې هغه عادي حکمونه چې د تخفیف اړتیا په کې نه وي د عزیمت په نامه یادیږي. باید وپوهیږو چې په شرعي احکامو کې رخصت او عزیمت دواړه د شارع یعنې الله پاک له لوري دي. له رخصت څخه ګټه اخیستل په عزیمت باندې د عمل کولو په څېر یو شرعي کار دی او کوونکی یې د اجر وړ دی. پېغمبر علیه السلام په هغه حدیث کې چې عبدالله بن عمرﷺ روایت کړی په شرعي مسایلو کې له رخصت څخه د ګټې اخیستلو په اړه فرمایي: «إن الله يحب أن تؤتى رخصه، كما يحب أن تؤتى عزائمه»[1] **ژباړه:** الله پاک د خپل رخصت څخه ګټه اخیستل داسې خوښوي، لکه: په خپل عزیمت باندې یې چې عمل کول خوښیږي.

د شرعي رخصتونو احکام، قرانکریم او نبوي سنتو بیان کړي چې شرطونه او اړوند مسایل یې د فقهې په کتابونو کې په تفصیل سره موجود دي.

په شرعي احکامو کې د رخصت شتون د اسلامي شریعت په اعتدال او آسانتیا دلالت کوي او دا څرګندوي چې اسلام د فطرت دین دی، په شرعي احکامو کې داسې څه نشته چې د انسانانو د طبیعت، فطرت یا جسمي او روحي جوړښت سره ټکر ولري او د بشر له توان څخه پورته وي یا انسان په سختۍ کې واچوي، لکه: چې الله پاک د طهارت او پاکۍ د احکامو په ترڅ کې فرمایي: ﴿مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ﴾ [المائدة: ٦] **ژباړه:** الله پاک نه غواړي چې پر تاسو سختي راولي. په همدې ډول په بل ځای کې فرمایي: ﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾ [الحج: ٧٨] **ژباړه:** الله پاک په دین کې پر تاسو هیڅ سختي نه ده ایښې.

په فقه کې یوه قاعده شته چې وایي: «المشقة تجلب التيسير» یعنې سختي آسانتیا راولي. معنا یې دا ده چې هر کله پر مکلف باندې د کوم شرعي حکم په تطبیقولو کې سختي وي ، نو همدا

١- مسند امام احمد ابن حنبل، حدیث ٥٧٠٣، صحیح ابن حبان، حدیث ٣٥٥و ٢٧٨٧، مصنف ابن أبي شيبة ، حدیث ٢٥٩٣٢.

سختي له ځان سره رخصت او اسانتيا راولي[1]. د روژې په مبارکه مياشت کې ناروغانو، مسافرو او زړو افرادو ته د روژې خوړلو اجازه او په سفر کې د قصر لمونځ کولو اجازه هر يو د دې قاعدې غوره مثالونه دي. فقهاء وايي چې د ذکر شويو آيتونو تر څنګ دا آيت: ﴿يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ د دې فقهي قاعدې بنسټ دی چې: **المشقة تجلب التيسير.**

رسول الله ﷺ په خپل پياوړي تعبير سره اسلام د اسانه دين په توګه راپېژندلی او فرمايي: «**الدين يسر**»[2] دين اسانتيا ده. همدا راز په هغه حديث کې چې انس بن مالک رضي الله عنه روايت کړی داسې امر کوي: «**يسروا ولا تعسروا، وبشروا، ولا تنفروا...**»[3] **ژباړه:** آسانتيا وکړئ او سختي مه کوئ، خلکو ته د دين په کارونو کې زېری ورکړئ او هغوی له دين څخه مه زړه تورني کوئ. په بل روايت کې راغلي چې پېغمبر ﷺ دا حديث درې ځله تکرار کړ. د دې حديث تکرارول په دين کې په اسانتيا، په شرعي احکامو کې په سختۍ او غُلو نه کولو، خلکو سره په نېکه معامله او ديني کارونو کې په زيري ورکولو او د هغو کارونو او وينا وو څخه په ډډه کولو دلالت کوي چې له دين څخه د خلکو د متنفر کېدو لامل کيږي[4].

د رسول الله ﷺ له سيرت څخه هم څرګنديږي چې هغه مبارک به په کارونو کې اسانتيا ته ترجيح ورکوله. په متفق عليه حديث کې ام المومنين عايشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د خوی په اړه داسې روايت کوي: «**ما خير رسول الله ﷺ بين أمرين إلا أخذ أيسرهما، ما لم يكن إثما، فإن كان إثما كان أبعد الناس منه...**» **ژباړه:** هېڅکله رسول الله ﷺ ته په دوو کارونو کې اختيار نه دی ورکړل شوی مګر هغه به اسانه غوره کاوه، ترڅو به چې ګناه پکې نه وه، که ګناه به پکې وه، نو د هر چا نه به يې زيات خپل ځان تري لرې ساته.

له پورتنيو مبارکو آيتونو او هغو حديثونو څخه چې په تفسير کې ذکر شول، دا څرګنديږي چې اسلام يو فطري او اسانه دين دی، د اسلام د نورو ځانګړتياوو تر څنګ دا ځانګړتيا د دې لامل شوې چې اسلامي ارزښتونه هېڅکله نه زړېږي او د قيامت تر ورځې په هر وخت او هر ځای کې د ټولو بشري نسلونو لپاره يو شان د منلو او تطبيقولو وړ دي.

د الله ﷻ په وړاندې د روژه لرونکو مرتبه

الله تعالى ربښتينو او مؤمنو روژه لرونکو ته چې د روژې له نيکمرغۍ څخه برخمن شوي او د الله ﷻ د اوامرو او فرائضو التزام او له نواهيو څخه يې ډډه کړې ده، زيری ورکوي چې که

١- حاشيه رد المحتار ج١/ ص ٢٠٤ وص ٢٠٥،وج٢١٣/٣،الأشباه والنظائر للحنفي ج٩٦/١.

٢- صحيح البخارى حديث ٣٩، وصحيح ابن حبان ، حديث٣٥٢.

٣- صحيح البخاري، كتاب العلم، حديث ٦٩، صحيح مسلم ، حديث ٣٣٥١، د امام مسلم په روايت کې د (بشروا) پرځای (سكنوا) لفظ راغلی دی.

٤- مصنف ابن أبي شيبة، حديث ٢٤٨٥٨.

دوی الله ﷻ ته رجوع وکړي او خپلې اړتیاوې له هغه څخه وغواړي، نو مهربان الله ﷻ دوی ته نژدې دی او د دوی هیڅ غوښتنه او دعا به رد نه کړي، لکه: څرنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ....﴾

په دې مبارک آیت کې الله تعالی خپل پیغمبر ته خطاب کړی چې هر کله مؤمنان زما د لریوالي او نژدیوالي په هکله له تا څخه پوښتنه کوي، نو زه دوی ته نژدې یم، هره دعا قبلوم چې له سالم زړه او پاک نفس څخه صادره شي.

د تفسیر ځینو علماوو ویلي دي: په مبارک آیت کې د قرآن کریم د جاري اسلوب پرخلاف د(قل) (ووایه ای محمده!) کلمه د مؤمنانو د سوال په ځواب کې ساقطه شوې ده او الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته د (قل) په ټکي سره له امر کولو پرته خپلو بندګانو ته د ﴿فَإِنِّي قَرِيبٌ﴾ (زه نژدې یم) په جملې سره ځواب ویلی، ترڅو خپلو بندګانو ته خپل ډېر نژدېوالی وښیي چې د مؤمن بنده د دعا او الله ﷻ ترمنځ هیڅ واسطه او پرده نشته[1].

په پورتني آیت کې بندګانو ته د الله نژدېوالی د مکاني نژدېوالي په معنا نه دی، ځکه بندګانو ته د الله پاک مکاني نژدېوالی محال دی. بندګانو ته د الله پاک نژدېوالی په علم، قدرت، رحمت او د دعا په قبلولو سره دی، لکه: چې الله پاک په بل ځای کې فرمایي: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ﴾ [سورة ق: ١٦] **ژباړه:** مور انسان پیدا کړی دی او آن د هغه په زړه کې راپیدا کیدونکو وسوسو باندې پوهیږو او مور د هغه له شهرګ نه هم زیات هغه ته نژدې یو.

د ﴿فَإِنِّي قَرِيبٌ﴾ جمله د انسان په کړو او وینا باندې د الله پاک بشپړ علم ښیي، په دې معنا چې د انسان هیڅ کار او وینا له الله ﷻ څخه پټه نه ده.

روژه او د دعا قبلېدل

د دې لوست وروستی آیت چې غواړو تفسیر یې کړو دا دی: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾

مشهور مفسر امام بیضاوي له مخکینیو آیتونو سره چې د روژې په اړه دي، د دې آیت تړاو داسې څرګندوي: څرنګه چې په مخکینیو آیتونو کې الله پاک مومنانو ته د رمضان د بشپړې میاشتې په روژې نیولو، د الله پاک د شکر په ویستلو او د هغه پر لویوالي د اقرار کولو امر

١- التفسیرالوسیط للطنطاوي، تفسیر آیت١٨٦ سوره البقرة.

کړی و، په دې آیت کې یې دې ته متوجه کړل چې الله پاک د بندګانو له حالاتو خبر دی، د هغوی خبرې اوري او دعاګانې یې قبلوي[۱].

د روژې د آیتونو په منځ کې د دعا د آیت راتللو دلیل امام ابن کثیر داسې راښیي: الله پاک غواړي چې بندګانو ته د رمضان د روژې له بشپړولو وروسته او د روژه ماتي پر مهال د دعا کولو لارښوونه وکړي[۲].

د روژې په جریان کې او د روژه ماتي پر مهال د روژې د دعا قبلېدو په اړه له خوږ پېغمبرﷺ څخه زیات احادیث رانقل شوي دي.

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت کوي: سمعت رسول اللهﷺ یقول:« **للصائم عند إفطاره دعوة مستجابة. فكان عبد الله بن عمر إذا أفطر جمع أهله وولده ودعا**»[۳]. **ژباړه:** له رسول اللهﷺ څخه مې واورېدل: د روژه ماتي پر مهال د روژتي دعا قبوله ده. عبدالله بن عمرؓ به د روژه ماتي پر مهال خپله میرمن او کوچنیان رایوځای کول او په ګډه به یې دعا کوله. په یو بل حدیث کې له رسول اللهﷺ څخه روایت شوی چې فرمایي: «**إن للصائم عند فطره دعوة ما ترد**»[٤]. **ژباړه:** د روژه ماتي پر مهال د روژتي داسې دعا ده چې نه رديږي.

په بل حدیث کې پېغمبرﷺ فرمایي: «**ثلاثة لا ترد دعوتهم: الإمام العادل، والصائم حتى يفطر، ودعوة المظلوم...**»[٥]. **ژباړه:** د درې کسانو دعا نه رديږي: د عادل پاچا دعا، د روژتي دعا، ترڅو روژه ماته کړي او د مظلوم بنده دعا.

له دې امله روژتي باید د روژې د میاشتې له برکتونو څخه په ګټې اخیستلو سره په دعا او زارۍ کولو کې زیار وباسي او له الله پاک څخه چې قاضي الحاجات (د حاجتونو پوره کوونکی) دی د خپلو روا مقصدونو په غوښتلو کې سستي ونه کړي.

فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي تر لارښوونې لاندې د روژې د روحي او روغتیایي ګټو په هکله خپل نظریات وړاندې کړي.

۱- حاشية شيخ زاده على تفسير البيضاوي، ج۱/۴۹۵.
۲- تفسير ابن كثير، ج۲/ ص ۱۹۳.
۳- مسند أبو داؤود الطيالسي،حديث ۲۲۶۲.
٤- سنن ابن ماجه ، كتاب الصوم، حديث ۱۷۵۳. والمستدرك للحاكم ج۱/ ص ٤۲۲.
٥- المسند للإمام أحمد بن حنبل، ج۲/ ص ٤٤٥،سنن الترمذي ، كتاب الدعوات ،حديث۳۵۹۸، سنن النسائي،حديث ۱۷۵۲.

د لوست ګټې او لارښوونې

امام فخرالدین رازي رحمه الله ﷻ د رمضان د مبارکې میاشتې په هکله د الله ﷻ د فضل او رحمت دلایل په لاندې توګه بیان کړي دي:

❖ دا فریضه یوازې د اسلام د پیغمبر ﷺ د امت لپاره فرض شوې نه ده، بلکې په پخوانیو امتونو هم فرض شوې وه، نو هر حکم چې عمومیت ولري د هغه ترسره کول هم عام او آسانه وي.

❖ د روژې فریضه د تقوی د حاصلیدلو لامل ده. که دا فریضه نه وای ، نو د تقوی د لوی فضیلت حاصلول به هم له منځه تللي و.

❖ الله تعالی دا لویه فریضه په ټاکلو او معلومو ورځو پورې محدوده کړې ده، که دا فریضه د تل او یا ډېرې مودې لپاره وای، نو د مؤمنانو لپاره به ستونزمنه وه.

❖ الله تعالی د روژې میاشت له ټولو میاشتو نه غوره ګرځولې ده اوپه دې میاشت کې یې قرآن کریم نازل کړ.

❖ الله تعالی د مسافرو او ناروغانو لپاره د روژې نیولو تکلیف او ستونزه لرې کړې ده او د دوی لپاره یې د روژې نیول د راحت او هوساینې په ورځو کې روا ګرځولې ده.

پوښتنې

۱. د روژې د مبارکې میاشتې د مرتبې او فرضیت په هکله د لوست په رڼا کې معلومات ورکړئ.

۲. د اسلام په مقدس دین او نورو امتونو کې د روژې توپیر په لنډه توګه شرحه کړئ.

۳. د رمضان د میاشتې د روژې د نه نیولو له رخصت نه کوم کسان ګټه پورته کولی شي ؟

٤. کوم کسان چې د رمضان د میاشتې روژه په شرعی عذرونو خوري، باید څه وکړي؟

٥. که څوک پرته له شرعي عذره روژه پرېږدي، پر هغه باندې څه حکم مرتبیږي؟

٦. د لوست وروستی آیت په څه دلالت کوي؟ په لنډه توګه یې واضح کړئ.

۷. د رمضان د میاشتې په روژه کې د مؤمنانو لپاره د الله ﷻ د فضل او رحمت نښې او دلایل شرحه کړئ؟

کورنۍ دنده

د رمضان د روژې د ټولنیزو او فردي اغیزو په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له شلو کرښو څخه کمه نه وي.

دولسم لوست

حج د مؤمنانو د نړيوال يووالي څرګندوی

قـال الله تعـالى: ﴿وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَنْ لَا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ۞ وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ۞ لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ۞ ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ۞ ذَلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ عِنْدَ رَبِّهِ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعَامُ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ﴾ [الحج: ٢٦-٣٠]

د ځينوکلمو معناوې

بَوَّأْنَا: وموټاکه، چمتو مو کړ.

وَأَذِّن: اواعلان وکړه.

رِجَالاً: پياده- پلي.

ضَامِرٍ: د سفر او لوړې له امله ډنګر او ضعيف.

فَجٍّ عَمِيقٍ: لرې او ژورې لارې، ګوښې او اړخونه.

لْيَقْضُواْ: پاک کړي، لرې کړي.

تَفَثَهُمْ: خپله ناپاکي او خيری.

الْعَتِيقِ: پخوانی، د زورورو له غلبې څخه آزاد او خوندي.

ژباړه

ياد کړه هغه وخت چې مور د ابراهيم عليه السلام لپاره د دغه کور(د کعبې د خونې) ځای ټاکلی و(له دې هدايت سره) چې له ما سره هېڅ شی مه شريکوه او زما کور د طواف کوونکو او قيام او رکوع او سجده کوونکو لپاره پاک کړه.

او خلکوته د حج لپاره عمومي اعلان وکړه چې هغوی تاته له هر لرې ځای څخه پلي او پر اوښانو سپاره راشي.

ترڅو هغه ګټې وويني چې دلته د هغو لپاره موجودې دي او په څو ټاکلو ورځو کې په هغو ځارويو باندې د الله ﷻ نوم واخلي چې هغه تعالى دوى ته ورکړي دي، په خپله يې هم وخوري او تنګ لاسو محتاجانو ته يې هم ورکړي.

بيا دې خپل خيرې اوګردونه ليرې کړي، خپل نذرونه (واجبات) دې پوره کړي او د لرغونې خونې طواف دې وکړي.

خبره همدا ده او څوک چې د الله ﷻ د وضع کړای شويو حرمتونو درناوى وکړي ، نو دا ورته د هغه د رب په وړاندې ډېره غوره ده او ستاسې لپاره ځاروي حلال وګرځول شول، پرته له هغو شيانو څخه چې تاسې ته ښودل شوي دي، نو د بتانو له پليتۍ نه ځان وساتئ او له دروغو ويناوو څخه ډډه وکړئ.

تفسير

د کعبې شريفې د جوړښت اساس او مقصد

مبارک آيتونه بيانوي چې کعبه شريفه د توحيد پر بنسټ جوړه شوې ده او د هغې د جوړښت مقصد د يو الله ﷻ عبادت او بندګي ده. الله پاک له لومړۍ شيبې څخه خپل خليل ابراهيم عليه السلام ته د کعبې د جوړولو ځای معلوم کړ او ده ته يې امر وکړ، ترڅو د کعبې تهداب د سوچه توحيد او د ده د عبادت پر بنسټ کېږدي. دا کعبه د شرک او ګمراهۍ له شکوکو او له ظاهري او معنوي پليتيو څخه پاکه کړي، لکه: څرنګه چې يې فرمايلى دي: ﴿ أَنْ لَا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا ﴾

بيا الله تعالى خپل نبي حضرت ابراهيم عليه السلام ته امر وکړ چې د کعبې د ودانۍ له جوړولو څخه وروسته د الله ﷻ بندګانو ته اعلان وکړي چې د کعبې شريفې حج ته راشي. هغه وخت به هغوى وويني چې د الله ﷻ مومن بندګان د ځمکې له هرې ګوښې او کنارې څخه پلي او سپاره او په هره زمانه کې به په خپلو موجودو وسايلو سره د الله ﷻ د کور د حج او زيارت په نيت ډله ډله راځي او تر قيامته پورې به دا خوځښت، کوښښ او هلې ځلې دوام لري.

ابن کثير په خپل تفسير کې ليکلي دي: کله چې ابراهيم عليه السلام کعبه شريفه جوړه کړه، نو الله ﷻ ورته امر وکړ چې خلک د بيت الله شريف د حج لپاره راوغواړي. ابراهيم عليه السلام وويل: ای زما پالونکيه: زه څرنګه خلک ستا د کور حج ته را وغواړم حال دا چې آواز به مې د ټولو غوږونوته ونه رسيږي؟ نو ورته وويل شول چې ته اعلان وکړه او رسونه يې

ماته پرپرده. ابراهيم عليه السلام اعلان وکړ، خلک يې د بيت الله الحرام حج ته راوبلل. الله تعالى د ابراهيم عليه السلام دا اعلان د ځمکې ټولو سيمو ته ورساوه او ټولو موجوداتو د (لبيک اللهم لبيک) غږ پورته کړ چې د الله جل جلاله د دې وعدې مطابق د ميليونو انسانانو زړونه، د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې د کعبې شريفې په لوري هوسپړي او د هغې په ليدو او طواف روښانه کيږي او دا خوځښت به تر قيامته پورې جاري وي.

حج د خير، برکت او ګټې موسم

پورتني آيتونه د حج او اړوندو شعايرو په هکله دي. حج د اسلام پنځم رکن او د دې ستر انسان جوړوونکي دين له مهمو شعايرو څخه دی. حج په هر هغه مکلف مسلمان باندې فرض دی چې د ادا کولو جسمي او مالي توان يې ولري. ميليونونه مسلمانان په کال کې يو ځل د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د حج په ايماني غونډه کې سره راټول او د اسلامي امت د يووالي څرګندونه کوي. د احرام په سپينو جامو کې له اخلاص او ايمانه په ډکو اوازونو په يوه وخت او يوه ځای کې دا جملې تکراروي چې: «لبيک اللهم لبيک، لبيک لاشريک لک لبيک،إن الحمد والنعمة لک والملک، لاشريک لک» (مور حاضر يو! ربه مور حاضر يو! ته شريک نه لرې! مور حاضر يو! بېشکه ثنا او نعمتونه ستا دي، پاچاهي ستا ده، ته سيال او شريک نه لرې.)

د حج عبادت د انسانانو تر منځ د برابرۍ او مساوات څرګندوی دی. په دې انسان جوړوونکي عبادت کې ميليونونه نارينه او ښځينه، د نړۍ له بېلابېلو سيموڅخه، په بېلابېلو ژبو، بېلابېلو رنګونو، د مختلفو قومونو او توکمو څخه په يو رنګ جامو، يوه غږ، يوه وخت او ځای کې واحد الله جل جلاله ته په عبادت مشغولېږي او په بې ساري ستره غونډه کې د انسانانو برابري نندارې ته وړاندې کوي.

حج د ګناهونو د مغفرت لامل ګرځي او بدله يې جنت ته ننوتل دي. پېغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: «الحج المبرور ليس له جزاء الا الجنة»[1]. د قبول شوي حج بدله جنت دی. په بل حديث کې خو پېغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: «من حج فلم يرفث ولم يفسق، رجع كيوم ولدته أمه»[2]. يعنې چا چې حج ادا کړ او په هغه کې يې د جماع او د جماع له مقدماتو څخه (چې په حج او عمره کې د احرام له

١- مسند امام احمد بن حنبل،حديث ٧١٩٣، و مسند الحميدی ، حديث٩٦٨.

٢- متفق عليه، صحيح البخاری، حديث١٧٣٣، و صحيح مسلم، حديث ٢٤٨١.

ممنوعاتو څخه دي) ډډه وکړه او د فسق (د حرامو ارتکاب او د فرایضو پرېښودلو) مرتکب نه شو، له ګناه څخه داسې پاکیږي، لکه: له مور څخه چې نوی زیږېدلی وي.

هماغسې چې په مبارک آیت کې راغلي: ﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ﴾؛ حج د یو الله په وحدانیت اقرار او د هغه څخه د شریک نفي کول دي، حج له ټولو درواغجنو خدایانو او باطلو معبودانو څخه د کرکې څرګندونه ده. حج له ظالمو او ستمګرو قوتونو څخه د بېزارۍ اعلان دی، حج د بندګانو د اسارت له منګولو څخه د انسانانو پر آزادۍ ټینګار دی.

د مبارک آیت بله ټینګه غوښتنه دا ده چې څرنګه چې حقیقي لویوالی یوازې الله ﷻ لره دی، باید د هغه د شعایرو حرمت وساتل شي ﴿وَمَنْ يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ عِنْدَ رَبِّهِ﴾.

بل ټکی چې الله تعالی په ذکر شوي آیت کې بیان کړی دا دی چې مؤمنان د بیت الله حج ته په راتګ سره خپلې ګټې لاس ته راوړي. قرآن‌کریم د«منافع» لفظ په ذکر شوي آیت کې د نکرې په توګه یاد کړی چې د منفعت ټولو ډولونو ته شاملیږي او شمېر یې ممکن نه دی. دا هم د قرآن‌کریم له معجزو څخه یوه معجزه او د کعبې شریفې ښیګڼه او برکت دی چې د تاریخ په اوږدو کې مؤمنان او الله پالونکي انسانان هر کال د ځمکې له ګوټ ګوټ نه مکې مکرمې ته راټولیږي او یوه نړیواله غونډه جوړوي او د خپلو دیني او دنیوي ګټو شاهدان وي. د مؤمنانو له دیني ګټو څخه یوه دا ده چې الله تعالی یې ګناهونه بښي او دعاګانې یې قبلوي او له هغوی څخه راضي کیږي. دنیوي ګټې یې دا دي: په دې مقدس او پاک ځای کې د مسلمانانو راغونډېدل، یو له بل سره پېژندګلوي، مرسته او په خپلو کې یو بل ته د ښېګڼې لاس غځول، بې وزلو ته د خوړو ورکول، مالي ګټې، لکه: د حلال او روا تجارتي مالونو تبادله او نورې ښېلابېلې هغه ښېګڼې چې د زمانې په تېریدو رامنځته کیږي او مسلمانان به یې په راتلونکې کې شاهدان اوسي.

همدارنګه الله تعالی په ذکر شویو مبارکو آیتونو کې په دې مقدس او پاک ځای کې د انسانانو تر منځ مساوات او برابري ته اشاره کړې او پاک د الله په یووالي او له شرک او بت پالنې څخه په ډډه کولو یې ټینګار کړی.

فعالیت

زده کوونکي دې د بیت الله الحرام د حاجیانو د ګټو په باره کې چې د عموم لپاره د نکرې په صیغه ذکر شوي دي، بحث او څېړنه وکړي او خپل نظریات دې په ترتیب سره بیان کړي.

د لوست ګټې او لارښوونې

په ذکر شویو مبارکو آیتونو کې ډېرې ګټې او لارښوونې پرتې دي چې ځینې یې دا دي:

❖ د کعبې شریفې د ودانولو وجوب، کله چې له نړېدو سره مخ شي.

❖ کعبه او بیت الله الحرام باید پاک او ستره وساتل شي او د طواف کوونکو او لمونځ کوونکو لپاره چمتو واوسي او باید له هر ډول شرک، ګناه، جګړو او شخړو څخه خوندي وي.

❖ د بیت الله الحرام د حاجیانو لپاره د آسانتیاوو د چمتو کولو په خاطر د دفترونو او موسسو جوړولو مشروعیت.

❖ د حج په سفر او د حج په موسم کې مشروع تجارت جواز لري.

❖ مسلمانان د حج د فریضې په ادا کولو کې ګڼې دیني او دنیوي لویې ګټې لاس ته راوړي.

پوښتنې

۱. لاندې کلمې او لغات معنا کړئ:

(بَوَّأْنَا– وَأَذِّن– رِجَالاً– ضَامِرٍ– فَجٍّ عَمِيقٍ– لْيَقْضُواْ)

۲. کعبه شریفه چا جوړه کړې ده؟

۳. کعبه شریفه د کومو مقصدونو لپاره جوړه شوې ده؟

٤. د حج د ارکانو نومونه واخلئ.

٥. د حج ځینې دیني او دنیوي ګټې بیان کړئ.

کورنۍ دنده

په حج کې د انسانانو د مساوات او برابرۍ په هکله دوه مخه مقاله ولیکئ.

له خلکو سره نیکي او ښېګڼه

قــال الله تعــالى: ﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ۞ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُهِينًا ۞ وَالَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَنْ يَكُنِ الشَّيْطَانُ لَهُ قَرِينًا فَسَاءَ قَرِينًا ۞ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ آمَنُوا بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللَّهُ وَكَانَ اللَّهُ بِهِمْ عَلِيمًا﴾ [النساء: ٣٦-٣٩]

د ځینو کلمو معناوي

ذِي الْقُرْبَى: د خپلوۍ لرونکي(خپلوان).

وَابْنِ السَّبِيلِ: مسافر.

وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى: د خپلوۍ لرونکی ګاونډی(ګاونډی چې خپلوان وي.)

وَالْجَارِ الْجُنُبِ: پردی ګاونډی(ګاونډی چې خپلوان نه وي.)

وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ: د سفر ملګری، همیشنی دوست، میړه یا ښځه.

وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ: مریان او وینزې.

مُخْتَالًا: په تکبر او غرورسره په لاره تلونکی.

فَخُورًا: په نسب، چوکۍ اومال فخر او ویاړکوونکی.

قَرِينًا: نژدې ملګری، یو له بل سره ټرلی.

ژباړه

او تاسو ټول د الله بندګي وکړئ، له هغه سره هیڅ شی مه شریکوئ، له مور او پلار سره غوره چلن وکړئ، له خپلوانو، یتیمانو او مسکینانو سره نیک چلن وکړئ او له خپلوانو ګاونډیوانو سره، پردیو ګاونډیانو سره، د څنګ له ملګري، مسافر سره او له هغو وینزو او غلامانو سره چې ستاسې په لاس کې وي، د احسان چا ل چلن وکړئ. یقیناً الله داسې څوک نه خوښوي چې کبرکوونکی، مغروره او په خپله لوړتیا ویاړي.

او داسې کسان هم د الله ﷻ نه خوښیږي چې بخیلي کوي او نورو ته هم د بخیلۍ کولو لارښوونه کوي او هغه څه(شتمني) پټوي چې الله ﷻ په خپله پیرزوینه هغو ته ورکړې ده. د دغه راز نعمت منکرو خلکو لپاره موږ رسوا کوونکی عذاب تیار کړی دی.

او هغه خلک هم د الله ﷻ نه خوښيږي چې خپل مالونه صرف خلکو ته د ښودلو(ریا) لپاره لګوي او په حقیقت کې نه پر الله ﷻ ایمان لري او نه د آخرت په ورځ. رښتیا دا ده چې شیطان د چا ملګری شي د هغه ډېره بده ملګرتیا په برخه شوه.

په دغو خلکو به څه شوي وای که دوی پر الله ﷻ او د آخرت په ورځ ایمان راوړی وای او څه چې الله ﷻ ورکړي دي له هغونه یې لګولي وای؟ که دوی داسې کولای، نو له الله ﷻ څخه د دوی د نیکۍ حال پټ نه پاتې کیږي او هغه ورباندې پوهیږي.

تفسیر

له نورو سره احسان او ښېګڼه

الله تعالی په دې ذکر شویو مبارکو آیتونو کې مؤمنانو ته شرعي احکام بیان کړي دي چې عمل پرې وکړي او د دنیا او آخرت نیکمرغي یې په برخه شي. په لومړني آیت کې الله تعالی خپلو بندګانو ته امر کړی چې خاص د ده عبادت وکړي او شریک ورسره ونه نیسي. همدارنګه له خپل مور او پلار سره ښېګڼه وکړي او د دوی له پیروي نه سرغړونه ونه کړي. همدارنګه له خپلوانو، یتیمانو، فقیرانو او خپلو او پردیو ګاونډیانو او دوستانو، لکه: مېړه او میرمن، د سفر ملګري، ټولګیوا ل او د دفتر همکار، مسافرو، نوکرانو او نورو سره ښېګڼه او احسان وکړي. البته له ذکر شویو خلکو سره احسان او نیکي یو تأکیدي او ضروري امر دی، که نه احسان او ښېګڼه په اسلام کې په هر حالت کې د مسلمان وجیبه او مسؤولیت دی، لکه چې الله تعالی په بل آیت کې فرمایلي دي: ﴿وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ [البقرة: ١٩٥] یعنې نیکي وکړئ یقیناً الله نیکي کوونکي خوښوي.

فعالیت

زده کوونکي دې د خپل ښوونکي په لارښوونه د ګاونډیانو د ډولونو په باره کې او د دوی د هریوه د حقوقو په هکله د اسلام له نظره بحث او څېړنه وکړي او د ټولګیوالو په مخ کې دې شرحه کړي.

د بخل او تکبر بدوالی

په دویم آیت کې الله تعالی بخل او تکبر د دوو ناوړو صفتونو په توګه یاد کړي دی او په ډاګه کړي یې ده چې هغه تعالی د دې دواړو صفتونو لرونکي نه خوښوي. مبارک آیت په مال او علم کې بخل کول دواړه ناوړه کارونه ښودلي دي. اهل کتابو چې د اسلام د پېغمبر ﷺ صفتونه په خپلو کتابونو کې ښه پېژندل، خو پټول یې. د هغوی دا کار تر ټولو ناوړه بخل شمېرل کیږي.

همدارنګه د مدینې یهودیانو به انصارو ته ویل: له محمد ﷺ او یارانو سره یې مالي مرستې مه کوئ چې تاسو به د فقر او بېوزلۍ سره مخ شئ. الله تعالی د دې بخل او شومتیا په وړاندې دوی ته د ډېر سخت عذاب زیری ورکړ او فرمایي: ﴿ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَاباً مُهِيناً﴾.

الله تعالى د منافقانو ډله چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان نه لري، خو د خلکو د غولونې او ریا په خاطر څه مالونه صدقه کوي، ملامت کړي او د شیطان دوستان یې معرفي کړي دي. په پای کې یې دوی ته د بدو پایلو او دردناک عذاب وعده ورکړې. بیاهم مبارک آیت منافقان د ایمان تصحیح ته رابللي، ترڅو د نفاق او د الله ﷻ د لعنت له دایرې څخه ووځي، لکه: چې د دوی په هکله فرمایي: ﴿وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ آمَنُوا بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللَّهُ﴾. یعنې څه زیان به دوی ته رسیدلی وای، که چېرې یې په الله او د آخرت پر ورځ ایمان راوړی وای او له هغه څه نه چې الله دوی ته ورکړي یو څه یې نفقه کولای؟!

د لوست ګټې او لارښوونې

د ذکر شویو آیتونو ځینې ګټې او لارښوونې په دې ډول دي.

- ❖ عبادت یوازې او یوازې د الله پاک حق دی او هیڅ شی باید ورسره پکې شریک نه شي.
- ❖ په دې آیت او نورو آیتونو کې له مور او پلار سره ښېګڼه کول د الله پاک د توحید او عبادت پسې متصل ذکر شوي چې د مور او پلار سره د ښېګڼې او درناوي کولو په اهمیت دلالت کوي.
- ❖ له نورو سره ښېګڼه کول د مسلمان دنده او مکلفیت دی.
- ❖ فخر او ویاړ چې له غرور او تکبر نه پېدا کېږي د الله ﷻ په وړاندې یو ناوړه او کرکجن عمل دی.
- ❖ بخل او په هغه امر کول حرام کار دی، همدارنګه د علم او پوهې پټول هم حرام دي.
- ❖ د ریا حرمت او دا چې ریا کاران ترټولو زیات بد دي.
- ❖ د نا اهلو ملګرو بدي چې یو بل بدو او ناوړو کارونو ته رابولي.

پوښتنې

۱. لومړي مبارک آیت د لسو حقونو په اداء کولو امر کړی، هغه لس حقونه کوم دي؟

۲. په علم او پوهه کې له بخل څخه مراد څه شی دی؟ دیوه مثال په ترڅ کې یې څرګند کړئ.

۳. په پورتني آیت کې د ریا کارانو بدي بیان شوې ده. له ریا کارانو څخه په دې آیت کې کوم کسان مراد دي؟

٤. په تېر شوي آیت کې شیطان د کومو خلکو ملګری ښودل شوی او د شیطان د ملګرتیا پایلې څه دي؟

کورنۍ دنده

د آیتونو او احادیثو په رڼا کې (د علم په خپرولو کې د بخل کولو زیانونه) تر سرلیک لاندې پنځلس کرښې مقاله ولیکئ.

حلاله روزي خوړل او له حرامو ډډه کول

قال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ۝ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ [البقرة: ١٧٢-١٧٦]

د ځينو کلمو معناوې

طَيِّبَاتِ: د طيب جمع ده، حلال شيان.

الْمَيْتَةَ: له ذبحې پرته مړ شوی حيوان.

وَالدَّمَ: د ذبحې په وخت کې روانه وينه

أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ: هغه چې د الله ﷻ له نامه پرته د بل چا په نوم ذبحه شوی وي.

اضْطُرَّ: اړايستل شو. د لوږې يا وهلو په وسيله.

غَيْرَ بَاغٍ: بغاوت او تېری کوونکی نه وي.

ولاعَادٍ: له حد نه تېرېدونکی نه وي.

ژباړه

ای مؤمنانو! که تاسې په ربښتيا سره د الله ﷻ بندګي کوونکي ياست، نو کوم پاک شيان چې موږ درکړي دي، هغه په ډاډه زړه خورئ او د الله شکر وباسئ.

د الله له لوري که پر تاسې څه بنديز لګول شوی، نو هغه دا دی چې مرداره مه خورئ، د وينې او خنزير د غوښې له خوړلو ډډه وکړئ او داسې کوم شی مه خورئ چې پرهغه له الله ﷻ نه پرته د بل چا نوم اخيستل شوی وي. هو، که څوک د اړتيا په حالت کې وي او له دغو شيانو څخه کوم شی، پرته له دې چې د الهی حکم د ماتولو اراده ولري يا له حده تېری وکړي، وخوري، نو پرهغه څه وبال اوګناه نشته. الله ﷻ ښښونکی او رحم کوونکی دی.

تفسير

د جاهليت په زمانه کې د عربو مشرکانو د خپلو پلرونو او نيکونو په پوچ او بې مفهومه تقليد سره هغه حيوانات چې الله ﷻ حلال ګرځولي وو، په مختلفو بڼو د بتانو په نامه نذر کول او په ځانونو يې حرام کړي وو. همدارنګه اهل کتابو، په تېره نصاراو او ځينو نورو ملتونو، په خپل باطل ګومان خپل نفس ته په عذاب ورکولو او له مختلفو نعمتونو څخه د ځان په محرومولو الله ﷻ ته نژديوالی غوښته.

الله تعالى محمدي امت ته په ټولو ملتونو او امتونو غوره والى وبانبه او هغه يې وسط او منځګړى امت وګرځاوه. په تبرشويو آيتونو کې الله تعالى مومنانو ته خطاب کړى کوم ځاروي او نور پاکيزه شيان چې الله ﷻ د روزې په عنوان تاسو ته حلال کړي دي، هغه وخورئ، خو د دې نعمتونو په وړاندې د خپل پروردګار په الوهيت او ربوبيت اعتراف وکړئ، د الله ﷻ شکر او ستاينه ادا کړئ او دغه الهي نعمتونه د مشرکانو او نورو ملتونو په څېر په ځانونو مه حراموئ، ځکه الله تعالى وينه، د خنزير غوښه، د هغه حيوان غوښه چې پخپله مړ شوى وي او يا پرې د الله تعالى له نوم پرته د بل چا نوم اخيستل شوى وي، حرام ګرځولي دي، خو سره له دې هم که ځوک مجبور او ناچاره شي ، نو له هلاکت نه د ځان ژغورلو لپاره له همدې حرامو شيانو څخه ګټه اخيستلى شي، په دې شرط چې د دې حرامو شيانو په خوړلو کى يې د خپل نفس لذت او خوشحالي مراد نه وي او يا دې حرامو ته په حلالو شيانو غوره والى ورنه کړي. همدارنګه دا حرام خواړه د ضرورت له اندازې زيات ونه خوري، بلکې دومره وخوري چې خپل ځان له هلاکته وژغوري.

په دويم آيت کې الله پاک ځينې شيان حرام کړي دي او مسلمان مکلف دى چې له خوړلو يې ځان وساتي. له شک پرته د نوموړو شيانو په حراموالي کې زياتې ګټې او حکمتونه شته، ځکه عليم او حکيم خداى په خپل ازلي علم او حکمت سره ښه پوهيږي چې کوم شيان انسانانو ته ګټور او کوم ورته زيانمن دي. نن چې د قرآن مجيد له نزول څخه څه د پاسه څوارلس سوه کاله تېر شوي دي، علمي څېړنې ښيي د هغو شيانو خوړل چې اسلام منع کړي دي، لکه: د خوګ غوښه، مرداره، شراب، مخدره توکي، او داسې نور د انسان روغتيا ته په زيان رسولو سربېره د نورو زياتو اقتصادي او ټولنيزو زيانونو لامل هم کيږي.

د هغو ځارويو د غوښې خوړلو تحريم د آيت بله غوښتنه ده چې له الله پاک څخه پرته د بل چا په نامه ذبحه يا نذر شوي وي. پرته له شکه ذبحه او نذر د لمانځه، روژې، زکات، دعا، رکوع او سجدې په څېر د عبادت له ډولونو څخه دي او له الله ﷻ پرته د بل چا عبادت کول شرک او ناروا عمل دى، ځکه عبادت يوازې او يوازې د الله ﷻ لپاره خاص دى. مسلمانان په هر لمانځه کې په وار وار سره د دې آيت په لوستلو ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ [الفاتحة: ٤] د يو خداى ﷻ سره ژمنه کوي چې يوازې د هغه عبادت به کوي او د هغه سره به هيڅوک په عبادت کې نه شريکوي.

الله تعالى د آيت په آخر کې په مومنانو احسان کړى، عفوه او بښنه يې ورته اعلان کړې او د خپل دين په آسانۍ يې ټينګار کړى.

فعاليت: زده کوونکي دې د خپل ښوونکي په لارښوونه د ﴿غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ﴾ د مفهوم په هکله بحث او څېړنه وکړي.

د لوست ګټې او لارښوونې

❖الله تعالی په خپلو بندګانو نعمتونه پېرزو کړي دي چې له هغو څخه د حلالې او پاکې روزي په توګه ګټه واخلي او د الله ﷻ شکر او ستاینه وکړي.

❖په مبارک آیت کې حلال شیان د خپل عاموالي او زیاتوالي له مخې شمېرل شوي نه دي، یوازې حرام شیان شمېرل شوي او نومونه یې یاد شوي دي.

❖میته (مردار) هغه حیوان دی چې پرته له ذبحې یې سا وتلې وي.

په مړو حیواناتو کې ټول هغه حیوانات شامل دي، چې زندۍ شوي وي، وهل شوي وي، له کوم لوړ ځای څخه لویدلي وي، په ښکر وهل شوي وي یا څیرووونکو حیواناتو نیم خوړلي وي او یا د ژوندي حیوان له بدن څخه کومه ټوټه غوښه پرې شوې وي.

❖همدارنګه خو ر پېغمبر ﷺ په صحیح حدیث کې د څېرووونکو حیواناتو او پنجې لرونکو مرغانو له خوړلو منع کړې او هغه یې حرام ګرځولي دي.

❖ماهی(کب) او ملخ د پېغمبر ﷺ د دې حدیث پر بنسټ د مردار حیوان له حکم څخه خارج دي، چې فرمایي: "أحلت لنا ميتتان ودمان: السمك والجراد والكبد والطحال" یعنې مو ر ته دوه مړه او دوه وینې حلالې شوې دي: ماهی او ملخ، ینه او توری.

❖حرامه وینه هغه ده چې له ژوندي حیوان څخه یا د حیوان د ذبحې په وخت کې جاري شوې وي، خو کومه وینه چې له غوښې سره ګډه ده، هغه حرامه نه ده، خوړل یې باک نه لري.

❖د خوګ غوښه، غوړي، پوستکی او ټول اجزاء یې په حرمت کی شامل دي.

❖الله تعالی د ذکر شویو حرامو شیانو خوړل د ضرورت او ناچاری یعنې د نفس د هلاکت له ویرې په دې شرط روا کړي، چې په آیت کې راغلې استثناوې مراعات شي.

پوښتنې

۱. د لاندې کلمو او لغاتو معنا روښانه کړئ:

(الْمَيْتَةَ، وَالدَّمَ،أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ، اضْطُرَّ، غَيْرَ بَاغٍ، عَادٍ)

۲. کوم شیان دي چې په آیت کې حرام ګڼل شوي دي؟

۳. د مردارو حیواناتو له ډلې څخه کوم حیوانات مستثنا دي؟ په نبوي حدیث یې ثابت کړئ.

٤. حرامه وینه کومه ده؟ واضحه یې کړئ.

٥. له ﴿وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ﴾ څخه مراد څه شی دي او ولې د محرماتو په ډله کې راغلي دي؟

٦. مسلمان په کوم حالت او د کومو شرطونو لاندې کولای شي له حرامو شیانو ګټه واخلي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د ببلابېلو حرامو خوړو د صحي او ټولنیزو زیانونو په اړه شل کرښې مقاله وليکي.

د الله ﷻ په لار کې انفاق (مال لګول)

قال الله تعالى: ﴿مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ۞ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنْفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۞ قَوْلٌ مَعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِنْ صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ ۞ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَى كَالَّذِي يُنْفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا لَا يَقْدِرُونَ عَلَى شَيْءٍ مِمَّا كَسَبُوا وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾ [البقرة: ٢٦١-٢٦٤]

د ځینو کلمو معناوې

يُضَاعِفُ: زياتوي، څو برابره کوي يې.

مَنّاً: احسان بارول، د خيراتونو يادونه د فخر، ويار او غوره والي غوښتلو په نيت.

أَذىً: آزار ورکول په بده او ناوړه خبره چې عزت ته يې زيان ورسيږي.

قَوْلٌ مَعْرُوفٌ: نېکه او ښه وينا.

مَغْفِرَةٌ: ښښنه د فقير او درويزه ګر له بد چلن څخه تېرېدنه.

غَنِيٌّ: ذاتي بډای چې هيڅکله نه محتاجيږي.

حَلِيمٌ: عفوه کوونکی، جزا ورکولو ته بېړه نه کوونکی.

صَفْوَانٍ: ښو يه تيږه.

وَابِلٌ: سخت باران.

صَلْداً: لغړه، له خاورو پاکه.

ژباړه

کوم خلک چې خپل مالونه د الله ﷻ په لاره کې لګوي د هغو د لګښت مثال داسې دی، لکه چې يوه دانه وکرله شي او له هغې نه اووه وړي زرغون شي او په هر وړي کې سل دانې وي، په همدې ډول کله چې د چا عمل ته د الله ﷻ خوښه شي، زياتوالی پکې راولي هغه هم پراخوونکی او هم د علم څښتن دی.

کوم خلک چې خپل مالونه د الله ﷻ په لار کې لګوي او له لګښت نه وروسته پاسلونه نه کوي (احسان نه بار وي)، نه آزار ورکوي، د هغو ثواب د هغو له رب سره دی او پر هغو څه وېره، ترهه، غم او خپګان نشته.

یوه خوږه خبره کول او له یوې ناوړې خبرې نه تېرېدل له هغه خیرات نه ډېر ښه دي چې ورپسې ازارول وي، الله ﷻ بې نیازه دی او زغم د هغه صفت دی.

ای مؤمنانو! خپل خیراتونه په پاسلونه او ازار رسولو د هغه چا په څېر مه باطلوئ چې خپل مال مازې خلکو ته د ښودلو لپاره لګوي، نه پې پر خدای ﷻ ایمان وي او نه د آخرت په ورځ، د هغه د لګښت مثال داسې دی، لکه: یوه ښویه تیږه چې دوړه پرې ناسته وي، کله چې سخت باران پرې ووریږي، ټوله دوړه ترې یوسي او تیږه هماغسې ښویه سوتره پاتې شي. دې خلکو چې په خپل ګومان سره د خیرات کومه نیکي ګټلې ده له هغې نه هیڅ شی، د هغو لاس ته نه ورځي او کافرانو ته الله ﷻ سمه لاره نه ښیي.

تفسیر

د نازلېدلو سبب

د یو روایت له مخې دا مبارک آیت ﴿مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ...﴾ د حضرت عثمان بن عفان او عبد الرحمن بن عوف په هکله نازل شوی. عثمان بن عفان د تبوک په غزا کې د اسلام لښکر مجهز کړ او عبدالرحمن بن عوف خپله نیمه پانګه، چې څلور زره در همه وه، د تبوک د غزا په خاطر د اسلام پېغمبر ﷺ ته وړاندې کړه . د الله رسول ﷺ داسې دعا ورته وکړه: الله ﷻ دې په هغه څه کې چې خیرات او صدقه دې کړل او په هغه څه کې چې ځان ته دې وسپمول، برکت واچوي. همدارنګه د عبدالرحمن بن سمره د روایت مطابق کله چې عثمان بن عفان زر دیناره د نبی کریم ﷺ په حضور کې کېښودل، نبي کریم ﷺ د خوشحالۍ په حال کې دا روپی په خپلو مبارکو لاسونو لاندې باندې کولې، ویې فرمایل:" لویه خدایه، زه هم ترې راضي شوم او ته هم ترې راضي اوسه."

د الله ﷻ په لار کې د مال لګولو څو برابره اجر

مفسرینو کرامو ویلي دي چې د ذکر شویو آیتونو حکم هر هغه مخلص نفقه ورکوونکي ته شامل دی چې خپل مال پې د الله ﷻ په لاره کې لګولی وي، قرآن کریم یې حالت د هغه تخم له دانې سره تشبیه کړی چې په حاصلخیزه ځمکه کې شنه شي، ښه وده وکړي او اووه وړي راوباسي چې په هر وړي کې سل دانې وي. دا ښایسته تشبیه هغه روښانه تعبیر دی چې الله تعالی د خپلو مؤمنو بندګانو د سوچه او ښایسته عملونو اجر او

ثواب داسې درنوي، لکه: هغه روغه دانه چې په ښه حاصل ورکوونکې څمکه کې وکرل شي او ښه زيات حاصل ورکړي.
بيا مبارک آيت بيانوي چې الله تعالى د الله په لارکې د مال لګوونکو اجر او ثواب څو برابره کوي، بلکې د صدقې او مال لګولو اجر او ثواب د انفاق کوونکي حالت ته په پام سره تر اووه سوه چنده زيات ورکوي. لکه: چې الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿وَاللهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَآءُ﴾. هرکله چې صدقه په خالص نيت له سالم زړه څخه، له پاک نفس څخه او د حلال مال څخه په مناسب ځای کې ورکړل شي، په باوري توګه د هغې ثواب څو برابره، بلکې بې حسابه دی، ځکه د الله ﷻ فضل، احسان او ښښنه حدود نه لري. له همدې امله مبارک آيت په دې لويه وعده ختم شوی: ﴿وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾ يعنې په خپل پراخ فضل او علم سره هر انسان ته د ده د نيت او عمل برابر بدله ورکوي.

احسان بارول او ازار رسول صدقې باطلوي

ورپسې آيت کې پر محتاج او درويزګر باندې د صدقه کوونکي احسان بارول او ازار رسول په سختو ټکو غندل شوي دي. دغه مبارک آيتونه ټينګار کوي، لکه: څرنګه چې الله ﷻ تعالى د مخلصانه صدقې او د الله ﷻ په لاره کې د لګښت اجر او ثواب څو برابره کوي او خاوند يې له هرډول ويرې او اندېښنو څخه په خپل امان کې ساتي، په همدې اندازه هغه صدقه او انفاق چې د ريا او احسان بارولو او ازار رسولو سره مل شي، باطل او بې اغېزې کيږي او څښتن يې په دنيا او آخرت کې د سخت عذاب وړ ګرځي. په مبارک آيت کې د احسان بارولو او ازار رسولو څخه مقصد دا دی چې صدقه کوونکی د توهين او سپکولو په نيت صدقه اخستونکي ته خپله مرسته او صدقه وريادوي او احسان پرې اچوی او يا په بل ډول ورته ضرر او زيان رسوي. له همدې امله الله پاک فرمايي چې فقير، محتاج او درويز ګر ته نېکه خبره کول له هغې صدقې څخه غوره دي چې له ضرر او زيان سره مله وي، ځکه نېکه خبره او د دروېزګر د ټينګار په مقابل کې هغه ته عفوه او ښښنه، له يوې خوا د دروېزګر د نفس د پاکۍ، مينې او محبت لامل ګرځي او له بلې خوا اجر او ثواب پرې حاصليږي، خو هغه صدقه او انفاق چې له احسان او منت سره مل وي، د فقير او محتاج د زړه ماتيدو او بې عزتۍ لامل ګرځي او د هغه رنځ او درد زياتوي.

د اسلام د پېغمبرﷺ صحيح حديث دی چې: «الكلمة الطيبة صدقة»[1] يعنې: ښه خبره صدقه ده.

وروستي آيت د تهديد او وېرولو په لهجه مؤمنانو ته خطاب کړی او په صدقه کولو کې يې له احسان بارولو او ضرر رسولو څخه منع کړي دي، ځکه احسان بارول او ضرر رسول د صدقې او مال لګولو ثواب د الله ﷻ په نزد له منځه وړي او صدقه کوونکی د خلکو له منني او احسان څخه هم محروموي. له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې د الله ﷻ پېغمبرﷺ فرمايي: "لا يدخل الجنة مدمن خمر، ولا عاق لوالديه، ولا منّان"[2] يعنې: عادتي شراب څښونکی، د مور او پلار عاق(نامنونکی) اولاد او احسان بارووونکی جنت ته نه شي داخليدای.

مبارک آيت هغه صدقه چې احسان بارول او ځوړول ورسره مل وي، له هغه منافق سره تشبيه کړې چې د ريا او ځان ښودنې په خاطر صدقه کوي او د الله ﷻ له اجر او ثواب څخه محروم وي. مبارک آيت مؤمنانو ته خطاب کوي چې خپلې صدقې او نفقې په احسان بارولو او ځوړولو مه باطلوئ، ترڅو د هغه منافق په څېرنه شئ چې رياييي او نمايشي اعمال يې له منځه تللي وي. د احسان بارولو او ځوړولو سره مل صدقه د هغې تيږې په څېر ده چې لږه دوړه پرې پرته وي، خو د سخت باران د اورښدو له املې تېره له دوړو او ګرد څخه پاکه شي او هيڅ حاصل نه ورکوي.

د منافق د رياييي اعمالو حالت همداسې دی چې د الله ﷻ په دربار کې اجر او ثواب نه لري او نه له هغه څخه څه ګټه په لاس راوړي او الله ﷻ کافرانو ته چې کفر يې پر ايمان غوره ګڼلی، د ګټې په لوري هدايت نه کوي.

فعاليت

زده کوونکي دې د ښوونکي تر لارښونې لاندې په صدقې او مال لګولو کې د احسان د بارولو او ځوړولو په هکله څو داسې نمونې، چې زموږ په ټولنه کې رواج لري، بيان کړي.

د لوست ګټې او لارښوونې

له مبارکو آيتونو څخه لاندې ګټې او لارښوونې ترلاسه کيږي:

- ❖ د صدقه کوونکي لپاره د صدقې اونفقې غوره والی او د هغې ګټې او پايلې.
- ❖ د الله ﷻ په لارکې په مال لګولو باندې د احسان اچولو او ځوړولو حرامولی.

۱- صحيح البخاری، صحيح مسلم حديث ۱۰۰۹.

۲- النسائي في سننه الكبرى ج ۳/ ص ۱۷٦ حديث: ٤٩٢٠.

❖په دنيا کې د خلکو له منني او احسان او په آخرت کې د الله ﷻ له اجر او ثواب څخه د احسان بارووونکي صدقه ورکونکي ېې برخېوالی.

❖محتاج او فقير ته په ښه اونيکه خبره ځواب ورکول او درويزه ګرته د نبي کريم ﷺ د حديث "**الكلمة الطيبة صدقة**". سره سم د سوال په ټينګار او بد خويي عفوه او تېريدنه.

❖د ريا حراموالی، لکه: چې پېغمبر ﷺ فرمايي: "وَإِيَاكُمْ وَالرِيَاءَ فَإِنَّه الشِرْكُ الأصْغَر". يعنې: له ريا څخه پرهيز وکړئ ځکه ريا وړوکی شرک دی.

پوښتنې

۱. لاندې کلمې او لغات معنا کړئ:

(يُضَاعِفُ– مَنّاً– أَذىً– مَغْفِرَةٌ– صَفْوَانٍ– وَابِلٌ– صَلْداً)

۲. ددې آيت ﴿مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ﴾ د نزول لامل شرحه کړئ؟

۳. الله پاک کوم ډول صدقې قبلوي؟

٤. الله ﷻ څرنګه صدقې څو برابره کوي؟ په مبارک آيت استدلال وکړئ.

٥. له احسان او ځوروولو سره مل صدقه څرنګه ده؟ دمثال په ترڅ کې يې شرحه کړئ.

٦. د درويز ګر په وړاندې نېکه خبره صدقه ده، د دې جملې معنا روښانه کړئ.

۷. الله تعالی هغه صدقه ورکوونکی چې په صدقې پسې احسان اچوي او ځوروي کوي له جنته محروم کړی، په دې هکله حديث نقل کړئ.

۸. مبارک آيت هغه صدقه ورکوونکی چې له صدقې څخه وروسته احسان باروي او يا ځوروي کوي له ريا کار منافق سره تشبېه کړی. دا تشبېه شرحه کړئ.

۹. له احسان او اذيت سره مل صدقه په آخري آيت کې څرنګه تشبېه شوې ده؟ واضحه يې کړئ.

شپاړسم لوست

په قران کريم کې انساني مساوات

قال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ۞ قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ وَإِنْ تُطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَا يَلِتْكُمْ مِنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ۞ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴾ [الحجرات: ١٣-١٥]

د ځينو کلمو معناوې

شُعُوبًا: د شعب جمع، ډېر خلک چې يو واحد اصل سره جمع کړي وي.

قَبَائِلَ: د قبيلې جمع ده د شعب يوه څانګه.

لِتَعَارَفُوا: ترڅو له يو بل سره وپېژنئ.

أَكْرَمَكُمْ: ستاسو تر ټولو درونډ او عزتمن.

لَا يَلِتْكُمْ: له تاسو څخه نه کموي.

لَمْ يَرْتَابُوا: شک او شبهه يې ونه کړه.

ژباړه

ای خلکو! موږ تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې څخه پيدا کړئ او بيا مو تاسې قومونه او قبيلې وګرځولئ، ترڅو يو تر بله وپېژنئ. په حقيقت کې د الله ﷻ په نزد له تاسې نه تر ټولو زيات عزتمن هغه څوک دی چې په تاسو کی تر ټولو زيات پرهېزګار وي. په باوري ډول الله ﷻ پر هر څه پوهېدونکی او باخبره دی.

اعرابو(دکلي او بانډې اوسيدونکو) وويل: موږ ايمان راوړی. دوی ته ووايه تاسو ايمان نه دی راوړی، بلکې داسې ووايئ چې موږ اطاعت کوونکي شو، ايمان لا تر اوسه ستاسې په زړونو کې داخل شوی نه دی. که تاسې د الله ﷻ او د هغه د رسول فرمانبرداري غوره کړئ، نو هغه به ستاسې د عملونو په اجر کې څه کموالی را نه ولي. په باوري ډول الله ﷻ غفور او رحيم دی.

په حقيقت کې خو مؤمنان هغه دي چې پر الله ﷻ او د هغه پر پېغمبر ﷺ يې ايمان راوړ. بيا هغوی څه شک ونه کړ او په خپلو مالونو او سرونو سره يې د الله ﷻ په لاره کې جهاد وکړ. هغوی ريښتوني خلک دي.

تفسير

د بشريت د اصل يووالى

الله تعالى په لومړني مبارک آيت کې ټول انسانان مخاطب کړي او ټينګار يې کړى چې تاسې مې له يو واحد اصل څخه پيداکړي يئ چې آدم او حوا دي. بيا مې تاسې د کورنيو او قبيلو او ډلو په بڼه وګرځولئ، ترڅو د نسب، خپلولې، قبيلو او ډلو په پېژندلو سره د يوې روغې او نيکې ټولنې په منځ ته راوړلو يو له بل سره مرسته وکړئ، نه د حيواناتو په څېر چې خپل اصل او نسب نه پېژني او د عقل او پوهې له نعمت څخه محروم دي. په دې وجه قرآن کريم د داسې انساني وحدت لپاره دعوت کوي چې د عدل، مساوات، محبت او ورورګلوۍ پر بنسټ ولاړ وي.

بايد وپوهېږو چې په نړۍ کې د پرمختګونو او تمدنونو رامنځته کېدل د انسانانو له يو بل سره د پېژندګلوۍ نتيجه ده، ځکه پېژندګلوي تفاهم رامنځته کوي او تفاهم د تعاون لامل کيږي. همدارنګه قرآن کريم په دې مبارک آيت کې د رنګ، نژاد او جنسيت توپيرونه په پام کې له نيولو سره پرته، د انسان حقوق اعلان کړي چې ټول انسانان په نسب کې سره وروڼه دي او د دوی انساني عزت او کرامت خوندي دی، ځکه انسان د الله ﷻ عزتمن مخلوق او د ځمکې پر مخ د ده خليفه دی. ټول انسانان يو واحد اصل ته رسېږي چې آدم او حوا عليهما السلام دي، خو هغه څه چې د دوی ترمنځ د غوره والي معيار دی هغه ديني ارزښتونه او د الله ﷻ او رسول اطاعت او پيروي ده. د اسلام ستر پېغمبر ﷺ فرمايلي: "إن الله لا ينظر إلى صوركم وأموالكم، ولكن ينظر إلى قلوبكم وأعمالكم"[1] يعنې الله ﷻ ستاسو څېرو او سرمايو ته نظر نه کوي، بلکې ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري.

په دې ترتيب قرآن کريم د بشريت ټول اختلافات او توپيرونه يوې خوا ته پرېښي او انسانان يې د توحيد او تقوا تر بيرغ لاندې راوستلي دي، ترڅو د يو بل په مرسته او کومک د الله ﷻ عبادت وکړي او د خپلولې او عصبيت له ټولو ډولونو او جاهلانه دعوو او ناندريو څخه ځانونه ليرې وساتي، لکه: څرنګه چې د اسلام پېغمبر ﷺ اعلان کړی: «كلكم بنو آدم، وآدم خلق من تراب. ولينتهين قوم يفتخرون بآبائهم، أو ليكونن أهون على الله تعالى من الجعلان»[2] يعنې تاسو ټول د آدم اولاده ياست او آدم له خاورې پيدا شوی. بايد هر قوم يا ډله په اصل او نسب له ويار څخه ځان وژغوري، پرته له هغه څخه د الله تعالى په دربار کې به له «جِعلان»[3] څخه هم ټيټ او بې ارزښته وي.

١- روايت مسلم.

٢- تهذيب سنن أبي داؤود ج٤٧١/٢.

٣- (جعلان) دجيم په زير هغه وړه حشره ده چې د حيواناتو د خوشايو سره ژوند کوي او خوراک يې د حيواناتو نجاست دی او هرکله چې خوشبويي ورته ورسيږي مري.

د ایمان او اسلام نعمت

وروسته له دې چې قرآن مجید دا اصل اعلان او تثبیت کړ چې ټول انسانان یوې مبدې او اصل ته راګرځي او دغوره والي او بهترې معیار د بني ادمانو په منځ کې تقوا او نیک عمل دی، بیا مبارکو آیتونو بیان کړی چې یوازې د ایمان کلمه کافي نه ده، بلکې باید قلبي تصدیق او د اسلام د اوامرو او نواهیو ظاهري اطاعت او عملي التزام ورسره ملګری وي، ترڅو الله ﷻ ته د منلو وړ وګرځي.

په نبوي پیر کې په بانډه چیانو کې داسې کسان وو چې په ژبه یې د ایمان دعوه کوله، خو زړونه یې په دنیا او دنیوي ګټو مشغول وو، نو ځکه الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته امر وکړ هغوی ته ووایې چې یوازې په ژبه د ایمان په څرګندولو تاسو حقیقي مؤمنان نه ګڼل کېږئ، ترڅو زما رسالت تصدیق نه کړئ او د الله او رسول ټولو اوامرو او نواهیو ته تسلیم نشئ. په دې توګه مبارکو آیتونو د ایمان حقیقت بیان کړی، فرمایي: ﴿إِنَّمَا المؤمنون الذين آمَنُواْ بالله وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُواْ وَجَاهَدُواْ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ الله أولئك هُمُ الصادقون﴾ یعنې حقیقي مومنان هغه کسان دي چې پر الله ﷻ او د الله ﷻ پر پیغمبر ﷺ ایمان راوړي او په خپلو عقیدوکې هېڅ شک او شبهې ته لاره نه ورکوي او پر باطل باندې د حق د برلاسۍ په لار کې ځان او مال نه سپموي، همدا رښتیني مؤمنان دي.

مفسرین وایې: دغه مبارک آیت په دې دلالت کوي چې ایمان د اسلام په نسبت خاص دی، لکه څرنګه چې د جبرایېل په حدیث کې لومړی د اسلام پوښتنه شوې بیا د ایمان او وروسته د احسان. یعنې له عام څخه خاص ته ارتقا شوې ده، نو ایمان او اسلام یو د بل بشپړوونکي دي او یو پرته له بله کفایت نه کوي.

د یو روایت له مخې په نهم هجري کال چې د(عام الوفود) په نامه یاد شوی، د بنې اسد د قبایلو هیئت له خپلو زیاتو وګړو سره د پیغمبر ﷺ حضور ته راغی او خپل اسلام یې اعلان کړ. د احسان بارولو په قصد یې د الله پیغمبر ﷺ ته څرګنده کړه چې موږ د خپلې قبیلې له ټولو وګړو سره پرته له جنګه اسلام راوړ، په داسې حال کې چې نورو قبایلو له تاسره جنګونه وکړل. دوی په دې کلمو سره غوښتل په پیغمبر ﷺ احسان بار کړي او په عین حال کې سوغاتونه او ډالۍ ترلاسه کړي. په دې وخت کې د الحجرات سورت آخري مبارک آیتونه د دوی په هکله نازل شول او امر یې وکړ چې د اسلام راوړلو په دعوه پر پیغمبر ﷺ باندې احسان مه باروئ، بلکې که تاسو په خپله دعوه کې رښتیني یاست باید د پروردګار د احسان منه وکړئ چې تاسو یې د ایمان او اسلام په نعمت مشرف وګرځولئ. مبارکو آیتونو د دوی پټ نیتونه ښکاره کړل او د اسلام د پیغمبر ﷺ په ژبه یې دوی ته ښوونه وکړه چې یوازې په ژبه د ایمان دعوه ونه کړي، بلکې دا ایمان په زړونو تصدیق کړي او د الله ﷻ او د الله د رسول د ټولو اوامرو او نواهیو په وړاندې تسلیم او غاړه کېږدي، ترڅو ایمان یې د الله ﷻ په وړاندې د قبول وړ شي.

دا مبارک آیت یو لوی اصل تثبیت او تأییدوي چې ډېر وختونه انسانان او حتی ځینې مؤمنان هم له هغه څخه غافل او بې پروا وي. په اصل کې لوی نعمت چې الله تعالی یې د ځمکې پر مخ په کوم بنده پیرزو کوي، د ایمان نعمت دی چې له ټولو نعمتونو څخه غوره او لوړ دی. د ایمان نعمت چې هرکله د انسان په زړه کې ځای ونیسي، نوبل هېڅ شی به له هغه څخه لوړ او ارزښتناک نه وي. انسان د ایمان په نعمت سره له خپل اصل او مبدأ خبرېږي او له خپل پیداکوونکي او پالونکي سره اړیکې پیدا کوي.

د لوست ګټې او لارښوونې

په دې لوست کې ګټې او لارښوونې په لاندې ډول دي.

- د ټولو انسانانو پیدایښت یو واحد اصل(آدم علیه السلام) ته راګرځي.
- په نسب او نژاد ویاړ کول حرام دي.
- انساني توپیرونه د پېژندنې او له یو بل سره د مرستې لپاره دي، نه دا چې یو پر بل غوره والی رامنځته کړي.
- د انسانانو په منځ کې د غوره والي او عزت معیار تقوا ده.
- له عملي مخالفت سره په ژبه د ایمان څرګندونه اسلام ته د قبول وړ نه ده.
- ایمان د اسلام په پرتله خاص دی.
- د توکم، ژبې، سیمې او سمت پر بنسټ د انسانانو تر منځ توپیر کول حرام دي.

پوښتنې

۱. قرآن‌کریم د انسانانو د پیدایښت اصل څرنګه وینې؟ په قرآني آیت استدلال وکړئ.

۲. د انسانانو ترمنځ توپیر او اختلاف او په قبیلو او ډلو د دوی وېش څه فایده لري؟

۳. د غوره والي او بهترې معیار د قرآن‌کریم له نظره څه شی دی؟ د قرآني آیت په رڼا کې یې واضح کړئ؟

٤. په نسب، توکم او ژبې ویاړ کول د اسلام له نظره څه حکم لري؟ په آیتونو او نبوي احادیثو یې واضح کړئ.

٥. کومې قبیلې د خپل اسلام راوړلو احسان په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې اچولو او د قرآن ځواب دوی ته څه و؟

٦. د ایمان او اسلام ترمنځ توپیر څه دی؟

کورنۍ دنده

د انساني مساوات اصل او د انسانانو ترمنځ د غوره والي معیار په نظر کې ونیسئ او په دې هکله یوه مقاله ولیکئ.

د الله ﷻ د خاصو بندګانو صفتونه

قال الله تعالى: ﴿وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا ۞ وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا ۞ وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ۞ إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ۞ وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا﴾ [الفرقان: ٦٣-٦٧]

د ځينو کلمو معناوې

هَوْنًا: په عزت اوآرامتيا.

قَالُوا سَلَامًا: روغه خبره او له ګناه څخه منع کوونکې.

سُجَّدًا وَقِيَامًا: سجده کوونکي، په تهجد لمانځه کې درېدونکي.

غَرَامًا: پېوست او ملګری.

سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا: بد اوناوړه استوګنځی.

لَمْ يُسْرِفُوا: اسراف اوله حده تېريدنه يې ونه کړه.

لَمْ يَقْتُرُوا: تنګي يې ونه کړه، بخل يې ونه کړ.

قَوَامًا: اعتدال د اسراف او بخل ترمنځ.

ژباړه

د رحمان ذات اصلي بندګان هغه دي چې پر ځمکه باندې آرام ځي او کـه جـاهلان يـې مخې ته راشي ، نو وايي تاسې ته سلام.

هغه کسان چې د خپل پروردګار په وړاندې په سجدو او قيام شپې تېروي.

هغه کسان چې دعاګانې کوي چې ای زمونږ پروردګـاره! مـونږ د دوزخ لـه عذابـه وسـاته! بېشکه دهغه عذاب راپسې کېدونکی دی.

هغه ډېر ناکاره استوګنځی او ځای دی.

هغه کسان چې کله لګښت کوي، نو نه بی ځايه لګښت کـوي اونـه بخيلـې کـوي، بلکـې دهغو لګښت د دغو دواړو سرحدونو په منځ کې په منځلاريتوب ولاړ وي.

تفسیر

د الله ﷻ د خاصو بندګانو صفتونه

کله چې پېغمبر ﷺ مشرکان د رحمان خدای ﷻ عبادت ته راوبلل، نو هغوی په انکار او جاهلانه توګه پوښتنه وکړه، رحمان څوک دی؟ الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې خپل خاص بندګان د« رحمان د بندګانو» په نامه وستایل او د دوی صفتونه یې وشمېرل، ترڅو د هغو په واسطه رحمان خدای ﷻ ښه وپېژندل شي. په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مؤمنانوته، چې دوی یې خپل ځان ته منسوب کړل، د ﴿ عِبَادُ الرَّحْمَنِ ﴾ د عزت او غوره والي مقام وبانبه.

دې مبارکو آیتونو د سورت تر پایه د الله ﷻ خاص بندګان په اتو مبارکو صفتونو ستایلي دي. د الله ﷻ د دې خاصو بندګانو صفتونه د دوی له نفسونوسره، د دوی له پروردګار سره، له ټولنې سره او د ټولنې له پاکۍ او پرمختګ سره چې دوی په کې ژوند کوي تړاو لري. په دې ترتیب ټول هغه صفتونه چې مبارکو آیتونو د رحمن ذات د خاصو بندګانو لپاره بیان کړي دي په څلورو محورونو کې خلاصه شوي دي.

ددې صفتونو یوه برخه په دیني او ایماني کمالاتو پورې اړه لري چې مؤمنان په دې کمالاتو ستایل شوي او په ﴿ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا ﴾ مبارک آیت کې لیدل کیږي.

دویمه برخه د مشرکانو او فاسقانو ناوړه او د ګمراهۍ صفتونه رابنیي چې مؤمنان باید له هغو څخه ځان وژغوري او دا صفتونه په﴿وَالذِيْنَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلهاً آخَر..﴾ اوپه نورو وروستیو آیتونوکې لیدل کیږي.

ددې صفتونو یوه بله برخه د اسلام له لارښوونو څخه عبارت ده چې رښتیني مؤمنان باید په هغو عمل وکړي او لازم یې وګڼي چې هغه: ﴿ وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا﴾ او ﴿ وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا﴾ او د سورت نور آیتونو دي.

د دې غوره او نیکو صفتونو بله برخه د ژوند د حالت سمون او ښه کول دي چې مؤمنان یې د الله ﷻ له درباره غواړي، ترڅو الله ﷻ یې ورپیرزو کړي چې دا مبارک آیتونه ﴿وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا﴾ یې رانغاړي.

له خلکو سره ښه چال چلند

د رحمان ذات د خاصو بندګانو له صفتونو څخه دا دي چې کله د ځمکې پر مخ روان وي، نو په خاکساری او تواضع سره ځي ﴿الذين يمشون على الأرض هوناً﴾. هدف دا چې د متکبرو، مغرورو، بدکارو او مفسدینو په څیر په لاره نه درومي، بلکې په آرام، عزت او تواضع ګرځي، هوا! په لاره تلل د انسان شخصیت څرګندوي، لکه: چې الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿وَلاَ تَمْشِ فِي الأرض مَرَحاً إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الأرض وَلَن تَبْلُغَ الجبال طُولاً﴾ [الإسراء: ۳۷] یعنې: د ځمکې پر مخ په ناز، ویاړ اونخرو مه ځه! یقیناً ته نه په خپل قدم ځمکه شکولی شې اونه په لوړوالي کې غرونوته رسیدای شې. البته پر لارې له دروند تګ څخه دا مطلب نه دی چې سړی د عجز او کمزورۍ او یا د تظاهر په ډول پر لاره لاړ شي، پېغمبرﷺ چې کله پر لاره تللو داسې به معلومېده چې ځمکه یې ترېښو لاندې کش کېږي. همدارنګه عمربن خطابؓ یوځوان ولید چې ډېر نرم او په مات زړه پر لاره روان دی، نوله هغه څخه یې پوښتنه وکړه: په تاځه شوي دي؟ آیا ناروغ یې ؟ ځوان وویل نه، نو دغه وخت حضرت عمرؓ هغه ځوان پر دُره وواهه او ده ته یې امر وکړ چې پر لاره ښه تکړه او جګ جګ ولاړشي[1]. اسلام دعزت او قوت دین دی اوعزت او قوت له تکبر سره توپیر لري، لکه: څرنګه چې په غرور او تکبر پر لاره تلل حرام او ناوړه کار دی په همدې توګه په کمزورۍ، ستومانۍ او تظاهر تګ هم د اسلام له نظره بد او د منلو وړ نه دی.

همدارنګه دا د رحمان ذات بندګان چې کله په خپلو معاملو کې له ناپوهو او جاهلانو سره مخامخ کېږي له هغوی سره په بالمثل چال چلند معامله نه کوي او بدۍ ته په بدۍ ځواب نه ورکوي، بلکې د سلام په ویلو او حکیمانه خبرو د دوی له شر څخه ځان په امن کې ساتي، البته نه د بېوسۍ او وېرې له امله، بلکې له دې امله چې وخت ضایع نشي او هسې په بې ګټې کار بوخت نشي، نو د داسې خلکو په خبرو دې سترګې پټې او غوږونه کاڼه کړي.

فعالیت

پر لارې د تکبر او غرور او یا تظاهر له مخې تګ په اړه په خپلو کې خبرې اترې وکړئ او له خپل چاپېریال، ماحول او ټولنې څخه څو نمونې وړاندې کړئ.

۱- التفسیرالوسیط للطنطاوی، تفسیر آیت ٦٣ سورهء الفرقان.

د رحمان پروردګار عبادت

هغه څه چې وویل شول د الله تعالی د خاصو بندګانو صفتونه او په ورځنیو چارو کې د خلکو سره د هغوی د چلن په اړه وو، خو د شپې له خوا د الله ﷻ په در بار کې د دوی دنده د خپل پروردګار عبادت، دعا او هغه ذات ته زاری دي: ﴿وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّداً وَقِيَاماً﴾ د رحمان خدای ﷻ خاص بندګان هغه کسان دي چې د شپې څه برخه د سجدو او قیام په حال کې د خپل پالونکي په حضور کې تېروي، ځکه شپه د خشوع ښه وخت او بنده په کې له ریا څخه خوندي وي. بیا مبارک آیت د رحمان «الله» د خاصو بندګانو له دعاګانو څخه یوه ګوښه بیانوي او فرمایي: ﴿والذين يَقُولُونَ رَبَّنَا اصرف عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ﴾ پروردګاره! د جهنم له عذاب څخه مو وساته چې سخت هلاکوونکی او دردوونکی عذاب دی. دا خشوع، زاری او وېره د الله ﷻ د رښتینو بندګانو د ژور ایمان او تصدیق ثمره ده.

په انفاق کې اعتدال او میانه روي

د رحمان خدای ﷻ د خاصو بندګانو بل صفت، اعتدال او میانه روي ده چې له اسراف او بخل دواړو څخه پرهیز کوي او په منځنۍ لاره درومي: ﴿وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَوَامًا﴾. ځکه چې اسراف او بخل دواړه ناوړه خویونه دي او دواړه خویونه د وګړو او ټولنې د فساد لامل ګرځي. اسراف د افرادو او ټولنې د نفسونو او مالونو فاسدوونکی دی. همدا راز بخل او سختي د ټولنې د آبادۍ او سوکالۍ په لاره کې له مال څخه د ګټې د نه اخیستلو لامل ګرځي چې په دې توګه دواړه ناوړه صفتونه دي او په ټولنه کې د زیان او ستونزو د رامنځته کېدو لامل ګرځي. په مال لګولو کې اعتدال اومیانه روي د هوښیارانو له ځانګړتیاوو او د ایمان له صفتونو څخه شمېرل کېږي چې ټولنې ته نیکمرغي، سوکالي او آرامي راولي.

دا یوه برخه د رحمان خدای ﷻ د خاصو بندګانو ځینې صفتونه دي چې قرآن کریم په پورتنیو مبارکو آیتونو او د دې سورت په وروستیو آیتونو کې ذکر کړي دي او د همدې نېکو صفتونو په خاطر قرآن کریم د الله ﷻ خاصو بندګانو ته د جنت د ډېرو لوړو درجو او تل پاتې نعمتونو زېرى ورکوي.

د لوست ګټې او لارښوونې

په دې لوست کې ګټې او لارښوونې په لاندې ډول دي:

❖د رحمان خدایﷻ د خاصو بندګانو د صفتونو بیان چې د دوی د صفتونو د پېژندنې په وسیله د رحمان پروردګار پېژندنه لازیاته حاصلېږي.

❖په تګ کې د وقار، اطمینان او آرامۍ فضیلت.

❖په نیکۍ سره د بدۍ د ځواب ورکولو فضیلت.

❖په عبادت سره د شپې په ویښه تېرولو او د دوزخ له اوره د وېرې فضیلت.

❖د اللهﷻ په لاره کې په اعتدال اومیانه روۍ سره د مال لګولو فضیلت او د اسراف او بخل دواړو ناوړو خویونو څخه ځان ساتل.

پوښتنې

۱- دلاندې کلمو او لغاتو معناوې څرګندې کړئ:

(هَوْنًا- قَالُوا سَلَامًا- غَرَامًا- سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا- لَمْ يُسْرِفُوا- لَمْ يَقْتُرُوا- قَوَامًا)

۱.د لوست د آیتونو د نزول سبب او مناسبت شرحه کړئ؟

۲.دا چې په آیت کې د بندګانو نسبت رحمان ذات ته شوی، څه مفهوم افاده کوي؟

۳.په مبارک آیت کې په وقار او آرامۍ سره له تګ څخه مطلب څه دی؟ واضح یې کړئ.

٤.په ورځ او شپه کې د اللهﷻ د خاصو بندګانو صفت د مبارک آیت په رڼا کې شرحه کړئ.

٥.د اللهﷻ د خاصو بندګانو صفت په صدقه او نفقه کې څرنګه دی وضاحت ورکړئ.

کورنۍ دنده

د(الفرقان) سورت د وروستیو آیتونو په رڼا کې د اللهﷻ د خاصو بندګانو د صفتونو او اعمالو د نتیجې په هکله یوه مقاله ولیکئ.

د ټولنې په تهذيب کې د مؤمنانو ونډه

قال الله تعالى: ﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ۞ وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [النور: ٣٠-٣١]

د ځينو کلمو معناوې

يَغُضُّواْ: ټيټې کړي، ځان وساتي.

أَزكَى لَهُمْ: ډېره پاکه کړنلاره ده دوی ته.

وَلاَ يُبْدِينَ: نه دې ښکاره کوي.

زِينَتَهُنَّ: خپل ښايست.

بِخُمُرِهِنَّ: خمر د خمار جمع ده، هغې جامې ته ويل کيږي چې ښځې پرې خپل سر او ګريوان پټوي(پرونی).

جُيُوبِهِنَّ: جيوب د جيب جمع ده، جيب ګرېوان ته ويل کيږي.

ژباړه

ای پېغمبره! مؤمنانو ته ووايه چې خپلې سترګې ټيټې او د شرم ځايونه پټ وساتي. دا د هغوی لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده. هغوی چې څه کوي الله ﷻ پرې خبرپرې.

مؤمنو ښځو ته ووايه چې خپلې سترګې ټيټې وساتي او د خپلو شرم ځايونو ساتنه دې وکړي او خپل ښايست او سينګار (دزينت ځايونه) دې نه ښکاره کوي، مګر هغه چې په خپله څرګند شي او په خپلو ګرېوانونو دې خپل پوړني واچوي، هغوی دې خپل زينت او سينګار نه ښکاره کوي، مګر خپلو مېړونو، پلرونو، د مېړونو پلرونو، خپلو زامنو، د مېړونو زامنو(بنزيانو)، وروڼو، ورېرونو، خوريونو، مؤمنو ښځو، خپلو مريانو، خپلو هغو ترلاس لاندې نارينه وو ته چې ښځو

ته حاجت ونه لري او هغه ماشومانو ته چې لا تراوسه پورې د ښځو له پټو خبرو سره اشنا شوي نه دي اوهغوی دې په ځمکه باندې په زوره په داسې شان تګ نه کوي چې دهغوی د پټ کړي سینګار خلکو ته معلومات وشي. ای مؤمنانو! تاسې ټول په ګډه الله ﷻ ته توبه وباسئ ښایي چې بری درپه برخه شي.

تفسیر

نامحرمو ته له کتلو څخه ډډه کول

د النور مبارک سورت له اخلاقي بې لارېو او ټولنیزو مفاسدو څخه د فرد، کورنۍ او ټولنې د ژغورنې په موخه ډېر احکام لري. الله ﷻ د النور سورت په لومړیو آیتونو کې زنا حرامه ګرځولې او د زنا مرتکب ته یې درنه جزا ټاکلې ده. په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د وقایوي درملو په توګه سړیو اوښځو ته د سترګو په ټیټولو او نامحرمو ته په نه کتلو امر کړی دی چې د ګناهونو کندې ته له لویدلو څخه خوندي شي. اسلامي ټولنه له اخلاقي مفاسدو وژغورل شي او د تهذیب او پرمختګ په لاره ګامونه واخلي.

لکه: چې پوهیږو انسانان ګڼ خواس لري، چې د دې حواسو په وسیله مختلف شیان درک کوي، مثلا په غوږونو اوري، په پوزه شیان بویوي، په ژبه خبرې کوي او مزه څکي، خو تر ټولو مهم حس چې انسان جنسي خواهشاتو اوغرایزو ته ورکاږي، هغه د باصرې او لیدلو حس دی. له همدې امله الله پاک د وقایوي درمل په توګه سړي او ښځې مخاطب کړي، نارینه مؤمنانو ته یې د سترګو ښکته اچولو او مؤمنو ښځو ته یې د نه کتلو او د خپل ښایست د نه څرګندولو امرکړی دی.

په مبارک آیت کې د سترګو په ښکته اچولو او د اندامونو د ساتلو په منځ کې جمع راغلې ده، ځکه کتل د فحشا یا زنا لامل کیږي، نو ځکه الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته امر وکړ مومنانو ته ووایي، چې پردیو ښځو ته ونه ګوري او همدارنګه خپل اندامونه په حرامو کې له واقع کېدو څخه وساتي. دا د ایمان د کمال دلیل دی او د زړونو او نفسونو د پاکۍ او د دنیا او آخرت د کامیابۍ او نېکمرغۍ سبب دی.

بیا الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته امر کړی مؤمنو ښځو ته ووایي، چې دوی هم پردیو سړیو ته ونه ګوري او خپل ښایست ښکاره نه کړي، مګر هغه څه چې عادتا له نا چارې ښکاره کېږي.

مفسرین وایي: که څه هم ښځې په غالبه توګه مؤمنانو ته په امر کې شاملې دي، خو بیا هم د ټینګار لپاره ښځې جلا مخاطبې شوې دي چې سترګې ښکته واچوي او خپل اندامونه پټ کړي.

بیا مبارک آیت مؤمنو او مسلمانو ښځو ته امر کړی چې خپل سرونه، غاړې او سینې په خپلو جامو پټې کړي، ترڅو پردیو سړیو ته ښکاره نشي او د دوی د زینت اوښایست ځایونو ته ونه

ګوري. علماوو ويلي دي: د جاهليت په زمانه کې ښځو خپل ځادرونه د سر (تندي) له خوا شا ته اچول، چې په دې توګه به يې غاړې او غاړکی ښکاريدې، نو ځکه الله تعالی مؤمنې ښځې له دې طريقې څخه منع کړې. البته له زينت څخه په مبارک آيت کې هغه زينت مراد دی، چې بايد پټ وساتل شي، لکه: ويښته، مټې او پنډۍ.

فعاليت

زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه په خپل چاپيريال کې د سترګو ښکته نه اچولو څو نمونې تربحث لاندې ونيسي او منفي اړخونه دې څرګند کړي.

د ښځو د زينت ليدنه کومو کسانوته جواز لري؟

مؤمنو ښځو ته روا نه ده چې خپل پوښلی زينت خلکو ته ښکاره کړي، مګر هغه کسانوته چې مبارک آيت استثنا کړه دي او هغه دولس ډلې دي. لومړي کسان چې د مؤمنو ښځو د زينت ليدل يې ورته روا کړي، ميړونه دي. ميړونو ته د ښځو هر ډول زينت ليدل روا دي، بلکې د مؤمنو ښځو زينت اصلا د ميړونو لپاره دی، نو د ميړونو لپاره د خپلو ښځو زينت او عورت ليدنه کوم ممانعت نه لري. همدارنګه مؤمنې ښځې د خپل عزت او وقار په رعايتولو کولای شي خپل زينت پرته له ميړونو څخه خپلو پلرونو، خسر، زامنو، بن زيو، ورونړو، ورپرونو او خوريونو ته ښکاره کړي. البته دا ذکر شوي اووه ډوله خلک له ميړه څخه وروسته هغه محارم دي چې مؤمنه ښځه ور سره نکاح نشي کولای او مؤمنې ښځې د ناچاری له وجې له دوی سره مجلسونه او ناسته پاسته لري او عادتا له فتنې څخه خوندي وي. بيا کاکا ګان، ماماګان او رضاعي محارم هم له دوی سره په حکم کې يو ځای کيږي. همدارنګه مؤمنې ښځې کولای شي خپل زينت مسلمانو ښځو او وينځو ته ښکاره کړي. همدارنګه هغو سړو ته يې هم ښکاره کولای شي چې د کورنۍ اتباع دي او د بوډاتوب يا نورو عواملو له وجې ښځو ته رغبت نه لري اود دوی په خدمت مشغولې دي يا هغه ماشومان چې د ښځو په عورتونو او محارمو خبر نه دي. هغو ته هم خپل زينت او ښايست ښکاره کولی شي. دا دولس ډوله خلک مجاز دي، ځکه د فتنې احتما ل پکې نشته، نوکه دوی د ښځو پوښلی زينت، لکه: سر، غاړې، پنډۍ او مټو ته وګوري، باک نه لري.

د زينت ښکاره کوونکو حرکتونو ممانعت

وروستی مبارک آيت مؤمنې اومسلمانې ښځې له هغوحرکتونو څخه چې پوښلی زينت ښکاره کوي، منع کړي دي. دوی ته يې امر کړی چې له کور څخه د وتلو په وخت کې خپل عزت،

وقار، اسلامي آداب او اخلاق رعايت کړي، ترڅو د نورو نظر ځانته را جلب نه کړي، لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايي: ﴿وَلاَ يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ﴾ يعنې پښه دې داسې په ځمکه نه وهي چې د پښو پټ زيورات يې معلوم شي. د دې مبارک آيت مراد دا دی چې مؤمنه ښځه بايد پر لارې د تګ په وخت کې داسې حرکت يا عمل ونه کړي چې د نورو د پام را اړولو او د جنسی او شهواني غرايزو د تحريک سبب شي، لکه: پر لاره د ځان ښودنې تګ يا د عطرو استعمالول چې د نورو پام خپل لوري ته راواړوي او يا نور داسې حالتونه چې د خلکو د جنسي غريزو د تحريک سبب ګرځي.

مبارک آيت په پای کې ټول مؤمنان خدایﷻ ته رجوع او توبې ته رابللي او امر ورته کوي: ﴿وتوبوا إِلَى الله جَمِيعاً أَيُّهَ المؤمنون لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ يعنې: ای مؤمنو او مسلمانو سړيو او ښځو! پرتاسې لازم دي چې ټول اللهﷻ ته توبه وباسئ، ترڅو کامياب شئ.

په دې مبارکو آيتونو کې چې د حجاب او وقار ساتلو په اړه کومې خبرې يادې شوې، دا هغه وقايوي ګامونه دي چې مسلمانه ټولنه له اخلاقي بې لارۍ څخه ژغوري. د شرعي له نظره ښځه او سړی دواړه مکلف دي چې د حيا او وقار مخالفو کارونو څخه ډډه وکړي. همدا راز سړي هم حق نه لري چې په ناسمو جامو کې د خلکو په منځ کې ښکاره شي، خو څرنګه چې حکيم خدای په ښځه کې زياته ښکلا او جاذبه پيدا کړې، چې د مخالف جنس يعنې سړو پام زيات ځان ته را اړوي، ځکه د ستر او پردې په اړه د ښځو مسؤوليت زيات دی او الله پاک په دې آيتونو کې پر ښځو پرده کول فرض کړي دي.

اسلام د فطرت د دين په توګه د ځينو منحرفو اديانو په څېر د انسان جنسي غريزه وژلې نه ده او نه انسان ته په رهبانيت امر کوي، له همدې امله يې خلک واده کولو ته هڅولي او يوازې واده يې د جنسي غريزې د اشباع کولو او د انساني نسل د بقا وسيله بللې ده.

هغه خلک چې له اخلاقو، حيا او پاکۍ څخه په خالي ټولنو کې د جسمي او روحي ناروغتياوو او اخلاقي بې لارۍ د خپرېدو څخه خبر دي، ښه پوهيږي چې د حجاب په فرضيت کې د ټولنې لپاره څومره ستړې ګټې نغښتې دي.

فعاليت زده کوونکي دې د يوې مسلمانې ښځې د لباس اغوستلو او پر لاره تللو د مسؤوليت په هکله بحث او څېړنه وکړي او د حجاب د نه مرعاتولو پروخت دې د هغو منفي اغيزې دې په خپلو کتابچو کې وليکي.

ګټې او لارښوونې

دغه آيتونه ډېر احکام، آداب او لارښوونې لري، خو ځينې يې دا دي:

❖ د سترګو د نظر ښکته والی او له هر ډول حرامو څخه د انډامونو ساتنه، ځکه اسلام د يوې پاکې او شريفې ټولنې د رامنځ ته کيدو بلنه ورکړې ده او د انسان ټول غړي مسؤل ګڼي: ﴿إِنَّ السمع والبصر والفؤاد كُلُّ أولئك كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً﴾.

❖ مؤمنې ښځې ته روا نه دي چې خپل زينت پردیو ته ښکاره کړي مګر هغه چې ښکاره وي، لکه: مخ، لاسونه او جامې.

❖ د هغې ډلې محارمو بيان، چې مؤمنه ښځه کولای شي خپل زينت ورته څرګند کړي.

❖ د مسلمانو ښځو د ښايست ښکاره کولو جواز د کورنۍ بوډاګانو، کم عقلو ساده ګانو او وړوهلکانو ته چې د زينت او عورت د تشخيص مرحلې ته نه وي رسيدلي.

❖ د سينګار ښکاره کولو په قصد پر ځمکه د پښو وهلو حرمت.

❖ د دنيا اوآخرت د کاميابۍ لپاره د توبې او د الله ﷻ دربار ته د رجوع واجبوالی.

پوښتنې

۱. لاندې کلمې معنا کړئ:

(يَغُضُّواْ- أزكى لَهُمْ- وَلاَ يُبْدِينَ- بِخُمُرِهِنَّ- جُيُوبِهِنَّ:)

۱. د الله ﷻ د دې امر حکمت څه شی دی، چې مؤمنو سړيو او ښځو ته يې کړی چې خپل نظر او سترګې ښکته واچوي؟

۲. په قرآني خطاب کې مؤمن سړي او مؤمنې ښځې د کومو کارونو په سرته رسولو مامور شوي دي؟

۳. پردیو خلکو ته د ښځو د زينت له څرګندولو څخه مراد څه شی دی؟

٤. مبارک آيت کوم کسان د مؤمنو ښځو د زينت له ليدلو څخه استثنا کړي دي؟

٥. کومو هلکانو ته جواز شته چې د مؤمنو ښځو پوښلي زينت ته نظر وکړي؟

٦. د دې مبارک آيت ﴿وَلاَ يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ﴾ مقصد څه دی؟ له مثال سره يې څرګند کړئ؟

کورنۍ دنده

مؤمنو اومسلمانوسړيو او ښځو د کتلو د آدابو او د ټولنې پر اخلاقو او تهذيب د هغې د اغيزو په اړه يوه مقاله وليکئ.

نولسم لوست

په اسلام کې د معیوبو اوفقیرو مؤمنانو مرتبه

قــال الله تعــالى: ﴿عَبَسَ وَتَوَلَّىٰ ۝ أَنْ جَاءَهُ الْأَعْمَى ۝ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّىٰ ۝ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرَىٰ ۝ أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَىٰ ۝ فَأَنْتَ لَهُ تَصَدَّىٰ ۝ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ۝ وَأَمَّا مَنْ جَاءَكَ يَسْعَىٰ ۝ وَهُوَ يَخْشَىٰ ۝ فَأَنْتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ ۝ كَلَّا إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ۝ فَمَنْ شَاءَ ذَكَرَهُ ۝ فِي صُحُفٍ مُكَرَّمَةٍ ۝ مَرْفُوعَةٍ مُطَهَّرَةٍ ۝ بِأَيْدِي سَفَرَةٍ ۝ كِرَامٍ بَرَرَةٍ﴾ [عبس: ١-١٦]

د ځینو کلمو معناوې

عَبَسَ: تندی یې تریو کړ.

تَوَلَّى: مخ یې وګرځاوه.

يَزَّكَّى: له ګناهونو پاک شي.

يَذَّكَّر: پند واخلي. نصیحت واوري.

اسْتَغْنَى: بې پروا شو، له ایمان، دین اوعلم څخه یې مخ وګرځاوه.

تَصَدَّى: توجه کوې.

تَلَهَّى: په بل څه مشغولیږې.

كَلَّا: داسې نه ده، بیا دې کار ته مه را ګرځه.

ژباړه

تندی یې تر یو شو او مخ یې وګرځاوه، په دې خبره چې هغه ړوند ورته راغی. ته څه خبریې. کېدای شي چې هغه پاک شي. یا نصیحت ته ځیر شي او نصیحت هغه ته ګټه ورسوي. مګر کوم سړي چې بې پروایي غوره کړه. دهغه لوري ته خو تا پاملرنه وکړه. په داسې حال کې چې که هغه پاک نشي، نو پرتا یې څه ضمانت دی؟ او څوک چې په خپله تاته په منډه راغی اوهغه ویرېده. له هغه سره تا بې پروایي وکړه. هیڅکله نه، دا خویو نصیحت دی. د چا زړه چې غواړي هغه دې ومني. دا په داسې صحیفوکې نغښتی دی چې مبارکې دي. لوړه مرتبه لرونکې دي، پاکې دي. د عزتمندو پرښتو په لاسونو کې دي. د غوره او نیکو لیکونکو.

د نازلېدلو سبب

مفسرينو د مبارکو آيتونو د نزول په هکله څه روايتونه نقل کړي چې لنډيز يې په لاندې ډول دی: يوه ورځ رسول الله ﷺ د قريشو له يوې ډلې مشرانو، لکه: عتبه بن ربيعه، ابوجهل، عباس بن عبد المطلب، ابی بن خلف، شيبه بن ربيعه او وليد بن مغيره سره ناست و او دوی يې اسلام ته رابلل او د اسلام د مقدس دين لارښوونې يې دوی ته شرحه کولې. په دې وخت کې عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه چې يو نابينا(ړوند) صحابي و او د اسلام د پېغمبر ﷺ د مجلس په حالت نه پوهېد، مجلس ته راغی او ويې ويل: ای د الله رسوله! له هغه څه چې الله درښودلي ماته يې وښيه اوماته تعليم راکړه. عبدالله بن ام مکتوم خپله غوښتنه څو،څو ځله تکرار کړه. رسول الله ﷺ ورځخه مخ واړاوه او د قريشو د مشرانو په دعوت او بلنه مشغول و او د دې نابينا صحابي خبروته يې پاملرنه ونه کړه. په دې وخت کې مبارک آيتونه نازل شول او الله تعالی خپل پېغمبر د ملامتيا مورد وګرځاوه.

عبدالله ابن ام مکتوم څوک و؟

اصلي نوم يې عمرو بن قيس او ام مکتوم يې کنيه او لقب و، مور يې عاتکه بنت عبدالله مخزومي وه. عبد الله ابن ام مکتوم د رسول الله ﷺ مېرمنې بي بي خديجې بنت خويلد د ماما زوی و.

هغه له لومړنيو مهاجرو څخه دی. عبد الله ابن ام مکتوم او بلا ل د رسول الله ﷺ له مؤذنانو څخه وو. رسول الله ﷺ ته ډېر ګران و او ديارلس ځله يې په مدينه منوره کې د خپل ځان خليفه ټاکلی دی. دا جليل القدر صحابي، سره له دې چې ړوند و، په غزاګانو کې يې برخه اخيستې ده. روايت شوی چې دی د عمربن الخطاب رضي الله عنه په خلافت کې د قادسيې په جنګ کې د مدائن د فتحې په مهال د شهادت لوړې درجې ته ورسيد.

تفسير

اسماني او ځمکني معيارونه

د العبس سورت په لومړيو مبارکو آيتونو کې الله تعالی د يوې شخصي پېښې په بڼه يوه لويه لارښوونه، يو مهم اصل او مبدأ بيان کړې چې دا اصل په خپل ذات کې نه يوازې د اسلام حقيقت، بلکې د اسلام يوه لويه معجزه رابښيي. يوه داسې معجزه چې انسانان په ديني اسماني معيارونو او ارزښتونو ارزول کيږي، نه په ځمکنيو بشري تلو او معيارونو. داسې حقيقت چې الله تعالی حتی خپل غوره کړای شوی محبوب او دوست د دې حقيقت په هکله تر ملامتيا

لاندې ونيو او د ده ستر شخصيت ته يې لارښوونه وکړه. دا الهي حقيقت يوازې د تقوى په اساس د انسانانو د ارزولو او تللو معيار دى چې له ځمکنيو او انساني ارزولو سره بشپړ توپير لري﴿إن أكرمكم عند الله أتقاكم﴾.

په اسلام کې د فقيرانو اوبېوزلانو مرتبه

د سورت په پيل کې د حکايت په ژبه او په غايبه صيغه د موضوع مطرح کول په دې دلالت کوي چې الله تعالى په خپل رسول باندې مهرباني، لطف او مرحمت درلود، نودى يې مخاطب نه کړ، لکه: څرنګه چې د عبد الله ابن ام مکتوم ذکر د ړانده {الأعمى} په صيغه د ده د شان د کمي لپاره نه دى بلکې د ده د پېژندنې او همدارنګه د ده د معذور ګڼلو لپاره دى چې د رسول الله ﷺ حالت اومشغولتيا يې نه وه درک کړې. کله چې دا ړوند صحابي د رسول الله ﷺ حضور ته راغى او په تکرار يې له ده څخه د لارښوونې غوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ په تريو تندي له ده څخه مخ واړاوه او د قريشو د مشرانو په بلنه مشغول شو، نو په دې توګه د الله تعالى د ملامتيا مورد وګرځيد، چې نه ښايي د بېوزلې او فقر او يا د نه ليدو په خاطر له ده څخه مخ وګرځول شي، ځکه هغه په پاک او ويښ زړه دعلم او پوهې په لټه کې و، ترڅو خپل نفس پاک کړي.

خو دوى (د قريشو سرداران) چې د ايمان او نبوي لارښوونو څخه بې پروايي کوي ته دوى ته پاملرنه کوې او د دوى د هدايت لپاره زيار باسې. حال داچې په کفر او ګمراهۍ کې پاتې کېدل د همدوى په ضرر دي او ته پرې مسؤول نه يې. ستا دنده يوازې رسَول(بلاغ) دي او د دوى ستنيدنه او حساب پرمونږ دى او هدايت يې د الله ﷻ په لاس کې دى: **قال تعالى:** ﴿إِنَّكَ لاَ تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ ولكن الله يَهْدِي مَن يَشَآءُ﴾. [القصص: ٥٦]ترجمه: «اى پېغمبره! ته چې چاته وغواړې او خوښ دې وي هغه ته هدايت نشې ورکولاى، مګر الله ﷻ چې چاته وغواړي هدايت کوي.»

بيا وروسته د آيتونو د عتاب او ملامتيا لهجه سخته شوې او پېغمبر ﷺ ته يې داسې خطاب کړى: خو هغه کس چې له ړوندوالي او ستونزو سره سره په اخلاص، محبت او د الله ﷻ له وېرې ستا لوري ته په منډه راځي، ترڅو علم اوپوهه حاصله کړي او خپل دين کامل کړي، ته له هغه څخه مخ اړوې او خپله ټوله پاملرنه د قريشو مشرانو ته را اړوې چې ايمان راوړي. اى زما ګرانه استازيه ! داسې کار وړ او مناسب نه دى، بلکې دا قرآني آيتونه د پند او عبرت لپاره دي

چې هرڅوک وغواړي پند تري اخلي. الهي آيتونه په عزتمنو صحيفو کې ليکل شوي دي چې د ا صحيفې ډېرې پاکې او لوړې مرتبې لري او د مقربو عالي رتبه پرښتو په لاسونو کې دي چې د درناوي څخه برخمنې او د هرمغرض او ناشکره له ضرر څخه خوندي دي.

د فضيلت اوغوره والي معيار

مبارکو آيتونو د انسانانو ترمنځ د بهترۍ او غوره والي معيار ايمان اوتقوا ګڼلې، سره له دې چې رسول اللهﷺ اسلام ته د قريشو د مشرانو د بلنې له امله، چې هغه مهال د دعوت د لارې خنډ وو، د عبدالله بن ام مکتوم پوښتنو ته پاملرنه ونه کړه، په دې هيله چې د قريشو مشران د اسلام دين ته را وګرځي. بياهم الله تعالى خپل رسول د عتاب مورد ګرځوي چې د خدايﷻ په وړاندې مقبول ارزښتونه دين، ايمان او تقوى ده، نه هغه مادي ارزښتونه چې د انسانانو په وړاندې پيژندل شوي دي.

له همدې امله د اسلام خورې پېغمبرﷺ د دې آيتونو له نازلېدو وروسته هميشه د عبد الله بن ام مکتوم عزت او درناوى کاوه او هرکله به چې له هغه سره مخامخ کيده خپل څادر به يې ده ته د کيناستو لپاره غوړاوه او فرمايل به يې: "مرحبا بمن عاتبنى فيه ربى»

يعنې: ښه راغلاست دې وي هغه چا ته چې د هغه په سبب الله تعالى زه ملامت کړى يم. په دې توګه د الله پېغمبرﷺ ټول دنيوي معيارونه يو په بل پسې له منځه يوړل او د ژوند په ټولو چارو کې يې فضيلت اوتقوى دغوره والي معيار وګرځاوه. په داسې توګه چې له هجرت څخه وروسته يې د مسلمانانو ترمنځ "مواخات" يعنې ورورګلوي قايمه کړه او خپل تره، حضرت حمزه بن عبدالمطلب اوخپل آزاد شوى غلام، زيدبن حارثه يې ورونه وګرځول، لکه: څرنګه چې يې د خالدبن رويحه خثعمي او حبشي بلال ترمنځ ورورګلوي قايمه کړه. زيد بن حارثه آزاد شوى غلام يې د "مؤته" په جنګ کې په داسې حا ل کې د درې زريز لښکر قوماندان وټاکه چې د خالدبن وليد په شمول د مهاجرينو او انصارو يو زيات شمېر مشران د ده تر قيادت لاندې وو. په دې جنګ کې زيد بن حارثه د امير په توګه وټاکل شو. بيا د ده له شهادت څخه وروسته جعفر بن ابي طالب او بيا عبد الله بن رواحه انصارى په ترتيب سره د لښکرقوماندانې په غاړه واخيسته. همدارنګه د اسلام خورې پېغمبرﷺ د ژوند په وروستيو ورځوکې اسامه د زيد بن حارثه اتلس کلن ځوان زوى رضي الله عنهما له روميانو سره په جنګ کې د اسلام د لښکر قوماندان وټاکه او لوى لوى شخصيتونه، لکه: ابوبکر صديق، عمرفاروق، سعد بن ابي وقاص اوداسې نورو په دې لښکر کې حضور درلود. همدارنګه

د اسلام پېغمبرﷺ د سلمان فارسي په هکله اعلان وکړ: **"سلمان منا أهل البيت"** يعنې سلمان زما د اهل بيت څخه دی.

دا او لسګونې نورې واقعې د مسلمانانو د برابرۍ او د ايمان او تقوی له مخې د ارزښت او غوره والي نمونې دي، چې د اسلام پېغمبر او راشدو خلفاوو او اصحابو کرامو پلې کړي دي.

د لوست ګټې او لارښوونې

❖ د فضيلت اوغوره والي اساس او معيار ايما ن او تقوی ده.

❖ په دې آيتونو کې د پروردګار په نزد د نبي کريمﷺ مقام اومرتبه بيان شوې ده او الله تعالی په خپل غوره شوي رسول د غايب په صيغه ملامتيا ويلې ده.

❖ د نبوت د عالي ادب بيان، له دې واقعې وروسته به چې کله عبد الله بن ام مکتوم د رسول اللهﷺ حضورته تشريف راوړ، هغه به ورته ځای چمتو کاوه او خپل مبارک څادر به يې د هغه د کيناستلو لپاره غوړولو او د هغه درناوی به يې کاوه.

❖ پېغمبرﷺ د الهي وحې د تبليغ امين و. ام المومنين عايشې رضی الله عنها فرمايلي دي: که چېرې د الله رسول له وحې څخه څه پټولی ، نو پرځان به يې الهي ملامتيا د العبس په سورت کې پټه کړې وای.

پوښتنې

۱. د لاندې کلمو معنا واضحه کړئ:

(عَبَسَ- تَوَلَّى- يَزَّكَّى- يَذَّكَّر- اسْتَغْنَى- تَصَدَّى- تَلَهَّى)

۲. د العبس سورت د لومړنيو آيتونو د نزول لامل په لنډه توګه واضح کړئ.

۳. عبدالله بن ام مکتوم څوک و؟

٤. پېغمبرﷺ د عبد الله بن ام مکتوم پوښتنو ته ولې ځواب ور نه کړ او له ده څخه يې مخ وګرځاوه؟

٥. له دې واقعې وروسته پېغمبرﷺ له عبدالله بن ام مکتوم سره څرنګه چلن کاوه او څه به يې ورته ويل؟

٦. د عبس سورت د آيتونو د نازليدو واقعه د اسلام په مقدس دين کې کوم اصل ثابتوي؟

۷. د مسلمانانو ترمنځ مساوات او د غوره والي معيار د تقوا پر اساس دی، د دې اصل د پلي کېدو څو نمونې د اسلام له تاريخ څخه بيان کړئ؟

د مؤمنانو يووالى

قال الله تعالي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ ۞ وَكَيْفَ تَكْفُرُونَ وَأَنْتُمْ تُتْلَى عَلَيْكُمْ آيَاتُ اللَّهِ وَفِيكُمْ رَسُولُهُ وَمَنْ يَعْتَصِمْ بِاللَّهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ۞ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ۞ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ۞ وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۞ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ [آل عمران: ١٠٠-١٠٥]

د ځينو كلمو معناوي

فَرِيقًا: طايفه، ډله

يَرُدُّوكُمْ: بېرته ګرځوي تاسې.

يَعْتَصِمْ: په قوت سره منګولې نښلوي

حَقَّ تُقَاتِهِ: حقيقي تقوا، د الله ﷻ په اوامرو اونواهيو کې خپل وس لګوي.

بِحَبْلِ اللَّهِ: د خداى ﷻ په رسۍ يعنې قرآن او اسلام.

شَفَا حُفْرَةٍ: د ژور ځاى(کندې) غاړه او څنډه چې سړى په لږ غفلت کولو سره پکې لوېږي.

ژباړه

اى مؤمنانو،که تاسې ددې اهل کتابو ديوې ډلې خبره ومنئ، نو دوى به تاسې له ايمان نه بېرته دکفر لورې ته واړوي، ستاسې لپاره دکفر لورې ته دراتګ اوس څه ځاى پاتې دى چې تاسې ته د الله ﷻ آيتونه لوستل کېږي اوستاسې په منځ کې دهغه رسول ﷺ موجود دى؟ څوک چې د الله ددين لمنه کلکه ونيسي، هغه به هرومرو سمه لار ومومي.

اى مؤمنانو له الله ﷻ نه داسې ووېرېږئ، لکه: څرنګه چې له هغه څخه د ويريدو حق دى، تاسې ته دې مرګ رانشي مګر په داسې حال کې چې مسلمان اوسئ.

ټول يوځاى د الله ﷻ رسۍ کلکه ونيسئ او تيت پرک کېږئ مه، د الله ﷻ هغه پېرزوينه دريادە کړئ چې تاسې يود بل دښمنان وئ، هغه ستاسې په زړونو کې مينه واچوله او د هغه په مهربانۍ

او لورينه تاسې سره ورونړه شوئ، تاسې يوې له اوره ډکې کندې پر غاړه ولاړ وئ، الله تاسې ور څخه وژغورلئ، په دغه شان الله ﷻ خپلې نښانې تاسې ته څرګندوي چې په سمه لاره شئ.
په تاسې کې بايد څه خلک هرومرو داسې وي چې د نيکۍ لوري ته بلنه، په ښو امر او له بدو منع وکړي. کوم خلک چې دا کار کوي همدوی بريالي دي.
او تاسې د هغو خلکو غوندې نشئ چې په ډلو ووېشل شول او له روښانه او څرګندو لارښوونو مېندلو نه وروسته په شخړو کې اخته شول او د همدوی لپاره ستر عذاب دی.

د نازلېدلو سبب

مفسرينو کرامو ويلي دي چې ذکر شوي مبارک آيتونه د دوو تنو مسلمانو انصارو په باره کې نازل شوي دي چې يو يې اوس بن قيظی د اوس له قبيلې څخه او بل يې جبار بن صخر د خزرج له قبيلې څخه و. د دوی د واقعې لنډيز داسې دی: يوه ورځ د اوس او خزرج د انصارو مسلمانانو يوه ډله خلک په مدينه منوره کې د مينې او محبت په فضا کې په خبرو مشغول وو. په دې وخت کې د يهودو يو بوډا سړی د شاس بن قيس په نامه پردوی تېريده. شاس چې د اسلام او مسلمانانو په نسبت يې ډېره بدبيني او کرکه درلوده، نو د دې ډلې مسلمانانو ترمنځ مينې او محبت لا ډېر کرکجن او غوسه کړ او دايې انګېرله چې که دا مينه او محبت د مسلمانانو ترمنځ دوام وموميِ، نو زمونږ سوکالي به له خطر سره مخ شي. په دې وجه ده يوه ځوان يهودي ته امر وکړ چې د مسلمانانو ډلې ته ورشي او د اوس او خزرج ترمنځ د پخوانيو جنګونو خبرې رامنځ ته کړي او د بعاث له جنګه څو شعرونه زمزمه کړي. ځوان يهودي د ده د امر موافق عمل وکړ او وتوانيده چې د انصارو د محبت او مينې ډک مجلس د عصبيت او تربګنې او د اوس او خزرج ترمنځ په فخر او ويارنو او يو په بل ځان غوره ګڼلو بدل کړي. په نتيجه کې دواړو قومونو تورې راواېستې او جګړې ته چمتو شول. په دې وخت کې د اسلام پېغمبر ﷺ ته خبر ورسيد. هغه له يوې ډلې مهاجرو صحابه وو سره راغی او دوی ته يې داسې خطاب وکړ: ای د مسلمانانو ټولیه! له الله ﷻ څخه ووېرېږئ! آيا په داسې حال کې چې زه ستاسو په منځ کې موجود يم، تاسو د جاهليت شعارونو ته مخه کوئ؟ وروسته له دې چې الله ﷻ تاسې ته د اسلام هدايت در په برخه کړ او په هغه سره يې تاسو ته عزت درکړ او جهالت يې درڅخه لرې کړ، له کفر څخه يې وژغورلئ او ستاسو ترمنځ يې مينه او محبت پېدا کړ. ددې اغېزناکو خبرو په اوربدو ټولو وسله پر ځمکه وغورځوله، په ژړا او زاريو يې يو بل په غېږ کې ونيول او له پېغمبر ﷺ سره خپلو کورونو ته ولاړل. په دې توګه يې د الله ﷻ دښمن شاس فتنه او دسيسه شنډه کړه او دا مبارک آيتونه نازل شول چې دا ورځ په (بدترين پيل او بهترين پای) ونومول شوه[1].

۱- التفسير الوسيط للطنطاوی ، تفسيرآيت ۱۰۲ سورهء آل عمران.

تفسیر

د دښمن له دسیسو او تدبیرونو څخه خبرتیا

په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانو ته خطاب کوي چې هرکله تاسې د اهل کتابو ځینو خبرو او غوښتنو ته غوږ ونیسئ او هغو ته تسلیم شئ، نونه یوازې ستاسې ترمنځ تفرقه او دښمني پیدا کوي بلکې زیار باسي چې تاسې له ایمان څخه بېرته کفر ته وګرځوي.

بیا قرآن کریم بیانوي چې اصلا د مؤمن لپاره معقوله او ښه خبره نه ده چې له داسې ډلو ټپلو څخه پیروي وکړي، یا دا چې پس له ایمانه کافر شي او له یووالي وروسته اختلافاتو او بې اتفاقیو ته لمن ووهي. مبارکو آیتونو د انکار په صیغه بیان کړی چې څرنګه ممکنه ده تاسو مؤمنان داسې کارته اقدام وکړئ؟ په داسې حال کې چې د الله ﷻ آیتونه نوي او تازه تاسو ته نازلیږي او د الله ﷻ رسول ستاسو په منځ کې شتون لري چې که چېرې په غلطه لاره ولاړ شئ د حق لارې ته مو راګرځوي او ستاسو شکونه او شبهې له منځه وړي.

وروستیو آیتونو لارښوونه کړې چې د پېغمبر ﷺ له رحلت څخه وروسته د یهودو او نورو دښمنانو له مکرونو او چلونو څخه د ځان ژغورنې یوازنۍ وسیله الله تعالی ته ستنیدنه، په هغه توکل او د هغه په دین منګولې لګلول دي چې انحراف او کوږوالی پکې نشته ﴿وَمَن يَعْتَصِم بِاللهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾. په دې مبارک آیت کې دې ته اشاره ده کومو مؤمنانو چې پېغمبر ﷺ نه وي لیدلای، هر کله چې د الله ﷻ په دین او کتاب منګولې ولګوي او په هغه ځان ملزم وګڼي، نو د دښمنانو له چلونو او غولونو څخه به په امن کې وي. له دې امله الله تعالی بیاهم مؤمنانو ته امرکوي چې خاص له الله تعالی څخه ووېرېږي او د اسلام د دین پابند واوسي او ترمرګه د اسلام له دین او ملت څخه پرته بل دین او ملت ته مخه ونه کړي.

د خلاصون او کامیابۍ رسۍ

وروسته له دې چې قرآني آیتونو مؤمنانو ته د تقوا او د الله ﷻ د ویرې او د الله ﷻ د امر مننې او پیروۍ کې د ژوند تېرولو امر وکړ، دوی یې په اسلام او قرآن باندې التزام کولو او په هغه باندې منګولو ښخولو ته راوبلل، فرمایي: ﴿واعتصموا بِحَبْلِ الله جَمِيعاً وَلاَ تَفَرَّقُواْ﴾ یعنی ټول د الله ﷻ په رسۍ منګولې ښخې کړئ او په خورو ورو لارو مه درومئ. د حبل(رسۍ) کلمه هغه وسیله ده چې د هغې ټینګ نیول د پورته کېدو او ښکته کېدو، له غرقېدو څخه د ژغورنې او نورو موخو د لاس ته راوړلو لپاره کارول کېږي.

دلته د الله ﷻ له رسۍ څخه مراد د الله ﷻ دین، د الله ﷻ ژمنه او د الله ﷻ کتاب دی چې په هر یوه منګولې ټینګول انسان خلاصون او بریا ته رسوي. په دې مبارک آیت کې د مؤمنانو یووالی او د الله ﷻ په دین او کتاب باندې منګولې لګول د هغې ډلې سره تشبیه شوي دي چې

په يوې قوي او ټينګه رسۍ يې منګولې لګولې وي او له هر ډول خطر، غورځېدو، غرقيدو او هلاکت څخه خوندي او په امن کې وي.

امام فخرالدين رازي ددې آيت په تفسير کې فرمايي: که څوک په يوه نرۍ لار حرکت کوي اوله ښوېدو او غورځېدو څخه وېريږي، نو د ناچارۍ له وجې په يوه داسې رسۍ منګولې نښلوي چې له دواړو خواوو څخه ټينګه ټرل شوې وي، ترڅو خپل ځان خوندي وساتي. د حق لاره نرۍ او باريکه ده او ډېر ځله ورڅخه پښې ښويږي، نو هر چا چې د الله ﷻ په نښو او لارښوونو منګولې ټينګې کړې، ځان يې د ښوېدو او غورځېدو له خطر څخه خوندي کړ[1].

بيا قرآني آيتونو مؤمنانو ته د يووالي، مينې، محبت، او ايماني ورورګلوۍ د نعمت په يادولو امر کړی چې تاسو مخکې له اسلامه يو د بل دښمنان وئ او يو د بل په له منځه وړلو بوخت وئ، خو د الله تعالى فضل او مهرباني پرتاسو وشوه او په تاسوکې يې اسلامي ورورولي، مينه، محبت، دوستي او مرسته پيدا کړه، نو بايد د دې لوی نعمت شکر په ځای کړئ.

د لوست ګټې او لارښوونې

❖ د مخکيني لوست په آيتونوکې الله تعالى پېغمبر ﷺ ته امر وکړ چې يهودو ته خطاب وکړي خو په دې آيتونو کې يې مؤمنان په خپله مخاطب کړل چې دا کار د مؤمنانو په قدر او عزت دلالت کوي.

❖ په مبارک آيت کې يې د مسلمانانو ترمنځ په تفرقه او دسيسه پيدا کولو کې د اهل کتابو يوه ډله ياده کړه، ترڅو ټول اهل کتاب په دې کار کې شامل نشي. دا کار په خپله د قرآن کريم د آيتونو په حقانيت او انصاف دلالت کوي.

❖ مبارک آيتونه د مؤمنانو په قدر او درناوي او د فتنه اچوونکو يهودو په نا امېدۍ دلالت کوي او دايې واضحه کړې چې، ترڅو د الله ﷻ کتاب او د هغه پېغمبر ﷺ د مسلمانانو په منځ کې موجود وي، دوی نشي کولای خپلو ناوړو غوښتنو ته ورسېږي.

❖ د يهودو او نصاراوو پيروي او امر منه او د دوی د مشرانو په پلانونو عمل کول مسلمانان کفر ته راکاږي، نو مسلمانان بايد ځان د دوی له دسيسو څخه وساتي.

❖ خلاصون او کاميابي د الله ﷻ په کتاب او د رسول ﷺ په سنتو باندې په منګولو لګولو او پابندۍ کې نغښتې ده، نوهرڅوک چې پرهغو منګولې ټينګې کړي له ګمراهۍ او هلاکت څخه نجات مومي.

❖ د اسلام په دين منګولې ټينګول او ځان د هغه په احکامو پابند ګڼل واجب او اختلاف او تفرق حرام دی.

۱- تفسير مفاتيح الغيب (تفسير کبير) ج۸ /۱۷۷.

❖ د شرک او ګناهونو ارتکاب انسان د جهنم کندې ته غورځوي، کـه څـوک پـه دې حالـت کې ومري د الله ﷻ په حکم او فیصله حتماً جهنم ته داخلیږي.

❖ له اسلامي امت څخه د یوې داسې ډلې شتون چې نور خلک او ملتونه اسلام تـه راوبـولي او د اسلام د دښمنانو په وړاندې د الله ﷻ د دین له حریم څخـه دفـاع وکـړي او د امربـالمعروف او نهی عن المنکر فریضه ادا کړي، یوه اړینه خبره ده.

پوښتنې

۱- د لاندې کلمو معناوې وواياست:

(يَعْتَصِمْ- حَقَّ تُقَاتِهِ- بِحَبْلِ اللَّهِ- شَفَا- حُفْرَةٍ)

۲- ددې مبارک آیـت ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ﴾ د نزول لامل په لنډه توګه وواياست؟

۳- د اوس او خزرج قبیلو چېرته ژوند درلود؟ له اسلام نه مخکې او وروسته لـه اسـلامه، د دوی د اړیکو په هکله لنډ معلومات راکړئ.

۴- پـه مبـارک آیـت کـې لـه رسـی څخـه مـراد څـه دی او څرنګـه پـه هغې منګـولې ټینګـول د خلاصون او بریا سبب کیږي؟

۵- د اهل کتابو د مشرانو پیروي څه حکم لري او د مسلمان برخلیک کوم ځای ته رسوي؟

۶- مبارک آیت ﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ...﴾ په څه دلالت کوي؟

کورنۍ دنده

(په اوسني وخت کې د اسلامي امت یووالي ته اړتیا) تر سرلیک لاندې دوه مخه مقاله ولیکئ.

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى آله و أصحابه أجمعين، و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين